


Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه

|||||||||||||||||||||||||||||||||||

کتاب : د نږۍ ولسي کیسې

لیکواله : صفیه حلیم

چاپکال : 1384ل/2005م کال

چاپشمېر : (1000) ټوکه

کمپوز : د هوسۍ مجلې اداره

ډیزاین :صالح محمد صالح

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

ماشوم چې کله په خبرو پیل وکړي،نو کیسې اوري، کیسې کوي او له کیسو څخه خوند اخلي. په دې نړۍ کې د انسان له ژوند سره کیسې هم پیل شوې دي. هغه وخت چې انسان په ځمځو کې اوسېده، کیسې یې کولې، د کوریا د قبیلې غړي به د ماښام تر ډوډۍ وروسته تر اور چاپېره کښېناستل او کیسې به یې کولې. بیا دا کیسې له یوې قبیلې څخه بلې ته ورسېدې.

وړونکي یې مسافر، سوداګر، سرتېري او جنګي بندیان وو. کډوالو به له خپلوسیمو کډه وکړه، نو د کور له بار سره به یې کیسې هم له ځان سره یوورې.

بیا چې لیک او لوست پیل شو، نو ځینې کیسې ولیکل شوې. نورو ژبو ته یې کډه وکړه. ورو- ورو ځینو په کې دومره شهرت وموند، چې هېوادونو وربانديې دعوې وکړې، چې دا کیسه ددوی د سیمې ده. کیسه هماغه وي، د اتلانو نومونه یې بدل وي. خو پر ولسي کیسو هېڅوک دعوه نه شي کولای، دا د انسان ګډه شتمني ده.

د دې کیسو جوړوونکي معلوم نه دي. چا په کوم وخت کې یوه کیسه واورېده، څه یې په کې هېر کړل، څه یې له ځانه جوړ کړل، خو کله- کله اصلي کیسه او د هغې پیغام پرځای پاتې وي .

په دې ټولګه کې د نړۍ د ځینو سیمو کیسې شاملې دي. دا کیسې ژباړه نه ده. کیسه مې په یوه یا بله ژبه کې ولوسته او بیا مې دپښتو ژبې لوستونکو ته ولیکله.

په ځینو کیسو کې پند او نصیحت شته، ځینې یوازې د انسان احساسات، د هغه کمزورې او د هغه ارمانونه څرګندوي .

داسې کیسې اوس هم ویل کېږي او تر هغه مهاله چې ولسونه ژوندي وي،ولسي کیسې به هم ژوندۍ وي.

په درناوي

صفیه حلیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هيليو جهيل- د جرمني کيسه

سيګ فريډ نومي شهزاده په يوې ښکلې ماڼۍ کې له خپلې مورسره يوځاى ژوند کاوه. کله چې دى د يوويشتو کلونو شو، نو ملکې د ده لپاره يو لوى جشن جوړ کړ. په اروپا کې يوويشتم کال دا معنى لري، چې هلك يا جينۍ ځوان شو او د واده جوګه دي. نو ځکه د شهزاده مور خپل زوى ته وويل: �زه غواړم چې په دې جشن کې ته د خپل ژوند ملګرې غوره کړې. د مېلمستيا لپاره د ملك ټولو لويو لويو خلکو ته بلنه ورکړل شوې وه او دوى به د خپلو لوڼو او خويندو سره په کې ګډون کوي�. ستا که هره جينۍ خوښه شوه، نو د هغې لاس ښکل کړې، زه به پوه شمه چې همغه جينۍ ستا خوښېږي. د جشن په ورځ ټول مېلمانه په ماڼۍ کې راټول وو، د ماڼۍ په څنګ کې يو ځنګل و، چې په دې ځنګل کې د اوبو يو لوى جهيل و. سيګ فريډ ټوله ورځ له مېلمنو سره تېره کړې وه او يوه جينۍ يې هم نه وه خوښه شوې. هغه خپل نژدې ملګري بينو ته وويل چې څه پلمه جوړه کړي، چې له ماڼۍ نه ووځي. بينو ټولو مېلمنو ته اعلان وکړ چې دوى به د مازيګر د لمر د ډوبېدو پر وخت له خپلو غشو او ليندو سره ځنګل ته ورځي او هلته به په جهيل کې د هيليو ښکار کوي. هيلۍ به هرماښام د ځنګل جهيل کې راکوزېدې او سهار به الوتلې. هغه مېلمانه چې د ښکار شوقيان وو، له شهزاده او د ده ملګرو سره له ماڼۍ څخه راووتل. له ټولو سره خدمتګاران هم وو. دوى چې په ځنګله کې جهيل ته ورسېدل، نو څه ګوري چې د اوبو په بله غاړه هيليو خپلې وزرې پرانيستې او په ارامه ناستې وې. ټولو ځوانانو خپلې ليندۍ راوايستلې او غشي يې ورباندې برابر کړل، خو د سترګو په رپ کې ټولې هيلۍ له هغه ځايه ورکې شوې. دوى حيران پاتې شول. چا ويل اوس د ماښام تيارې په خپرېدو دي، نو ځکه هيلۍ نه ښکاري. بينو د مېلمنو په ګڼه ګوڼه کې شهزاده نه ليده، اخوا دېخوا يې وکتل، چې له هغه سره خبرې وکړي. خو شهزاده ورك و. ده د شهزاده په لټون يو څو خدمتګاران ځنګل ته ورواستول، په خپله يې له مېلمنو څخه معذرت وغوښت او دوى ته يې وويل: تاسو بېرته ماڼۍ ته ورشئ، داسې معلومېږي، چې اوس ناوخته دى او هيلۍ په ځنګل کې پټې دي. ټول مېلمانه له هغه ځايه لاړل، په دې وخت کې د هيليو يوه جوپه د جهيل له بلې غاړې راوالوتله او بينو چې لينده ورته برابروله، څه ګوري چې هره يوه هيلۍ چې پښې يې پر مځکه لګېدلې، د يوې ښکلې جينۍ په شکل به بدله شوه. په دې وخت کې شهزاده هم راښکاره شو. د هغه د قدمونو په ښکالو ټولې جينکۍ د ونو او بوټو شا ته پټې شوې. خو د دوى سپينې جامې په تيارو کې لکه د هيليو د سپينو وزرو په شان ښکارېدې .

شهزاده او بينو دواړه هك پك ولاړ وو، چې څه وکړي. په دې وخت کې يوه ښکلې جينۍ چې د هيليو په شان سپينې جامې يې په غاړه وې راوړاندې شوه او شهزاده ته يې وويل: "مورږ ته زيان مه رسوئ، زما نوم اوديت دى. يو ظالم جادوګر زه او زما ملګرې په هيليو بدل کړې وو. زه ملکه ومه او دې جادوګر چې وان رات برډ نومېږي، ما سره واده غوښتو، کله چې مې انکار وکړ، نو داسې عمل يې راباندې وکړ، چې زه او زما ملګرې ټوله ورځ د هيليو په بڼه وګرځو. ماښام بيا انسانان شوو، شهزاده ترېنه تپوس وکړو، چې دا جادوګر کوم ځاى اوسېږي". اوديت ورته وويل دى هر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت له موږ سره وي او د ښاپېرۍ په شان زموږ ځارنه کوي. هر چېرې چې ورځو، دی راسره ګرځي. شهزاده بيا پوښتنه وکړه چې جادوګر به څنګه له منځه ځي؟ اوديت ورته وويل: دا دې ډېر سخت شرط دی. يو داسې ځوان چې مخکې يې چا سره مينه نه وي کړې، بايد له ما سره واده وکړي. سيګ فريډ ورته وويل: زه به له تا سره واده کوم او له دې جادوګر څخه به دې خلاصوم. اوديت خوشحاله هم شوه او خواشينې هم. هغې وويل: "ته به سبا د واده لپاره د جينۍ غوره کولو اعلان کوې. هغه وخت به زه د هيلۍ په بڼه يم. جادوګر به په دې وخت کې زيار باسي چې تا وغولوي". سيګ فريډ ورته وويل: "ما هېڅوك نه شي دوکه کولای. زه به سبا د ټولو مېلمنو په وړاندې تا سره د واده اعلان کوم". په دې وخت کې ناڅاپه د يوې ښاپېرۍ غږ واورېدل شو اوديته لاړه او په ونو کې پټه شوه. په بله ورځ ماڼۍ ته ډېر مېلمانه راغلل، د جشن درېيمه ورځ وه او له دود سره سم به سيګ فريډ نن د خپل واده اعلان کاوه. ټول په تلوسه کې وو، چې کومه جينۍ به د هغه ملکه شي. شهزاده د اوديت په هکله فکر کاوه.

په دې کې پيره دارانو اعلان وکړ، چې يو څو مېلمانه اوس رارسېدلي دي. د ټولو سترګې د دربار لويې دروازې ته وې، چې يوه جينۍ په تکو سپينو جامو کې له يوه سپين ږيري سره رانتوتله. د سپين ږيري تورې جامې په غاړه وې او د جينۍ لاس يې داسې نيولی و، چې معلومېده دا به يې لور وي. د سيګ فريډ باور نه کېده، چې اوديت به په خپله د هغه دربار ته راځي. دی په منډه لاړ او د هغوی هرکلی يې وکړ. خو هماغه شېبه د دې لوی دربار د هرې کړکۍ په شيشو يوه هيلۍ به بيا بيا راښکاره شوه او خپلې وزرې به يې وخنډلې. شهزاده دا هيلۍ نه ليدله. د هغې سترګې دې ښکلې جينۍ ته وې، چې سيګ فريډ ته موسېده. شهزاده نور انتظار نه شو کولای. هغه ژر د دې جينۍ لاس ښکل کړ، سملاسي د ماڼۍ ټولې رڼاګانې مړې شوې او په تکه توره تياره کې يو ښاپېرك د مېلمنو په سر تاو راتاو وڅرخېد او بهر والوتلو. شهزاده پوه شو، چې ده غلطي کړې وه، ځکه له کړکۍ نه بهر هيليو هم هماغسې وزرې څنډلې. هغه ځنګل ته منډه کړه، د جهيل په اوبو کې هېڅ هم نه وو. خو پاس په هوا کې هيلۍ ناارامه ګرځېدې. شهزاده د اوبو پر غاړه کېناست او د ماښام په انتظار شو. کله چې لمر په ډوبېدو شو، نو د جهيل پر بله غاړه اوديت له خپلو ملګرو سره د انسان په شکل بدله شوه. اوديت خپلو ملګرو ته وويل: زه نور ژوند نه غواړمه. ځکه د انسان په شکل د ورځې رڼا کې موږ نه شو ګرځېدای. يوه هيله وه چې شهزاده سيګ فريډ به موږ له دې حالته وباسي. خو هغه هم وغولېد، زه هم اوس خپل ځان د انسان په شکل کې وژنم، چې له تاسو هم دا سپېره عمل مات شي. د اوديت ملګرو ډېره هڅه وکړه چې دا ايساره کړي، خو هغه ورو ورو د جهيل اوبو ته ورکښته شوه. شهزاده د اوبو بلې غاړې ته چې رسېدو، نو اوديت په اوبو کې پټه وه. او کله چې د دې مړ وجود په سپينو جامو کې د اوبو له پاسه راښکاره شو، نو هماغه وخت يو ښاپېرك د جهيل له پاسه والوتلو، شهزاده خپله توره راوايستله او په خپله سينه کې يې ښخه کړه. له دې سره ښاپېرك هم په يوه سپېره غږ مځکې ته راولوېد او مړ شو. د جادوګر عمل مات شوی و. د سهار په رڼا کې خلکو وليدل، چې د جهيل له لورې د جينکو يوه جوپه راروانه ده. خو په جهيل کې دوه سپينې هيلۍ څنګ تر څنګ روانې وې. خلك اوس هم باور لري، چې سيګ فريډ او اوديت تر اوسه د هيليو په شان ژوندی دی او په اوبو کې کله چې جوړه روان وي، نو د دوی ويشتل نه دي په کار.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## انسان - [د جاپان کیسه]

وايي چې ډېر کلونه کېږي په جاپان کې يو سنګتراش (ډبر توږونکی) اوسېده. ده به له لويو لويو سختو غرونو نه کاڼي راماتول او بيا به يې په بازار کې خرڅول. د ده د کاڼو پېرودونکي زياتره هغه دکانداران وو، چې يا به يې ترې بوتان جوړول او يا د مقبرو ځلي. دی په خپل کار ډېر رسېدلی و او په مهارت به يې داسې کاڼي له غره بېل کړو، چې ساری يې نه درلود. دی به سهار وختي د خپلو اوزارو سره د غرونو پر لوري روان شو او چې کاڼي به يې رابېل کړل، نو بيا به يې ورپسې د خر يا د اسپې ګاډی يووړ. په غرونو کې به زياتره يوازې په کار اخته وو. کله- کله به ماښام دی د خپلو ملګرو سره کېناستو او د چايو له څښلو سره به يې يو بل ته کيسې کولې. ځينو به ورته وويل: "موږ اورېدلي دي، چې په غرونو کې ښاپېرۍ اوسېږي او د خلکو ارمان پوره کوي. سنګتراش به ورته وخندل، چې دا هسې خوشې خبرې دي. ښاپېرۍ وجود نه لري، يوه ورځ ده ته د يوه شتمن سړي له کوره فرمايش راغی، چې دوی ته يوه لويه تيږه په کار وه. د شتمن سړي ښځه مړه شوې وه او د هغې د قبر لپاره يې ورته د شناختې کاڼي په کار وو. سنګتراش ټوله ورځ له غره نه په حساب برابره يوه تيږه رابېله کړه، په خرګاډي کې يې بار کړه او د شتمن سړي کور ته يې ورسوله. کله چې ده په کور کې دننه شيانو ته پام وکړ، نو حيرانه پاتې شو، ده په خپل ژوند کې چېرې داسې ښايسته کور او دومره ښکلي شيان نه وو ليدلي. دی چې بېرته خپل کور ته لاړ، نو له خپل ژونده خوښ نه و. په بله ورځ چې کار ته لاړ، نو خپل ستړك او تېشه ورته درانه معلومېدل. سترګو ته به يې بيا بيا هغه ښايسته کور درېده. نن له سهاره ده ځان ستړی احساساوه. يو سوړ اسويلی يې وکړ او هملته د غره په لمن کې کېناست. له ځان سره يې ډېر په ارمان ارمان غږېده. چې کاشکې زما هم يو ښکلی کور وای...ما به هم په ارام ژوند تېرولای... ايا زما په نصيب کې خوشحالي نه شته. په دې کې ناڅاپه له يوې تيږې نه غږ رااوچت شو. "ستا دا ارمان هم اوس پوره کېږي... نن نه ته شتمن شوې". سنګتراش وارخطا شو. يوې او بلې خوا ته يې وکتل، خو هېڅوك ورته ښکاره نه شول. ده له ځانه سره وخندل او ويې ويل: "زه هم لکه چې لېونی شوم" د ده کار ته ډېره نه لګېده نو بېرته يې خپل کور ته مخه کړه. کور ته چې رسېد، نو څه ګوري چې د هغه د جونګړې پرځای يو ښايسته کور جوړ دی او په کې نوکران ګرځي راګرځي. ده فکر وکړ، چې غلط ځای ته راغلی دی. خو په لويه دروازه ورته دربان ولاړ و. چې ده ته يې په ډېر ادب هرکلی ووايه او دروازه يې ورته پرانيستله. سنګتراش ته په غره کې هغه غږ وريه زړه شو، چې ده خپل وهم ګاڼه. په کور کې دننه رنګارنګ خواړه ايښي وو. ښځه او اولادونه يې په ښايسته جامو کې پټ وو. دی ډېر زيات خوشحاله شو، بله ورځ سهار پاڅېد او په ارامه يې ورځ تېره کړه. مازيګر مهال د خپل ښايسته کور په کړکۍ کې ولاړ و، بهر د لارې ننداره يې کوله. سخته ګرمي وه، په دې کې څه ګوري چې يوه شهزاده په خپلې ښکلې ګاډۍ کې روان و او نوکرانو وربانديې چتر (سايه وان) نيولی و. سنګتراش چې دا وليدل، نو په خپل ځان پورې خپه شو. ارمان يې وکړ، چې کاشکې زه يو شهزاده وای، نو هرځای کې به رابانديې نوکرانو سيوری کاوه. اوس خو د ګرمۍ له لاسه بهر نه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمه وتلای. په بله ورځ سهار چې دی له خوبه راویښ شو، نو ډېر نوکران ورته ولاړ و. دوو خدمتګارانو ورته ببوزي وهل او دوو نورو ورته شاهي لباس نیولی و. دی پوه شو چې د ده دا دویم ارمان هم پوره شوی دی. د ډوډۍ خوړو نه وروسته دی له کوره ووت، په خپلې شاهي ګاډۍ کې کېناست او ډېر په شان د ښار په سړکونو روان شو. د ده پر سر لوی چتر و، خو بیا هم د لمر حرارت دومره ډېر و، چې د ده خوله وچه شوه. ډېرې اوبه یې وڅښلې، خو ګرمي نه کمېده. په لاره کې یې ولیدل چې هر شی د لمر په تاو کې سوځېدلي وو، دی چې کور ته لاړ، نو له خولې یې بې واره دا خبره راووتله، چې داسې ښکاري ټول قدرت له لمر سره دی. کاشکې زه لمر وای. ددې خبرې له کولو سره سم چې هغه سترګې ورپولې، نو ځان یې بره په اسمان کې ولید. اوس دی لمر شوی و. د خپل زور د ازموینې لپاره ده خپل ټول حرارت وکاراوه. ویالې وچې شوې، په ځنګلونو کې اور بل شو او د ښکلو ښکلو شهزادګانو دا حال شو، چې بېهوشه پراته وو. سنګتراش ډېر وخت د خپل طاقت نه خوند اخیست. خو په دې کې نابېره ده خپل ځان سوړ احساس کړ، مخې ته یې ورېځې ولاړې وې او د ده یوه پلوشه هم مځکې ته نه رسېده. ده ډېر زور وواهه، خو له ورېځو نه، نه شو تېرېدای. دی سخت په قهر شو او په چیغه یې ووې: "له ما نه زیات قوت خو له ورېځو سره دی، کاشکې زه د تورو ورېځو یوه ټوټه وای". له دې وینا سره سمدستي هغه احساس وکړو، چې په هوا کې الوزي.

اوس دی د ورېځو برخه ګرځېدلی و. د ده مخې ته به چې لمر راغی، نو ده به ورباندې سیورې وکړ او هماغه ځای کې به واورېد، د خپل زور د ازموینې لپاره یې ځینو ځایونو کې دومره اورښت وکړ، چې سېلابونه راغلل. ویالې ډکې شوې، هر څه په اوبو لاهو شول، پوره پوره کلي یې وران کړل او د خپل زور په لیدو به یې له خوشحالۍ نه په زوره زوره خندل. نابېره یې په یوه ځای کې هاغه غر چې ده به ترېنه کاڼي راتوړل ولیده، چې له خپله ځایه نه خوځېده، ده ورباندې ښه بارن واوراوه. خو غر هم هماغسې پرځای ولاړو. سنګتراش بیا نارامه شو، ده ارمان وکړ چې له ورېځو نه زیات زور خو په غرونو کې دی. کاشکې زه غر وای. دا خبره یې چې وکړه، نو ځان یې پر مځکه احساس کړ. ښه دروند پر خپل ځای ولاړ و، نه ورباندې باران اثر کاوه، نه لمر. دی اوس خوښ و، خو یو څو شېبې نه وې تېرې، چې د ده دا خوشحالي هم په غم بدله شوه، ځکه ویې لیدل چې یو ځوان سنګتراش تېشه په لاس د ده له ډډې د یوې لویې تیږې په ماتولو سر و. ده ډېر ځان پورته پورته کړ، چې د هغه ځوان لاس ونیسي، خو دومره زور په کې نه و، چې دا کار یې کړی وای. سنګتراش په ژړا پیل وکړ او ارمان یې وکړ، چې کاشکې زه بیا هم هاغه انسان شم، چې پخوا وم. دا خبره به ایله د هغه په شونډو وه، چې کتل یې دی د غره په لمنه کې له خپلو اوزارو سره ناست و. تر ډېره وخته حیران و، چې هغه هرڅه چې په ده تېر شول، خوب و، که رښتیا. بیا یې اسمان ته وکتل او ویې ویل: "که هرڅه وو، یوه خبره ثابته شوه، د انسان نه قوي بل شئ په دنیا کې نه شته. د ه خپل سټك او تېشه راواخیستل او یو وارې بیا یې د کاڼو په توړلو لاس پورې کړ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هوښياره جينۍ- [د چېك كيسه]

يو وخت د چيك سيمې په يوه كلي كې دوه ورونه اوسېدل. په دوی كې يو شتمن او بل خوار و. د خوار ورور يوه لور وه، چې مانكه نومېده. مانكه چې د دوولسو كلو شوه، نو يوه ورځ خپل د تره كور ته لاړه، هلته يې د ښځې سره په كور كې يو څه كارونه چې وكړل، نو هغوی ترې خوشحال شول .

شتمن ورور خپل غريب ورور ته وويل :

"مانكه نور څه كار نه لري.. دا زما كور ته راواستوه، چې كارونه هم زده كړي او زما د ښځې سره به هم لاس كوي"...

د مانكه پلار ډېر غريب و او د هغې ډوډۍ به يې نه شوه پوره كولای. خو دا يې هم نه غوښتل چې لور يې په مفته كې د تره كره كار وكړي. اخر دواړه ورونه په دې رضا شول چې د پيسو په بدل كې به مانكه ته يوه خوسۍ (سخۍ) وركول كېږي. چې دا به يې پالنه كوي او كه ژوندۍ پاتې شوه، نو دا به د مانكه شي .

ورځې تېرېدې، مانكه د خپل تره په كور كې ټول كارونه كول. بيا به يې بهر په ورشو كې له خپلې خوسۍ سره لوبې كولې. ماښام به يې هغه په غوجله كې وتړله، خبرې به يې ورسره كولې او داسې به يې ګڼله چې دا خوسۍ د هغې ملګرې وي...

خوسۍ هم ورسره داسې عادته شوې وه، چې د بل چا له لاسه به يې واښه هم نه خوړل. تر درېيو كالو مانكه د خوسۍ پالنه وكړه او هغه اوس ښه څربه غوا شوې وه... يوه ورځ د پلار له كوره ورپسې څوك راغلل، چې پلار دې ناروغه دی او غواړي تا وګوري. مانكه ناكراره شوه، هغه درې كاله له پلاره لرې وه او اوس يې غوښتل چې بېرته خپل كور ته لاړه شي .

تره يې خبر شو، نو د هغې د سفر لپاره يې تابيا وكړه. مانكه غوښتل چې غوا هم له ځان سره بوځي. خو د هغې د تره نيت ورته خړ شو، غوا ډېره ښكلې او څربه وه... هغه مانكه ته وويل :

"غوا مه بيايه، زه به د هغې په بدل كې تا ته پيسې دركړم."

خو مانكه پيسې نه غوښتلې... د هغې غوا په كار وه او دا يې خپله ملګرې ګڼله... د تره ښځې يې هم نه غوښتل چې دومره قيمتي غوا د دوی له كوره لاړه شي .

مانكه ژړل او دومره خوابدې شوه، چې د تره له كوره يې هېڅ وانه خيستل او د پلار كره لاړه. پلار يې هم خبر شو، چې ورور يې د خپلې وعدې نه سر غړولی دی. چې روغ شو، نو محكمې ته لاړو او په ورور يې دعوه وكړه چې غوا دې د هغې لور ته وركړل شي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



محکمه چې د کوم قاضي عدالت ته وړاندې شوه. دی د مانکه د تره نږدې ملګری و. ځکه دا ورته ګرانه وه چې انصاف وکړي .

خبره ډېره ساده وه. خو د دواړو ورونو ترمنځ چې درې کاله پخوا کومه لوزنامه شوې وه، هغه په کاغذ نه وه ليکل شوې، دواړو سره هېڅ ثبوت نه و.

اخر قاضي يوه بله لاره راوايستله، هغه دواړو ورونو ته درې پوښتنې کېښودې، چې هرڅوک د دې پوښتنو سم ځواب ورته راوړي، نو غوا به د هغه وي. دا درې پوښتنې داسې وې :

.1هغه کوم شی دی، چې تر ټولو تېز او توند دی؟.

.2تر ټولو خوږ شی کوم يو دی؟.

.3تر ټولو شتمن کس څوك دی .

دواړه ورونه خپلو کورونو ته لاړل او په چورت کې شول. شتمن ورور درې واړه پوښتنې خپلې ښځې ته تېرې کړې. ښځې ورته وويل دا خو ډېرې اسانې پوښتنې دي .

.1زمونږ د تور سپي نه تېز او توند به بل څوك وي؟

.2زمونږ له ګبين نه خوږ شی بل نه شته .

.3زمونږ د خزانې هومره شته به بل چا سره وي؟ .

شتمن ورور چې دا ځوابونه واورېدل، نو ډېر خوشحال شو، ښه په مړه ګېډه يې ډوډۍ وخوړه او په ارامه ويده شو. غريب ورور چې خپل کورته لاړ، نو لور ته يې ټوله کيسه وکړه. مانکه ورته وويل:

�بابا! خپه کېږه مه، سبا سهار به زه د دې ټولو پوښتنو ځواب درکړم. اوس ويده شه.�

بله ورځ سهار مانکه خپل پلار ته درې ځوابونه وروښودل، چې داسې وو:

.1د سترګو نه زياته تېزي او تندوالی په بل شي کې نه شته.

.2تر ټولو خوږ شی خوب دی .

.3تر ټولو شتمنه ځمکه ده، چې هر څومره ترې واخلې، د دې خزانه نه کمېږي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړه وورېنه د قاضي عدالت (محکمې) ته حاضر شول. قاضي د دواړو ځوابونه واورېدل او فيصله يې وکړه، چې د غريب سړي ځوابونه زيات منطقي دي... غوا هغه ته ورکړی شوه، خو قاضي غريب سړي نه پوښتنه وکړه، چې دا ځوابونه درته چا درښودلي دي. هغه ورته په وېره وويل :

�زما لور مانکه، چې دا غوا يې تر درېيو کلونو ساتلې وه.�

قاضي ورته وويل: ښه نو سبا ته دې ستا لور زما کور ته په داسې وخت کې راشي، چې نه ورځ وي او نه شپه دې سپره وي او نه پلې او له دې سربېره دې يې هم جامې اغوستې وې او هم نه.

غريب سړی چې دا واورېدل نو وارخطا شو، حيران و چې دا کارونه به څنګه کېږي .

کورته لاړ او مانکې ته يې وويل: �له غوا نه لاس ووينځه، قاضي زما د ورور ملګری دی او نه غواړي چې هغه خوابدی کړي�.

بيا يې د قاضي شرطونه ورته واورول. مانکه وخندل او ويې ويل: �ته غم مه کوه بابا.�

هغې د قاضي د کور لاره معلومه کړه، نيمه شپه چې تېره شوه، نو دا راپاڅېده او ځان يې جوړ کړ، د خامتا يوه زړه بوجۍ يې په غاړه کړه، په يوه پښه يې جورابه کړه او په بله کې بوټ، بيا يوې غټې چيلۍ (اوزې) ته يې ملونه واچول او د قاضي کور ته روانه شوه. هلته چې وررسېده، نو سپېدې په چاودېدو وې .

قاضي هم د دې په انتظار و او ويې ليدل چې جينۍ په چيلۍ (اوزې) باندې ځان بار کړی دی، خو پښې يې پر مځکه راښکلې .

قاضي د دې هرکلی وکړ، په خپل کور کې يې ورته ښه مېلمستيا جوړه کړه او په همدې مېلمستيا کې هغه مانکې ته د واده وړانديز وکړ .

د مانکه پلار خبر شو، نو د خدای شکر يې وايست، شتمن ورور هم ورسره روغه وکړه او مانکه قاضي ته واده شوه.

تر واده وروسته قاضي مانکه ته وويل... زه پوهېږم چې ته ډېره هوښياره يې، خو د يوې خبرې خيال به ساتې، هغه دا چې زما د محاکمو په کارونو به غرض نه لرې. مانکه دا خبره ومنله او په خپل نوي کور کې يې ژوند پيل کړ... هغې د کور د ټولو خلکو خيال ساته، له نوکرانو سره به يې هم په نرمه خوله خبرې کولې .

قاضي د کور ټول واك هغې ته سپارلی و. يوه ورځ قاضي ته يوه دعوه وړاندې شوه. يوه سړي اسپه لرله او بل اس. جګړه د دې پر بچي وه، دواړو غوښتل چې دا بچی دې د هغه شي. د اس خاوند زورور و، د هغه دليل دا و، چې بې له اس نه اسپه بچی نه شي زېږولای. د اسپې خاوند ويل چې بچی له اس څخه زېږېدلی دی او په کار ده چې له مور سره پاتې شي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاضي فيصله وکړه، چې د اس د خاوند په دليل کې وزن شته، نو ځکه به بچی د هغه وي. د کور یو نوکر له دې معاملې خبر و او هغه مانکه ته ټوله کیسه تېره کړه، د اسپې خاوند د هغې له لیرې خپلوانو نه و. مانکه چې دا واورېدل نو د اسپې خاوند سره یې په پټه ولیدل او ورته ویې ویل: ته سبا سهار وختي د مخامخ غره له پاسه د لارې پر سر کښېنه او د کبانو د نیولو هڅه وکړه، قاضي هره ورځ سهار د سیل لپاره پر دې غر خېژي. که له تاپې پوښتنه وکړه، چې په غره کې ماهیان څنګه نیسې، نو ورته ووایه چې که د اس بچی زېږېدلای شي، نو په غرونو کې کبان هم نیول کېدای شي..

بیا یې هغه سړي ته په کلکه وویل چې ګوره په دې هرڅه کې به زما نوم نه اخلې .

په بله ورځ قاضي د چکر لپاره غره ته وخوت، مدعي یې ولید چې کبان نیسي او چې پوښتنه یې ترې وکړه، نو د هغه ځواب حیران کړ.

بیا یې ترېنه پوښتنه وکړه، دا خبره تا ته چا درښودلې ده؟ سړي عذر ورته وکړ، چې دا زه نه شمه ویلای. قاضي ورته وویل :

ګوره زه به فیصله بدله کړم او د اسپې بچی به درکړم، خو په دې شرط چې ته به ما ته د هغه کس نوم راښیې، چې په غره کې د کبانو د نیولو خبره یې درته کړې ده .

سړی مجبور شو او ورته ویې ویل :

ستا مېرمنې راته دا چل ښودلی دی .

قاضي چې له وړاندې یې شك و، کورته راغی، نو له مانکه سره یې هېڅ خبره ونه کړه، مانکه وپوهېده چې قاضي خبر شوی دی. ډېر عذر یې ورته وکړ، خو قاضي ورته وویل :

تا له ما سره لوز کړی و اوتا لوز مات کړ. اوس ته نوره زما په کور کې ژوند نه شې کولای. سبا سهار د خپل پلار کور ته لاړه شه. تا له ما سره ښه وخت تېر کړی دی، نو ته حق لرې چې له دې کوره یو شئ چې پر تا ډېر ګران وي او قیمتي هم وي، له ځان سره یوسې .

مانکه ورته وویل :

ډېره ښه ده. زه به سبا د پلار کورته لاړه شمه، خو نن زه غواړم چې د شپې ډوډۍ یوځای وخورو او دا وروستۍ شپه په خوشحالۍ سره تېره کړو .

قاضي ورسره دا خبره ومنله، مانکه پخلنځي ته لاړه او د رنګارنګ خوړو د پخولو امر یې وکړ. بیا یې یو ډول خاص خواږه په خپله پاخه کړل او اشپز ته یې وویل :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خواږه یوازې او یوازې د قاضي لپاره دي، پام کوه بل هېڅوك يې ونه خوري .

مانکه د شپې د ډوډۍ لپاره ځان سمبال کړ او داسې يې ښکاروله، چې ډېره خپه ده، تر ډوډۍ وروسته خواږه شیان او مېوه راوړل شول. مانکه هغه ځانګړي خواږه قاضي ته په خپل لاس وړاندې کړل او لږه شېبه چې تېره شوه، نو قاضي بېسده شو. مانکه له وړاندې نه د سفر انتظام کړی و. د اسونو ګاډۍ تیاره ولاړه وه .

هغې د خپلو نژدې خدمتګارو په مرسته بېسد قاضي په ګاډۍ کې واچاوه او د پلار کورته روانه شوه. د شپې ناوخته چې هلته ورسېده، نو پلار ته يې ټوله کیسه وکړه او قاضي ته يې کټ جوړکړ، چې دی وربانديې پروت وي .

مانکه خپل خدمتګاران او ګاډۍ رخصت کړل او ورته ويې ویل چې مورږ به یو څو ورځې دلته په کلي کې تېروو .

په بله ورځ د غرمې مهال قاضي په سد شو. چارچاپېره يې کتل، چې دا کوم ځای دی، راپاڅېد او چې له کړکۍ نه يې بهر ولیدل، نو مانکه په کلیوال لباس کې راروانه وه. پر سر يې سور رومال تړلی و او په لاس کې يې د غوا د تازه لوشل شویو شیدو بالټې نیولې وه .

قاضي ته يې په موسکا وکتل. ده ورته وویل :

ته اوس هم زما له کوره نه يې تللې؟

مانکه وخندل او ورته ويې ویل :

ستا له کوره خو تللې یم، دا ز ما د پلار کور دی .

قاضي په قهر ورته وویل :

زه دې ولې دلته راوستلی یم؟

مانکه بیا وخندل او ورته وې ویل :

خو تا راته ویلي وو، چې زما له کوره یو شی چې ستا خوښېږي، له ځان سره وړلای شې.

قاضي ورته وویل :

هو ویلي مې وو .

مانکه کړکۍ ته رانژدې شوه او ورته ويې ویل :

ستا په کور کې یوازې ته زما خوښ وې، نو ته مې له ځان سره راوستلې .

له قاضي سره د دې خبرې هېڅ ځواب نه و. هغه وخندل او ويې ویل :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېره ښه ده، ته تر ما زياته هوښياره يې، له نن څخه به د محاکمو په فيصلو کې ته هم له ما سره شريکه يې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وړه مرغۍ - [د جاپان کيسه]

ډېر پخوا په يوه کلي کې يوه سړي او د هغه مېرمنې اولاد نه لرلو. سړي يوه وړه مرغۍ ساتلې وه، چې په اوزګار وخت کې به يې ورسره خبرې کولې. مرغۍ د دوی په کور کې لکه د ماشوم اوسېدله، چې په پنجره کې به يې نه بندوله.

يوه ورځ ښځې جامې مينځلې او د سان د جامو لپاره يې نشايسته (اهار) پخ کړي وو .

ښځه بهر پر تناب د جامو غوړولو لپاره ووتله. مرغۍ اخوا دېخوا ټوپونه وهل، اخر وږې شوه، نو پخلنځي ته ورغله، هلته د نشايستې لوښی ايښی و، مرغۍ ته دا سپينه نشايسته خوندوره ښکاره شوه او مښوکه يې په کې ووهله، نو بهر والوتله .

ښځې چې د نورې نشايستې لپاره لوښی وليد، نو په هغه کې ډېره لږ نشايسته پاتې وه. حيرانه شوه او اخوا دېخوا يې وکتل، مرغۍ پر کړکۍ ناسته وه، ښځې ته يې وويل :

مېرمنې څه ګورې.

ښځې ورته وويل :

دا نشايسته چا وخوړه؟

مرغۍ وويل :

دا خو ما خوړلې ده. زه وږې ومه .

ښځه سخته په قار شوه، هغې مرغۍ ته بد رد وويل، مرغۍ ووېرېدله او ډېرې بخښنې يې ترېنه وغوښتې، خو ښځه دومره په قار وه، چې مرغۍ يې ونيوله او په يوې چړې يې ژبه ترېنه پرې کړه. بيا يې ورته وويل :

ته نوره دلته نه شې اوسېدی .

دا يې وويل او مرغۍ يې والوزوله .

سړی چې ماښام کور ته راغی، نو د مرغۍ غږ يې وا نهورېد، په ټول کور کې ورپسې وګرځېد، اخر يې له ښځې پوښتنه وکړه. هغې ورته وويل :

زه نه يمه خبره .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو سړی پوه شو، چې یو چل خو شوی دی .

ښځه یې مجبوره کړه چې ورته حال ووایي او چې پوره خبره ورته معلومه شوه، نو سخت خپه شو. ښځې ته یې وویل :

د مرغۍ خېټه څومره وه، چې ستا نشایسته یې وخوړله؟ د یوې قاشوغې نشایستې لپاره دې خپل اولاد له کوره وشړلو .

بیا یې دومره وژړل، لکه چې څوك د خپل اولاد پر مړینې ژاړي.

په بله ورځ سړی کار ته د تللو پرځای د مرغۍ په لټون پسې ووت. مرغۍ پر هغه ډېره ګرانه وه. پر لار روان و او مرغۍ ته یې اوازونه کول. ډېر مزل یې وکړ او له کلي بېدیا ته راووتلو، هلته په یوه خوشې ځای کې وړوکی غونډې کور جوړ و، سړی د کور مخې ته ودرېد او مرغۍ ته یې غږ وکړ. ناڅاپه له کوره مرغۍ والوتله او د سړي پر لاس کښېناستله.

ده ته یې وویل :

ته اوس هم زما لټون کوې؟ ما خو ډېره غټه غلطي کړې وه. بې له اجازې مې نشایسته وخوړله.

سړي ورته وویل :

ته زموږ د اولاد په شان یې او اولاد همدغسې غلطیانې کوي، خو د هغې دومره لویه سزا څوك نه ورکوي.

مرغۍ ورته وویل :

ته ډېر مهربانه سړی یې .

بیا یې دی کور ته دننه بوتلو. کور دننه ډېر ښایسته و او رنګارنګ مرغان په کې اوسېدل. یوې خوا ته پر دسترخوان رنګارنګ ډوډۍ ایښې وې، مرغۍ سړي ته وویل چې ډوډۍ ته دې کښېني .

ده ډوډۍ وخوړه، نو ټولو مرغانو ورته ښکلې نڅاوې وکړې او ډېر وخت همدغسې په خوشحالۍ کې تېر شو. ماښام چې شو نو سړی راپاڅېد، له ټولو یې اجازه واخیستله. مرغۍ ورته وویل :

ماستا په کور کې ډېر عمر تېر کړی دی، غواړمه چې ته هم یو څوورځې دلته پاتې شې، چې موږ دې خدمت وکړو .

سړي ورته په ځواب کې وویل :

ستا دېره مننه، خو اوس به کور ته لاړ شم، مېرمنه به مې پرېشانه وي. که غواړې بیا به راشم .

مرغۍ ورته وویل :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېره ښه ده، خو مورې ستا لپاره يوه تحفه لرو .

دا يې وويل نو د مرغانو يوه جوپه راوالوتله، چې په منښوکو کې يې تارونه نيولي وو، د دې تارونو په سر يوه شکرۍ (ټوکرۍ) ځړېده. دا يې راوړه او د سړي په وړاندې يې کښېښوده. بيا د مرغانو يوه بله جوپه راوالوتله او بله ټوکرۍ يې د ده په وړاندې کښېښوده.

مرغۍ سړي ته وويل :

په دې کې يوه ټوکرۍ غوره کړه. سړي وليدل چې يوه ټوکرۍ درنه او بله سپکه وه. سړي فکر وکړ چې لار يې ډېره وهلې ده او سترى هم دى، نو هغه سپکه ټوکرۍ يې راواخيستله. مرغانو له خوشحالۍ نه شور جوړ کړ او بيا ده ټوکرۍ راواخيسته او د مرغانو په بدرګه له کوره ووت.

په کور کې يې ښځې ټوله ورځ مرغۍ ته ښېرې کولې او چې سړى يې وليد، نو له وړايه يې ورسره جنګ پيل کړ، چې ته کوم خوا ورك شوى وې .

سړي ټوکرۍ کېښوده او ورته ويې ويل :

ته لږ صبر وکړه، ټول حال درته وايم، سترى يم، اوبه راکړه .

ښځې يې مخ بوڅ نيولى و. په تريو تندي يې ورته د اوبو جام راوړ. سړي اوبه وڅښلې او بيا يې ښځې ته ټوله کيسه تېره کړه. ښځه يې همدغسې بوڅ مخ ناسته وه. اخر سړي د ټوکرۍ سر ليرې کړ، نو په کې د سرو زرو سکې، قيمتي ډبرې او کالي وو. سړي له خوشحالۍ نه د خداى شکر وايست. ښځه يې هم لږه خوشحاله شوه، خو بيا يې ورته وويل: ته خو بې عقل يې، که په دې سپکه ټوکرۍ کې دومره مال وي، نو په هغې درنې ټوکرۍ کې به له دې نه زيات مال و، کاشکې درنه ټوکرۍ دې رااخيستې واى .

سړي ورته وويل :

ته د خداى شکر وباسه، چې بې له څه خوارۍ مزدورۍ دومره مال دولت خداى راکړ، دا خو زموږ د پاتې عمر لپاره بس دي، خو ښځې يې خبره نه اورېده .

ده ته يې بد رد ويل، چې ورشه درنه ټوکرۍ هم راواخله. سړي ورته وويل :

زه خو سترى يم، که ته غواړې په خپله ورشه.

ښځې هم هماغه وخت د تللو لپاره ځان تيار کړ. سړي ورته د مرغۍ د کور لاره وربرابره کړه او په خپله لاړ پر کټ څملاستو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځه چې د مرغۍ کور ته ورسېده، نو په زوره زوره یې تمبه وټکوله. مرغۍ بهر راووتله، نو ښځې ته یې هرکلی ووایه او بیا یې هغې ته بلنه ورکړه، چې دننه ورشي، خو ښځه په تادۍ کې وه، ورته ویې ویل :

زما خاوند ډېر ستړی و، د درنې ټوکرۍ پرځای یې ستاسو له کوره سپکه ټوکرۍ اخیستې. هغه غلطي کړې ده .

مرغۍ ورته وویل :

که ته غواړې درنه ټوکرۍ وړای شې، خو ګوره دا ډېره درنه ده، کېدی شي چې ته یې هم د اوچتلو جوګه ونه اوسې .

ښځې ورته وویل :

زه د خپل سړي نه تکړه یمه .

مرغانو ورته ټوکرۍ مخې ته کېښوده. دې ډېره په ګرانه رااوچته کړه او په خپله لاره روانه شوه. هغې مرغانو ته د مننې یوټکی هم ونه وایه.

ټوکرۍ ډېره درنه وه او ښځه په نیمایي لاره کې ستړې شوه. یوځای د دمې لپاره کښېناسته. نو په زړه کې یې وګرځېدل چې راځه وګوره په ټوکرۍ کې څومره مال دی؟

هغې له ټوکرۍ سر پرې کړو، نو له خولې یې یوه سپېره چیغه راووتله. په ټوکرۍ کې د مال- دولت پرځای لړمان، کربوړي، چینجي او ماران وو .

دوی ټول ورو ورو له ټوکرۍ راووتل او ښځې نه چارچاپېره تاو راتاو شول. هغه دومره وارخطا شوه، چې په منډو شوه، په لار کې به ځای پرځای پرېوتله. بوټان ترې پاتې شول. وېښته یې ببر او جامې یې وشلېدې. ډېر په کړاوونو یې ځان کور ته راورساوه .

سړي نیم خوب کړی و، چې دا کورته په منډه راننوتله او دروازه یې په کلکه وتړله.

سړي ورته ژر اوبه ورکړې او پوښتنه یې ترې وکړه :

څه پېښه ده؟

ښځې ورته ټول حال تېر کړ او بیا یې توبه وایستله چې پر مرغانو به ظلم نه کوي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پاچا چې پلار شي - [د برما كيسه]

د دې كيسې تر لوستلو وړاندې څو خبرې د برما د مذهب منونكو راهبانو په هكله دي .

د برما زيات خلك بودا مذهب مني، په دې مذهب كې د هر يوه سړي لپاره دا امر دى، چې په ژوند كې به يو وار لږ تر لږه شپږ مياشتې راهب كېږي.

د بودا مذهب راهب د سر او د ږيرې ويښته خريلي وي. د ژېړ سور بخن سان دوه څادرونه يې جامه وي. په پښو كې يې د مزري يا لرګي پڼې وي او زيات وخت له ښاره ليرې په يوه معبد يا په ځنګله كې عبادت كوي .

د راهب د خوړو غم عام خلك كوي. هر چېرې چې راهب ووينې، ورته خواړه رسوي، راهب دا نه وايي چې زه دا شى خورم او يا دا شى مې خوښ نه دي.. هرڅه چې د هغه مخې ته راځي او خلك يې ورته وركوي، دى يې په صبر او په شكر خوري او خيرات كوونكي ته دعا كوي .

دا كيسه د برما د يوه لوى راهب سياده له كيسو نه ده، چې قريباً دوه سوه كاله كېږي، د برما د يوې سيمې منډيلي پاچا ته يې كولې .

وروسته دا ټولې كيسې نورو خلكو هم واورېدلې او اوس هم په برما كې د سياده په كيسو يو بل ته ويل كېږي.

د برما د منډيلي سيمې د پاچا نوم مندان و. د ده د ملك خلك ډېر غريب وو او يوه ورځ خبر شو چې خلك په جوپو جوپو له ښاره وځي، چې په نورو ځايونو كې ځان ته ډوډۍ پيدا كړي .

پاچا كرى شپه خوب ونه كړ او په راهب پسې يې يو تن ورواستاوه چې د هغه ماڼۍ ته راشي او د ده ډوډۍ وخوري .

راهب سياده د ده ماڼۍ ته راغى، پاچا ورته سر ټيټ كړ او بيا يې په خپلو لاسونو ده ته خواړه كېښودل، چې ويې خوري .

راهب چې ډوډۍ وخوړه، نو له پاچا يې پوښتنه وكړه، چې څه خبره ده .

پاچا ورته وويل :

زه د خپلو خلكو په هكله خواشينى يم، چې د خوارۍ له لاسه د خپلو كورونو پرېښودلو ته مجبوره دي. خداى خبر شه چې دوى به نورو ځايونو كې په كوم حال كې وي. هلته به ورته كار پيدا كېږي او كه نه. ځينو خلكو خپل ماشومان دلته مينډيلي كې پرېښي دي، د دوى ساتنه به څوك كوي. د دې هرڅه پړه زما په غاړه ده، ما د يوه پاچا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حیث دا ونه کړای شول چې په دې سیمه کې خلکوته روزګار ورکړم. زه ملامت یم، چې زما له کبله زما خلك درپه در شول. په دې فکرونو نه خوب کولای شم او نه ډوډۍ خوند راکوي .

راهب دا خبره واوریده، نو ورته یې یوه کیسه پیل کړه .

د چین د غرونو په لمنه کې یو وړوکی کلی و. په دې کلي کې یو کروندګر د خپلو دوو زامنو سره اوسیده، د دوی مځکه لږه وه او که څه هم دوی ورباندې خواري کوله، ولې د مځکې فصل به یې لږ و. وریجې، به ښې نه وې او سابه به کله چینجو وخوړل او کله به پرې ډېر باران وشو، نو هرڅه به اوبو یوړل .

اخر یوه ورځ دواړو زامنو پلار ته وویل :

نور په دې مځکه خپل وخت نه شي ضایع کولای .

دوی د ښه ژوند او د مړې ګېډې ډوډۍ لپاره کلی پرېږدي. پلار ورته زړه نازړه اجازه ورکړه او دوی یوځای له کلي ووتل .

مشر زوی د چین له پلې سره نژدې شمالي ښار بامو ته لاړ او کشر زوی یې جنوب لوري ته، رنګون ښار ته مخه کړه .

دواړه ورونه د سختو کارونو سره بلد وو. شپه او ورځ به یې مزدوري کوله. مشري یوڅو میاشتو کې دومره پیسې وګټلې، چې خپل تجارت یې ورباندې پیل کړ. د چین له خوا به چې کومې قافلې راتلې، دوی نه به یې مال اخیست او د میان مار نورو ښارونو ته به یې لېږلو.

د ده ژوند ښه شو. ښه خواړه یې پیل کړل، رنګارنګ مېوې، غوښې، وریجې او سابه د ده په کور کې پخېدل او د ژوند په خوند پوه شو .

کشر ورور یې په رنګون کې مزدوري پیل کړه او چې پیسې یې راټولې کړې، نو مځکه یې پرې واخیستله، ورو ورو ده هم پیسې پیدا کړې، د خپلې مځکې ښې وریجې، مېوې او سابه به یې خوړل. صحت یې ښه شو او د خپل کلي اېشېدلې وریجې او دال ترې هېر شول .

د دواړو پلار هماغسې په کلي کې اوسېده او ماښام چې به اېشېدلو وریجو ته کښېناست، نو دواړه زامن به یې یادول. د زامنو خبر به ورته راتلو چې دوی اوس ښه شوي دي .

یوه ورځ د کروندګر کلي ته د زیارت کوونکی یوه ډله راورسېدله. دوی په دې کلي کې جوړ د یوې زړې پګوډا د لیدو لپاره راغلي وو .

په بودایي هېوادونو کې پګوډا یو څو پوړیزه زیارت وي، چې سپېڅلی تبرك (وېښته، بت یا دغسې نور شیان) په کې ایښي وي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا زیارت کوونکي ډېر شتمن خلك وو او دوی د کلي په لوی میدان کې خپل تمبوان ووهل او لوی لوی دېگونه یې د خوړو د پخولو لپاره بار کړل. بوډا کروندګر هم د دوی د ننداري لپاره ورغلو، په دویمه ورځ زیارت کوونکو د کلي ټولو خلکو ته ډوډۍ وکړه. ماښام اوروته بل وو او د کلي په یوه کور کې هم ډوډۍ پخه نه شوه. زیارت کوونکو په مځکه لوی لوی ځادرونه اوار کړل او خلك ورباندي کښېناستل، چې ډوډۍ وخوري. ډوډۍ داسې وه چې په کلي کې هېچا داسې شیان چېرې نه وو خوړلي.

هلته ښې ملایمې سپینې وریجې وې، د ماهیانو کباب و، د چرګ غوښه وه، د سپینو اوړو غوړې نازکې ډوډۍ وې. څو قسمه مېوه او سابه وو، چې په ډول- ډول طریقو پاخه شوي وو .

ډوډۍ پیل شوه، سپین ږیري کروندګر چې یوه مړۍ خولې ته کړه، نو خپل زامن ورته په زړه شولو فکر یې وکړ چې زه دا دومره ښو خوړو ته ناست یم. خدای خبر چې زما زامنو به نن څه شی خوړلی وي که نه. په دې فکر یې له سترګو اوښکې روانې شوې. په دسترخوان ناستو کسانو ترې پوښتنه وکړه، چې څه چل دی، ولې ژاړې؟

سپین ږیري وویل :

زما زامن د خوارۍ له لاسه له کلي تللي دي. په دې کلي کې چېرې هم دومره ښه ډوډۍ موږ نه وه خوړلې. اوس مې دومره ښه خواړه ولیدل، نو له ستوني مې نه تېرېږي. ارمان مې دی چې هغوی هم راسره وای. دا ډوډۍ راته خوند نه راکوي .

دا یې وویل او له دسترخوانه راپاڅېد، د خپل کور پر لوري روان شو .

راهب چې دا کیسه وکړه. نو مېندان پاچا سر وخوځاوه او ویې ویل :

دا رښتیا دي چې مور و پلار تل د اولاد غم کوي، پاچا هم د خپل ملت پلار وي او چې ځان پلار ګڼي، نو که ملت یې په بد حال کې وي، چېرې به هم په مړه ګېډه ډوډۍ ونه خوري .

که دی ځان پلار نه کړي، نو د دې حق نه لري چې پر تخت کښېني او د خلکو لپاره فیصلې وکړي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سردار ناوې- [د ناروې کیسه]

په یوه کلي کې د یوه سردار یا د نواب ښځه مړه شوه. نو خپلو خپلوانو او ملګرو ورته مشوره ورکړه، چې بل واده دې وکړي .

سردار اولاد نه درلود، خو مال او دولت ورسره ډېر و، یو عیب په کې و، هغه دا چې سخت شوم و، بله دا چې عمر یې له شپېتو اوښتی و او په خپل کلي کې چا ورته خپله لورــ خور نه ورکوله. خو په خپله د ده دا خیال و، چې دی دومره زیات مال لري، نو که هرڅای غواړي، واده کولای شي او شرط یې دا و، چې پېغله به کوي .

یوه ورځ پر اس سپور خپل لوی کور ته روان و، چې په لاره یې یوه پټي کې ډېره ښکلې جینۍ ولیده، دا د کوم کروندګر لور معلومېده. سردار فکر وکړ، چې ښه شتمنه کورنۍ خو به ما ته خپله لور نه راکوي، راځه دا غریبه جینۍ وغواړه.

خپل خدمتګار ته یې وویل چې د جینۍ په هکله دې معلومات ورکړي. هغه خبر راوړ چې دا جینۍ د هغه د یوه کروندګر لور ده او پلار یې لا پخوا د سردار نه یو څو روپۍ پور اخیستې دي او تر اوسه یې بېرته نه دي ورکړي .

سردار په دې خبره خوشحاله شو او په بله ورځ بیا د مځکو پر لوري ورغی، هلته جینۍ لګیا وه په پټو کې یې مرخېړي (خرېړي) راټولول.

ده د خپل اس واګې راښکلې او پر جینۍ یې غږ وکړ، چې ده ته دې حاضره شي .

جینۍ خو لومړی حیرانه پاتې شوه، چې دومره لوی سړی له دې څه غواړي؟ خپل لاسونه یې په لمن پاك کړل، خولۍ یې پر سر کېښوده، په لستوني یې مخ پاك کړ او راغله د سردار مخې ته ودرېده. د سردار خوله نه جوړېده، چې ورسره خبرې وکړي، ځکه جینۍ ډېره نېغه ولاړه وه او یو څو شېبې چې همدغسې تېرې شوې، نو جینۍ ورته په سخته لهجه وویل :

وایه څه وایې؟... زه دې له کاره وویستم.

د سردار ژبه ګنګوسې شوه. لاړې یې وچې شوې.

بیا یې وویل:

زه د یوې ښځې په لټه یم، چې واده ورسره وکړم .

جینۍ تندی تریو کړ، یو لاس یې پر ملا کېښود او ورته یې په چیغه وویل :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې خبرې لپاره دې زما وخت ضايع کړ. ښځه کوې نو ورشه ښار ته.

سردار موسکی شو او ورته ويې ويل :

زه غواړم چې له تا سره واده وکړم .

جينۍ سم له لاسه ورته وويل :

ستا نه ډېره مننه، خو زه له تا سره واده کول نه غواړم .

د سردار مخ له قاره تك سور شو. اس ته يې يو چابك راخلاص کړ او له هغه ځايه لاړ. اوس خو به هغه هره ورځ له مځکو تېرېده او په جينۍ به يې غږ کاوه. جينۍ هم بده وه، کله- کله به يې ورته ښکنځلې او بد رد هم ويل. خو هر څومره چې جينۍ انکار کاوه، د سردار ضد هم ورسره زياتېده .

اخر دوستانو ورته مشوره ورکړه، چې د جينۍ له پلار سره دې خبره وکړي .

د جينۍ پلار هسې هم د سردار پوروړی و، نو قريباً هره شپه به يې خپلې لور ته هم دا يوه خبره کوله، چې سردار ښه سړی دی. ډېر مال لري او که واده ورسره وکړې، نو په پټيو کې به له کاره بېغمه شې .

څو مياشتې تېرې شوې، خو يوه ورځ سردار خپل يو خدمتګار د جينۍ پلار ته واستاوه او ورته ويې ويل :

زه چې د کوم شي غوښتنه لرم، که هغه نه شې راکولای، نو بيا د پور ټولې پيسې همدا اوس راکړه .

د جينۍ پلار سخت وارخطا شو او د ځان د خلاصولو لپاره يې خدمتګار ته وويل چې راتلونکې اونۍ د خالي په ورځ به ستا شي، ارو مرو به ستا کور ته ورسېږي .

سردار چې دا واورېدل، نو ډېر خوشحاله شو، د خدمتګارانو مشري ته يې پيسې ورکړې، چې د ښار له يوه دکان څخه دې د واده سپين کميس او نور شيان د ناوې لپاره واخلي. ده خپل يو څو ملګري هم په دې ورځ راوغوښتل او د واده د ډوډۍ لپاره يې يوه ساده مېلمستيا جوړه کړه .

د خالي په ورځ هغه خپل خدمتګار او يوه ګاډۍ د جينۍ کور ته ورواستول، چې د کوم شي لوز ورسره شوی و، هغه دې سردار ته ورکړل شي .

خدمتګار د جينۍ پلار ته دا خبره وکړه، هغه د خپلې لور نه بېزاره او له سردار نه په وېره و. خدمتګار ته يې وويل :

ستا د سردار امانت بهر په پټيو کې دی. ورشه له هغه ځايه يې په خپله واخله .

دا يې وويل او په ځان پسې يې تمبه پورې کړه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی خبر و، چې د سردار خدمتګاران به جینۍ په زوره بیایي او نه یې غوښتل چې د هغې چیغې یې تر غوږ ورشي .

خدمتګار چې پټي ته لاړ، نو جینۍ د هرې ورځ په شان له مځکې نه مونډان راټولول، هغه ورته په چیغه وویل :

زما سردار خپل امانت غواړي، چې ستا پلار یې د ورکولو لوز ورسره کړی و .

جینۍ چې دا واورېدل، نو لومړی خو حیرانه شوه، بیا سخته په قار شوه، خدمتګار ته یې وویل :

ودرېږه، چې ستا د سردار امانت دروسپارم.

دا یې وویل او هغه زړه اسپه چې اوس له کاره لوېدلې وه، ورته یې راوستله، یو پړی یې د هغې له غاړې تاو کړ او خدمتګار ته یې وویل :

زما پلار ستا سردار ته هم د دې اسپې د ورکولو لوز کړی و.

خدمتګار اسپه په مخه کړه او په زړه کې حیران و، چې د دې زړې اسپې لپاره بیا د ګاډي د ورلېږلو څه حاجت و.

کورته چې ورسېد، نو خدمتګار اسپه د لویې دروازې نه بهر پرېښوده. په خپله په منډه دننه لاړ او سردار ته یې وویل :

ستاسو امانت مې راوړ.

سردار خوشحال شو او د خدمتګارانو مشرې ته یې وویل :

ډېر په احتیاط یې زما د مور کوټې ته ورسوئ او د واده لپاره یې تیاره کړئ .

خدمتګاره حیرانه وه، چې سردار د دې زړې اسپې لپاره دومره خواري کړې وه، خو بیا یې په خپلو کې خبرې کولې، چې کېدی شي دا هم د شتمنو خلکو د مشغولا او د ساعتېرۍ یوه طریقه وي. سردار لکه چې د خپلو ملګرو د خندولو لپاره دا هرڅه کوي. دوو کسانو اسپه یوې لویې کوټې ته ورسوله، دوو خدمتګارو ښځو د واده سپین کمیس د اسپې په غاړه کړ، د ګلانو ګېډۍ یې ورته په سر وتړله، په وړاندېنیو سمونو یې ورته سپینې دستانې او شاتنیو یې سپینې جرابې واغوستې. یو خدمتګار په منډه د ناستې لویې کوټې ته ورغی او اعلان یې وکړ، چې ناوې تیاره ده .

سردار او نور ټول مېلمانه له خپلو ځایونو څخه اوچت شول، یو پادري صاحب هم هلته تیار ولاړ و. سردار صاحب یو سپین ګل په خپل کوټ ټومبلی و او خدمتګارې ته یې اشاره وکړه، چې ناوې راولي.

د ناوې په جامو کې زړه اسپه ورو ورو د مېلمنو کوټې ته رادننه شوه. د ټولو له خولې یوه سلګۍ د چیغې په ډول راووتله .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار له غوسې او قاره په چیغو شو. په کوټه کې دومره شور، ځوږ راپورته شو، چې اسپه خواره وارخطا شوه، یوه لغته یې خدمتګارانو ته راخلاصه کړه او له کوټې په ترپکو ووتله. وایي چې دا سردار د خپلو مېلمنو په وړاندې دومره پیکه شو، چې بیا یې ټول ژوند له چا سره نه لیدل.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هینسل او ګریټېل- [د ډنمارك کیسه]

ډېر پخوا د یوه ځنګل پر څنډه په یوه وړوکي کور کې دوه ماشومان د خپل پلار او میرنۍ مور سره اوسېدل. د هلك نوم هینسل او د جینۍ نوم ګریټېل و .

د دوی پلار به په ځنګله کې لرګي وهل او په کلي کې به یې خرڅول، په هغه خپل دواړه ماشومان ډېر ګران وو. خو د ښځې یې دا خبره نه خوښېده. هغې به په څه نا څه پلمه غوښتل چې دواړه دې له کوره لاړ شي .

یوه ورځ یې له خپل خاوند سره جنګ وکړ، چې هغه نور د دوی خدمت نه شي کولای. د شپې تر ناوخته لګیا وه او اخر یې سړی دې ته اړ کړ، چې سهار به دوی ځنګله ته ځي او لرګي به راټولوي. سهار دوی راپاڅېدل، نو مور او پلار ورته لږه وچه ډوډۍ ورکړه او ځنګل ته یې روان کړل .

هینسل له وړاندې نه خپل جیبونه له کاڼو ډك کړي وو. دوی چې په کومه لار تلل، پر هغې به یې یو- یو کاڼی غورځاوه، چې د بېرته راتګ لار پیدا کړي .

هغه ورځ چې دوی مزل وکړ، نو یوځای کې یې دمه وکړه، پلار ورته د لرګو اور بل کړ، دوی ډوډۍ وخوړه او ورسره خوا کې پر یوه نرم ځانا ویده شول .

دوی چې له خوبه پاڅېدل، نو مور و پلار یې نه وو او د ماښام تیارې په خپرېدو وې، په ځنګله کې د مرغانو او ځناورو شور و، ماشومان سخت وېرېدل، خو هینسل د یوې لویې ونې ببخ پیدا کړ، چې په کې سوری جوړ و، دواړو هم په دې کې شپه تېره کړه.

په بله ورځ دوی د کاڼو په لټه کې شول، چې هینسل له خپله جیبه په لار کې غورځولي وو. غرمه دوی بېرته خپل کور ته ورسېدل، پلار یې ډېر خوشحاله شو، خو مور یې په قار شوه، یو څو ورځې چې تېرې شوې، نو ښځې له خپل خاوند سره بیا جنګ شروع کړ، چې د کور خرڅ نه شي پوره کولای. یا خو دې ډېرې پیسې کور ته راوړي او یا دې واړه چېرته واستوي، خو د هغې خبره ونه منل شوه.

سړی یوه شپه د خپلو اولادونو په غم کې داسې ناارامه تېره کړې وه، چې اوس یې نه غوښتل چې دوی بیا ځنګل ته بوځي .

یوه ورځ چې سړی په کور کې نه و. ښځې ډوډۍ پخه کړه او ماشومان یې له ځان سره کړل، چې دوی په ځنګل کې ورخوشې کړي. هینسل په دې پوهېده، هغه دومره وخت پیدا نه کړ، چې په لار کې کاڼي وغورځوي، خو د ډوډۍ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړې وړې ټوټې يې په ټوله لار کې اچولې، د غرمې مهال چې يوځای ته ورسېدل، نو هغې لرگي راټول کړل، دوی ته يې اور بل کړ او ورته يې وويل :

تاسو کښېنئ، زه مو په پلار پسې ورځمه چې هغه راشي نو بيا به يوځای کور ته ځو.

ماشومانو ځان ښه تود کړ، بيا يې پاتې ډوډۍ وخوړه او ويده شول. چې راپاڅېدل، نو بيا د خپل کور پر لوري روان شول، خو هينسل چې د ډوډۍ کومې ټوټې پر لاره غورځولې وې، هغه مرغانو خوړلې وې، دوی لاره ورکه کړه او د ځنگل بلې څنډې ته ورسېدل. هلته څه گوري چې له چاکلېټو جوړ شوی وړوکي غوندې کور و. د هغه کړکۍ او دروازې له بسکېټو وې، دوی د کور چارچاپېره وگرځېدل، خو څوك يې په کې ونه موندل.

گرېټل دومره وږې وه، چې د يوې کړکۍ نه يې بسکېټ رامات کړل او ويې خوړل. هينسل هم د چاکلېټو ټوټې راشکولې او خولې ته يې اچولې، خو ناڅاپه يوه بوډۍ کړوپه له کوره راووتله او دوی ته يې په قار وويل :

تاسو زما کور ولې خورئ؟

هينسل او گرېټل دواړه وارخطا شول. لاسونه يې له چاکلېټو ډك وو. ښځې ورته وويل :

تاسو زما له کوره غلا کړې ده، اوس به تاوان راکوئ .

بيا يې هينسل په يوې کوټې کې بندي کړ او گرېټل ته يې وويل چې ته به زما د کور ټول کارونه کوې .

ما شومانو ټوله شپه په خپل کور پسې ژړل. سهار وختي ښځه راپاڅېده او گرېټل يې په کار اخته کړه، خود هينسل لپاره يې ښه ښه خواړه پاخه کړل او هغه ته يې خوړو لپاره ورکړل. بيا يې دې ببرته په گوټه کې بند کړ. گرېټل به ځای جارو کړ. لوښي به يې ووينځل، ځايونه به يې راټول کړل، خو هغې ته به يې لږه ډوډۍ ورکوله .

يو څو ورځې همدغسې تېرې شوې، يوه ورځ هغې ښځې هينسل ته وويل، چې خپل لاس د کوټې له کړکۍ بهر راوباسه. ده چې لاس رابهر کړ، نو هغې د ده گوتې په خپلو لاسونو کې ونيولې. ښکته پورته يې کړې، بيا له ځان سره په شونډو کې وگرېده:

زره غوښه ورباندې نه ده ختلې.

هينسل چې دا خبره واورېده، نو پوه شو، چې دا ښځه جادوگره وه او ده ته يې ځکه ښه خواړه ورکول، چې دی چاغ شي او کله چې دی چاغ شي، نو بيا به يې حلال کړي او وبه يې خوري .

هينسل تر دې وروسته بيا په مره گېډه ډوډۍ نه خوړله او گرېټل ته يې هم په غوږ کې دا خبره کړې وه. جادوگرې به يې په هره درېيمه څلورمه ورځ د هينسل په گوتو غوښې کتلې. اخر يوه ورځ يې گرېټل ته وويل چې له کوره بهر تر يوه لوی دېگ لاندې دې لرگي راټول کړي او اور دې بل کړي. په دېگ کې جادوگرې له پخوا د اېشېدو لپاره اوبه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اچولې وې. ګرېټل چې دا ولیدل، نو پوه شوه چې نن به یې ورور وژني. هغې لږ لږ لرګي په نغري کې ایښودل، چې اوبه ژر ونه ایشېږي .

کله چې به جادوګره دننه لاړه، نو دې به نغري نه لرګي وایستل، چې اور تت شي. ډېر وخت چې تېر شو، نو جادوګره په قار شوه. ګرېټل ته یې وویل :

ته وګوره چې اوبه ایشېدلې دي که نه؟ په نغري کې نور لرګي کښېږده.

ګرېټل اوس ډېره نااميده شوې وه. خو بیا یې هم زړه کلك کړ او جادوګرې ته یې وویل :

زه د دېګ دننه نه شمه لیدلای، چې اوبه ایشېدلې دي که نه. ته راشه په خپله یې وګوره.

جادوګره دېګ ته نژدې راغله. د هغې سر یې لیرې کړ او ورټیټه شوه. بس په دې وخت کې ګرېټل خپل ټول توان یوځای کړ. د جادوګرې پښې یې ونیولې او هغه یې دېګ ته ورټېله کړه. جادوګرې یوه چیغه کړه. د دېګ سر یې له لاسه ولوېد او دا اړولې په ایشېدلو اوبو کې پرېوته.

ګرېټل ژر ژر ټول لرګي په نغري کې کېښودل او اور په غرغنډو شو. بیا دې منډې کړې، د جادوګرې تر بالښت لاندې یې د کوټې کنجیانې ومونډلې او ژر یې ورور له کوټې راخلاص کړ. جادوګرې کړیکې وهلې، دواړو ماشومانو شاته نه کتل او له هغه ځایه یې ځغاستل .

دوی ډېر وخت په ځنګله کې په منډه وو، اخر یې یو ځای د لرګیو د ماتولو غږ واورېد، دوی د غږ پر لوري لاړل او څه ګوري چې پلار یې تبر په لاس ونې وهي .

پلار یې چې دواړه اولادونه ژوندي ولیدل، نو له خوشحالۍ نه یې په سترګو کې اوښکې راغلې .

دوی یې په غېږ کې ونیول او کور ته یې راوستل. په کور کې د ده ښځه نه وه، د ماشومانو له ورکېدو وروسته ده هغه هم له کوره شړلې وه. ځکه چې د دوی ډوډۍ هم نه پوره کېده او بیا تر څو چې د دوی پلار ژوندی و، دوی یې یوازې په ځنګله کې نه پرېښودل.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سپېځلې مچۍ - [د یونان کیسه]

په لرغوني یونان کې د خلکو مذهب هغسې نه و، چې په اوسني زمان کې یې موږ پېژنو.

دوی پر الله باور کاوه. هغه مخلوق چې د دوی په عقیده د اولمپس پر غرونو یې ژوند کاوه او د هر چا په وس او قدرت کې یو کار وي. د دوی په عقیده تر ټولو باقدرته او د الهانو مشر �زیوس� نومېده او د یونانیانو په باور زیوس د هر هغه انسان، ځناور، مرغه او چینجیو درناوی کاوه، چې په ماشومتوب کې یې د ده، یانې د زیوس خدمت کړی و. د هغه شوده (پۍ) ډېرې خوښې وې. هغه چیلۍ چې په ماشومتوب کې یې ده ته خپلې شیدې ورکړې وې، په زاړه عمر کې یې د اسمان ستورو سره کښېنوله. همدغسې د ده شات (گبین) هم خوښ وو، ځکه خو یې د شاتو مچیو ته ښکلې او پیاوړې وزرې ورکړې، چې د ځان ساتنه په ښه شان وکړای شي .

نو کیسه داسې ده چې د دې لرغوني یونان په یوه وړوکي ښار کې یو شتمن سړی اوسېده، له ده سره ډېرې چیلۍ وې او د دوی د ساتنې لپاره یې یو مریی (غلام) ساتلی و. دا مریی کوماتاس نومېده، کله چې به د غرونو واورې ویلې شوې او په غرونو کې به شنه واښه راوټوکېدل، نو کوماتاس به د خپل بادار په اجازه ټولې چیلۍ (وزې) په مخه کړې، د هیلیکون غره ته به یې بوتللې. ټوله ورځ به چیلۍ په شنو وښو اخته وې، کوماتاس به خپله شپېلۍ غږوله او د ونو، بوټو، ځنګلي مېوې به یې خوړلې. د شپې به یې د یوې چیلۍ په شیدو ځان موړ کړ. خپله شړۍ به یې له ځانه تاو کړه او تر یوې ونې لاندې یا له تیږې سره جوخت به غونډ منډ ویده شو .

کوماتاس به کله- کله په نیمه شپه کې ډېر ښکلي سازونه واورېدل، دا موسیقي به دومره مسته وه، چې د هغه زړه به ګډا غوښته، خو بیا به یې سترګې خوب یوورې .

دی هم د نورو خلکو په شان په دې عقیده و، چې دا سازونه ښاپېرۍ غږوي ورته ګډېږي، خو ده په خپله چېرې هم ښاپېرۍ په سترګو نه وه لیدلې .

یوه شپه دی پر مځکه پروت و، په اسمان کې یې د ځوارلسمې سپوږمۍ ته کتل، چې ناڅاپه هغه بیا سازونه واورېدل او ورسره یې د خندا او د ګډا غږونه هم تر غوږ شول .

دی له خپله ځایه پاڅېد، پر یوه اوچته تیره ودرېد او خوا و شا یې وکتل، ښکته د یوې رواني چینې له اوبو سره د ښاپېرو یوه جوپه وه، چې ځینې په کې په څرخ ګډېدې او نورو ورته سازونه غږول .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوماتاس په خپل ځای ساه نیولی ولاړ و، دی نه پوهېده چې څه وکړي. د ښاپېریو لیدل ډېر ناشونی کار و او ده غوښتل چې دوی ته څه شی ډالۍ کړي. خو بې له خپلې شپېلۍ او یوې شړۍ نور ورسره هېڅ هم نه وو. هاغلته پر تیږه کښېناست او پوه نه شو چې کله خوب یووړ او ښاپېرۍ تر کومه ګډېدې .

دی چې سهار پاڅېد، نو ټوله ورځ یې همدغه چورت واهه، کله- کله به یې شپېلۍ وغږوله، خو په دې کې هم ورته څه خوند نه و. اخر یې چیلیو ته فکر لاړ، د ده بادار چېرې هم په ده غرض نه و کړی. چیلۍ دومره ډېرې وې، چې کوماتاس فکر وکړ، که یوه په کې ښاپېرو ته ډالۍ کړي، نو هېڅوك به خبر نه شي .

کوماتاس تر ډېره وخته دا خبره کرله، ربېله اخر مازیګر مهال یې یوه چیلۍ حلاله کړه او د ځنګل د قربانګاه پر کاڼي یې کېښوده... زړه یې ارامه شو.

له بده مرغه په بله ورځ د کوماتاس بادار ځنګل ته راغی... چیلۍ خو به یې یا شمېرلې یا نه، خو له قربانګاه سره نژدې یې وینه ولیده او بیا د چیلۍ پوستکی هم له یوې ونې سره ځوړند و.

سخت بدګومانه شو، کوماتاس ته یې په قار وویل :

زما په تا ډېر اعتبار و، خو ته بې ایمانه وې. نور درباندې باور نه شمه کولای، د چیلۍ تاوان خو یې له کوماتاس نه یې نه شو اخیستلای، ځکه دی ډېر خوار و. خو د سزا په توګه یې دی د لرګي په یوه صندوق کې بند کړ او د خپلې ماڼۍ تر شا یوې شاړې کندې ته یې ورغوځار کړ .

د هیلیکون په غره کې اوسېدونکو ښاپېریو یو څو ورځې د دروزې د شپېلۍ غږ نه اورېده. دوی حیرانه وې چې شپېلۍ غږوونکی کوماتاس چېرته ورك شو. بیا د ده په لټون پسې یوه لولکۍ روانه شوه. دا لولکۍ به په ونو، بوټو ګرځېده او د کوماتاس پوښتنه به یې کوله. هر چا چې کوماتاس له خپل بادار سره لیدلی و، لولکۍ ته یې لاره ورښودله.اخر لولکۍ د شتمن سړي تر کوره ورسېده، خو دی یې هلته ونه موندلو.

د ماڼۍ له لویې دروازې سره جوخت لګېدلي د ګلابو بوټي ورته خبر ورکړ، چې د ماڼۍ تر شا یو صندوق دې پیدا کړي .

لولکۍ همدغسې وکړل او د صندوق له یوه سوري نه یې وکتل، چې کوماتاس په کې بند و. لولکۍ بېرته ښاپېرو ته خبر راوړ او بیا د ښاپېرو یوه غونډه پیل شوه. هر چا خپله خپله ډنګوله، خو ټول په دې رضا شول چې مهم کار د کوماتاس ژوندي ساتل وو. د صندوق له وړو سوريو نه نور هېڅ شی نه شو رسېدای، یوازې د شاتو مچیو ورته شات رسولای شول. بیا داسې وشول چې د شاتو د مچیو یوه جوپه به د صندوق خوا و شا بنګېده.

یوه یوه مچۍ به د یوه سوري له لارې صندوق ته ورننوتله، د کوماتاس پر شونډو به یې لږ شات ورڅڅول او بیا به بهر راوتله. په دې حال کې یو کال واوړېد.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ شتمن سړي ته ورپه زړه شول، چې کوماتاس به په صندوق کې مړ وي، خپلو مریيانو ته يې امر وکړ، چې صندوق دې پرانیستلای شي او د کوماتاس هډوکي دې په مځکه ښخ کړای شي .

مریيانو چې صندوق پرانیست، نو ويې لیدل چې کوماتاس په کې ژوندی پروت و، ټول حیران وو، خو کوماتاس ورته وویل چې ما ته د شاتو مچیو خواړه رارسول.

د هغه بادار خبر شو، نو دی هم حیران پاتې شو. خو بیا خپل مذهبي مشر ورته وویل :

د کوماتاس درجه ډېره اوچته ده. شات د زیوس خوښ دي او دی یوازې خپلو اوچتو بندګانو ته دا خواړه وررسوي .

شتمن سړی اوس پر خپلو کړو پښېمانه و، نو کوماتاس يې له لاسه ونیو او له ځان سره يې کښېناوه. له ده يې وپوښتل چې څه شی غواړې؟

کوماتاس ورته وویل :

زه بېرته په ځنګله کې ستا د چیلیو ساتنه غواړم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وېره- [د ترکيې کيسه]

ډېر پخوا د اوسنۍ ترکيې په يوه غريزه سيمه کې يو هلك له خپلې کونډې مور سره اوسېده .

د دوی وړوکی کور (جونګړه) له ښاره بهر په بېديا کې و .

يوه ورځ د سيلۍ او باران په سخت توپان کې دواړه مور او زوی په کور کې ناست وو، د تندر له غږ سره به ښځه ورپېده. دې د کور بهرنۍ تمبې ته يوه غټه تيږه کېښوده او زوی ته يې وويل :

زه خو نن ډېره سخته وېرېږمه. خدای خبر چې نن مې دا وېره ولې په زړه کې ناسته ده .

هلك مور ته وکتل. لږ حيران شو او ويې ويل :

وېره! دا څه شی وي؟

مور ورته وويل :

وېره داسې بلا ده چې هر انسان يې په خپل ژوند کېويني او بيا د دې په پنجو کې راګير شي .

هلك تر ډېره وخته غلی ناست و، دواړو ډوډۍ وخوړه او خوب ته پرېوتل. هلك تر ناوخته د وېرې په هکله فکر کاوه. داسې يې ګڼله چې ګوندې �وېره�رښتيا يوه بلا ده. کرۍ شپه يې همدغسې تېره کړه او سهار وختي يې چې مور لا له خوبه نه وه پاڅېدلې، دی له خپلې جونګړې راووت او يوې خوا ته روان شو، ټوله ورځ په پښو روان و، چې ستړی به شو نو له يوې ونې سره به يې ډډه ولګوله.

له ڇينې يا ويالې نه به يې اوبه وڅښلې. په لار کې به يې همدغه چورت واهه، چې که �وېره� راته مخې ته راغله، نو سملاسي به يې وژنم.

لمر چې د غرونو شا ته پټ شو، نو ده له ليرې نه يوځای رڼا وليده، چې ورنژدې شو، نو ويې ليدل چې يو څو تنه له اور نه چاپېره ناست وو، خپل چاقوان يې په تيرو تېره کول. دوی ټول شوکماران وو او د شپې د شوکې لپاره يې ځانونه تيارول .

د هلك ساړه شوي وو. پر دې کسانو يې سلام واچاوه او اور ته نژدې کښېناست. سړو يو بل ته په سترګو کې اشارې وکړې. خو د هلك له حالت نه څرګندېده چې دی هېڅ نه لري .

يو تن ترېنه پوښتنه وکړه:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته له کومې راغلی یې او کومې خوا ته روان یې؟

هلك چې لاسونه یې اور ته نیولي وو، دوی ته وویل :

زه د وېرې په لټه راوتلی یم. که مې پیدا کړه، نو ژوندی به یې نه پرېږدم.

شوکماران په خندا شول، خو ددوی مشر هلك ته وویل :

زه خبر یم، چې وېره چېرته اوسېږي، که ته غواړې چې ویې وینې، نو دا اوره، کوچ او شات واخله، مخامخ د ونو شا ته یوه هدیره ده، هلته لرګي ډېر دي، له دې ځایه یوه دره واخله. هلته اور بل کړه، موږ ته خوږه ډوډۍ پخه کړه، وېره به درته په خپله ځان ښکاره کړي .

هلك د شوکمارانو نه ټول توکي په یوه غوټه کې وتړل. یوه بله دره یې په بل لاس کې واخیسته او د ونو پر لوري روان شو. اوس هرې خوا ته تکه توره تیاره وه. هلك چې د شوکمارانو له سترګو پناه شو، نو ټولو پرچ وهلو.

هلك هدیرې ته ورسېد، نو تیږې یې راټولې کړې، وچ لرګي یې په کې کېښودل او اور یې بل کړ، بیا یې اوره، کوچ او شات یوځای کړل. د یوه قبر له پاسه په کندولي کې اوبه ایښې وې، د اوړو ډوډۍ یې جوړه کړه او د سرې شوې ډبرې له پاسه یې کېښوده.

ډوډۍ چې پوره پخه شوه، نو هلك هم ښه دمه کړې وه، خوا و شا یې کتل، چې وېره به چېرته وي. په دې کې اور ته نژدې قبر نه یو لاس رابهر شو او ورسره یو غږ هم راپورته شو، چې : �دا ډوډۍ دې زما لپاره پخه کړې ده؟.�

هلك ورته وویل :

نه، نه، دا ډوډۍ مې هلته بره یو څو تنو لپاره پخه کړې ده .

دا یې وویل او ګرمه ډوډۍ یې له تیږې راواخیسته... د غوټې په خالي ټوکر کې یې تاو کړه، یوه بله دره یې له اوره راواخیسته او بېرته یې د شوکمارانو ځای ته ځان ورساوه.

په دوی کې یو څو تنه په خپل کار پسې تللي وو، خو د دوی مشر اوس هم هلته ناست و، هلك چې یې ولید، نو بیا حیران شول. پوښتنه یې ترې وکړه:

وېره دې ولیده؟

هلك ورته وویل :

نه، هلته خو تش یو لاس له قبر نه راووتلو، چې له ما یې ډوډۍ غوښته.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شوکمارانو مشر ډوډۍ ټوټې ټوټې کړه او په ټولو یې وویشله. هلك هم خپله برخه ډوډۍ وخوړه او ور ته نژدې پرېوتو .

د شوکمارانو مشر ورته وویل:

سهار د دې غونډۍ بلې خوا ته ورشه، هلته یوه کچه لاره د اوبو یوه تالاو ته ځي، ما اورېدلي دي، چې په دې تالاو کې وېره اوسېږي .

هلك ډېر ستړی و، دا خبره یې واورېده او سترګې یې پټې کړې. په بل سهار چې هلك پاڅېد، نو اور مړ و او ټول شوکماران له هغه ځایه تللي وو. ده ته یې یو څو ټوټې وچه ډوډۍ پرې ایښې وه .

هلك ځان تازه کړو، ډوډۍ یې وخوړه او پر غونډۍ وخوت، یوه کچه لار یې پیدا کړه او په هغې روان شو. د لارې په پای کې د اوبو یو لوی تالاو و.

خو هلته یې یوه عجیبه ننداره ولیده. د اوبو دپاسه په هوا کې یوه زانګو وه، چې یو ماشوم په کې ژړل .

هلك یو څو شېبې ماشوم ته وکتل او فکر یې وکړ، چې دی ولې ژاړي او زانګو په هوا کې څنګه ولاړه ده. په دې کې یوه ځوانه جینۍ له اوبو راووتله، چې وېښته او جامې یې وچ وو. هلك ته یې وویل :

دا زما ورور دی. زه په خپله زانګو ته نه شمه رسېدلای، غواړمه چې خپل ورور له زانګو نه راواخلمه. هلك ورته وویل :

زه به په اوبو کې ښکته شم، ته زما په اوږو کښېنه او خپل ورور له زانګو راواخله.

هلك اوبو ته ورښکته شو. جینۍ د ده پر سر لاس کېښود او پر اوږو یې کېښناسته، هلك ورو ورو د زانګو پر لوري روان شو. خو جینۍ خپل لینګي د هغه د څټ نه کلك راتاو کړل او زور یې ورله ورکړ.

هلك سخت په قار شو، دا یې له لاسه ونیوله او اوبو ته یې ورغوزاره کړه. جینۍ هم ورسره ښه کلکه نښتې وه. هلك د هغې مرۍ ته لاس کړ او دا یې له ځانه لیرې کړه، په دې پرزونو کې د جینۍ د غاړې د سرو زرو زنځیر د هغه په لاس کې پاتې شو او ده په چټکۍ له تالاو نه ځان وایست. پاس چې ګوري، نو زانګو هلته نه وه. هرڅه ورك وو .

هلك د سرو زرو زنځیر په خپله غاړه کې واچاوه او د غونډۍ بلې خوا ته روان شو .

ټوله ورځ یې سفر وکړ او مازیګر مهال د یوه ښار دروازې ته ورسېد، هغه وخت به د ښارونو چاپېره دېوالونه جوړېدل او د بهر وتلو لارې به ماښام تړل کېدې.

کوم مسافر چې به ناوخته راورسېدل، د هغوی لپاره له دروازې نه بهر سرایونه جوړ وو. هلك دیوه نانوای د تنور مخې ته کښېناست او په تنور کې پرېوتې ډوډۍ چې نانوای یوې خوا ته ایښودلې او خلکو په خپل وار رااوچتولې د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی د اخیستلو په انتظار شو. اخر د ده وار هم راورسېد، نیمه پخه نیمه سوځېدلې ډوډۍ یې وخوړه او هملته یوې خوا ته پر مځکه ویده شو.

سهار چې ښار ته وردننه شو، نو ویې لیدل چې خلك د سمندر پر لوري روان وو. هلك هم ټولو سره مل شو، خبر شو چې یوه بېړۍ پرون رارسېدلې وه، خو اوس د ډوبېدو په حال کې ده، د سمندر پر غاړه ډېر خلك ولاړ وو، چا ژړل، چا دعا ته لاسونه نیولي وو.

بېړۍ له یوې غټې تیږې سره ولاړه وه. په دې کې ټولو ملاحانو زور لګولی و، چې ساحل ته یې راولي. خو داسې ښکارېده چې بېړۍ د سمندر په اوبو کې دننه په کوم شي پورې نښتې وه او ورو ورو په ډوبېدو وه .

خلکو په وړو وړو کښتیو کې په دې بار سامانونه او نور خلك راښکته کول .

هلك جامې وایستلې او سمندر ته یې ټوپ کړل. ده اوږده ساه واخیستله او د سمندر تل ته یې ځان ورساوه. هلته یې ولیدل چې یوې ښځې د بېړۍ لنګر په لاس کې نیولی دی او ځان ته یې راکاږي.

هلك په دې ښځې ورټوپ کړل، زنځیر یې د هغې له لاسه لیرې کړ او د هغې په وهلو سر شو. بیا یې دا له وېښتو راونیوله او په یوې تیږې پورې یې وتړله.

هلك چې له اوبو راوتلو، نو بېړۍ له خطره بهر وه. خلکو خوشحالیانې کولې. دی دومره ستړی و، چې خپلې جامې یې په غاړه کړې او بېرته ښار ته لاړ. هلته تر یوې ونې لاندې پرېوتو او ویده شو.

مازیګر مهال چې دی راپاڅېد، نو د ونې نه یې د خبرو غږ واورېد. یوې ښځې ویل :

ما یو داسې زړور ځوان لیدلی دی، چې په هدیره کې یې ډوډۍ پخوله، ما له یوه قبر نه لاس وروغزاوه، خو دی هېڅ ونه وېرېد، د بلې ښځې غږ راغی:

ما هم یو داسې ځوان ولید، چې په اوبو کې مې ورله مرۍ خپه کوله، خو ده رانه ځان هم خلاص کړ او زما د سرو زرو زنځیر یې هم یووړ.

د درېیمې ښځې غږ شو :

ما داسې ځوان ولید، چې د پوره بېړۍ زنځیر یې زما له لاسه واخیست او زه یې په یوه کاڼي پورې وتړلم. هلك چې دا خبرې واورېدې، نو ونې ته یې وکتل او ویې ویل :

هغه ځوان زه یمه. خو تاسو څوك یئ؟

درې واړه ښځې د سترګو په رپ کې د ده مخې ته ودرېدې او ورته ویې ویل :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ جادوګرې يو. ته ډېر زړور يې، موږ غواړو چې درته انعام درکړو. وغواړه څه شي پسې راوتلی يې او چېرته ځې؟

هلك ورته وويل :

زه د وېرې په تکل کې يمه. که تاسو ته معلومه وي چې وېره په کوم ځای کې ده، نو دا به ډېر لوی انعام وي .

دريو واړو جادوګرو په زوره زوره وخندل او بيا يې د يوه ښار پته ورله ورکړه، چې وېره هلته اوسېږي.

هلك چې د ډېرو ورځو تر مزله وروسته دې ښار ته ورورسېد، نو ټول خلك د پاچا د ماڼۍ نه بهر راټول وو. هلك د يوه سړي نه پوښتنه وکړه، چې څه چل دی؟

هغه ورته وويل:

يوه مياشت کېږي چې زموږ پاچا مړ دی. د دې ملك روايت دی چې د دې ځای ځينې سپېڅلي مرغان هر سهار له ماڼۍ نه الوزي او چې د هر چا پر سر کښېناست، نو هغه به پاچا کېږي دا يوه مياشت کېږي، چې مرغان د هېچا پر سر نه دی کښېناستلی.

هلك هم د مرغانو په ننداره شو، چې له ماڼۍ نه به والوتل او بېرته به لاړل، يو څو شېبې چې تېرې شوې، نو يو مرغه د ماڼۍ تر ټولو دنګ بورجل نه راوالوتلو او د هلك پر سر کښېناست. د خلکو شور ماشور پورته شو .

هلك سترګې پټې کړې، ويې ليدل چې د پاچاهۍ تاج يې پر سر کړی دی او پر شاهي تخت ناست دی. خلك ورته راروان دي، وزيران ورته د مملکت د ستونزو حال وايي. ډوډۍ ورته ايښې ده، خو دی وخت نه لري چې ويې خوري .

خوب يې تښتېدلی دی. هلك ناڅاپه سترګې وغړولې او په چيغو شو:

زه دا هرڅه نه شمه کولای .

په دې کې د ماڼۍ له خوا يو څو مرغان راوالوتل او وار په وار د دې هلك پر سر کښېناستل، ټولو خلکو نارې پورته کړې چې هم دی به زموږ پاچا وي .

ټول وزيران راوړاندې شول، مشر وزير ورته شاهي چپنه په غاړه کړه. يو بل وزير ورته تاج پر سر کړو او دی يې د ماڼۍ پر لوري بدرګه کړ، هغه وخت هلك احساس وکړ، چې د هغه غوني زيږ- زيږ شول، مری يې وچه او پښې يې په رپېدو شوې .

يوه سپين ږيري وزير ورته په غوږ کې وويل :

وېرېږه مه !

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هلك اوس خبر شو، چې وېره څه وي؟ هغه ته د مور خبره په زړه شوه :

وېره داسې بلا ده چې هر انسان يې په خپل ژوند کېويني .

هغه وېره موندلې وه، خو هله چې پاچا شو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غريب وليداد- [د هندوستان کيسه]

په يوه کلي کې يو غريب او بوډا سړی يوازې اوسېدو، چې نوم يې ولي داد و. ده به ټوله ورځ په شنو ورشو کې واښه کول. ماښام به يې د وښو لويه ګېډۍ په سر کړه، لور به يې په ملا ويستوني وټومبله او د ښار منډوي ته به روان شو.

د ده واښه به هره ورځ په پنځوانو (يوه سکه) خرڅ شول. کله څلور او کله به يې په څلورنيمو انو ځان ته ډوډۍ واخيستله او کور ته به راغی. ډوډۍ به يې وخوړله او هغه ټکه (نيمه انه) يا انه چې به ورسره پاتې وه، د خپلې جونګړې په ګوټ کې ښخ شوي منګي ته به يې واچولې.

ولي داد له خپل ژونده ډېر خوشحاله و، ډېره موده همدغسې تېره شوه. يوه ورځ يې خپلو جامو ته وکتل او فکر يې وکړ، چې نوې جوړه جامې ځان ته واخلي، د جونګړې په ګوټ کې له ښخ منګي نه يې ټولې ټکې انې راوايستلې او حيرانه پاتې شو، چې دومره ډېرې پيسې څنګه راټولې شوي. ځان له يې د خامتا يوه جوړه جامې واخيستې، خو بيا هم ډېرې پيسې ورسره پاتې وې. نه پوهېده چې په دې پيسو څه وکړي. ټوله شپه يې چورت واهه. اخر سهار راپاڅېد، نو ټولې پيسې يې يوه زرګر ته يووړې. هغه ورله په دې پيسو د سرو زرو يو بنګړی جوړ کړ.

اوس ولي داد حيران و، چې د سرو زرو په بنګړي څه وکړي؟ د ده اولادونه هم نه وو، په بازار کې به يوه سړي تل د خپلو اسونو لپاره له ولي داد نه واښه رانيول.

نن چې يې واښه منډيي ته يووړل، نو هغه سړی يې وليد، له هغه يې پوښتنه وکړه، چې ته خود تجارت لپاره ډېرو ملکونو ته ځې راځې، دا راته ووايه چې يوه ډېره ښايسته او نېکبخته ښځه پېژنې؟

تجار يو څو شېبې سوچ وکړ، بيا يې وويل :

له دې ځايه شمال لوري ته د ښايستان وطن دی. د دې ملك شهزادګۍ ډېره ښکلې او په ښه نامه يادېږي.

خو ستا ورسره څه کار دی؟ هغه له خپله جېبه د سرو زرو بنګړی راوايست او تجار ته يې وويل :

ته چې کله هم ښايستان ته لاړې، نو دې شهزادګۍ ته زما له اړخه دا بنګړی ډالۍ کړه او ورته ووايه چې دا د يوه داسې کس له خوا تا ته ډالۍ کېږي، چې په ښه عمل باور لري .

تجار له هغه نه بنګړی واخيست او څه موده وروسته چې د يوې قافلې سره يې ښايستان ته خپل تجارتي مالونه يووړل، نو شاهي ماڼۍ ته هم لاړو، په هغو ورځو کې دا دود و چې تجارانو به ښه او ناپايه شيان د پاچا دربار ته وړل او په بدل کې به يې ډېرې پيسې ګټلې. د خپل مال د خرڅولو نه وروسته تجار له شهزادګۍ سره د ليدلو خواست

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړ او بیا یې د ولي داد بنګړی ورته وړاندې کړ او ورسره یې د هغه پیغام هم ورله ورکړ. شهزادګۍ چې د تجار د خولې دومره ساده پیغام واورېد او بنګړی یې ولید، نو په سترګو کې یې اوښکې راغلې. سم له لاسه یې امر وکړ، چې د اصلي ورېښمو، کتانو، بخملو او کمخوابو رختونه دې په یوه اوښ بار کړای شي او د شهزادګۍ له خوا دې هغه ته ورسول شي. تجار ته یې هم د لارې خرڅ او نورې تحفې ورکړې .

تجار چې بېرته خپل ښار ته راورسېد، نو د رخت له بار سره اوښ یې د ولي داد د جونګړې مخې ته ودراوه. هغه په دې وخت کې د وښو لپاره روانېدونکی و. د تجار په لیدلو خوشحاله شو. خو هغه چې ورته د شهزادګۍ د ډالۍ کیسه وکړه، نو دی وارخطا شو.

دی نه پوهېده چې په دې ورېښمو او کمخوابو څه وکړي. ده اوس اوس ځان ته د خامتا جوړه اخیستې وه،نورې جامې یې نه وې په کار. ډېر فکرونه یې وکړل، اخر یې له تجار څخه پوښتنه وکړه، چې ته څوك داسې سړی پېژنې چې ډېر ایمانداره او مېړنی وي؟

تجار ورته وویل :

داسې به ډېر خلك وي، خو له دې ځایه جنوب لوري ته یو ملك د نېك آباد په نامه یادېږي. هلته یو شهزاده دا صفتونه لري.

هغه ورته په خوشحالۍ وویل :

بس اشنا زما غم دې غوڅ کړ. ته چې هر وختې نېك اباد ته ورتللې، نو دا اوښ ورته ډالۍ کړه او ورته ووایه چې زه د ایمانداره او مېړنو خلکو ډېر قدر کوم .

تجار یو څو ورځې په ښار کې و. بیا له یوې تجارتي قافلې سره چې نېك اباد ته لاړ، نو شاهي دربار ته یې هم حاضري ورکړه، د ورېښمو او کمخوابو بار شوی اوښ یې ورته یووړ او د ولي داد پیغام یې هم ورکړ. شهزاده چې دا واورېدل نو ډېر خوشحاله شو، تجار ته یې سره زر انعام ورکړل او د هغه لپاره یې دوولس ښه چاغ اسونه د ډالۍ په توګه واستول .

ولي داد د رخت د بار شوي اوښ نه د ځان خلاصولو وروسته ډېر ارامه و، هماغسې به یې واښه کول او په منډیې کې به یې خرڅول، پاتې پیسې به یې په منګي کې غورځولې .

تجار چې له نېك اباد نه بېرته راوګرځېدو، نو د هغه د جونګړې ته هم ورغلو، دوولس چاغ اسونه ورسره وو .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولي داد چې له تجار نه ټوله کيسه واورېده، نو ډېر وارخطا شو. هېڅ نه پوهېده چې په اسونو څه وکړي. ده چې به ټوله ورځ څومره واښه کول، دا اوس هم په پنځو انو خرڅېدل او دا پيسې د ده لپاره بس وي. اسونو ته به واښه له کومه ځايه راوړي .

تجار ته يې منت زارۍ پيل کړې، چې له دې اسونو نه دې دوه اسونه ځان ته واخلي او نور دې د ښايستان شهزادګۍ ته يوسي، ځکه د ورېښمو بار اوښ شهزادګۍ ورلېږلی و.

تجار په دې خبره رضا شو او څو ورځې وروسته چې هغه اسونه د هغه د جونګړې له مخې نه يووړل، نو ده د شکرانې نفلونه وکړل. د شپې يې ډوډۍ وخوړه او د ډېرو شوګيرو وروسته په ارام خوب ويده شو.

د ښايستان شهزادګۍ چې اسونه وليدل، نو له تجاره يې پوښتنې پيل کړې، چې د دې ډالۍ هدف څه و. تجار ورته وويل :

زما ملګری ستا د ښه عمل قدر کوي او د منني لپاره يې دا اسونه رااستولي دي.

شهزادګۍ د خپل پلار (پاچا) سره سلا مشوره وکړه. هغه ورته وويل :

د چا ډالۍ بېرته ګرځول، ښه کار نه دی. خو موږ کولای شو چې اوس دې سړي ته دومره قيمتي ډالۍ ورواستوو، چې دی يې هېڅ ځواب ونه لري او په دې شان به موږ ته بيا څه شی نه رالېږي. شهزادګۍ په دې خبره خوشحاله شوه او امر يې وکړ، چې شل سپين اسونه دې په سرو او د سپينو زرو لوښو قاشوغو او د ښايست د شيانو بار کړای شي او هغه ته دې ډالۍ کړی شي. تجار ته يې يوه محافظه ډله عسکر هم ورکړل .

کله چې دا شل اسونه او د دوی محافظان د ولي داد جونګړې ته ورورسېدل، نو د ښار ټول ماشومان او وزګار هم ورسره مل وو. ولي داد په وښو کولو بوخت و. يو چا ورته خبر وکړ، چې ستا کور ته اسونه ولاړ دي، ده عاجز وارخطا د کور پر لوري منډه کړه. تجار ته يې په ژړغوني غږ وويل :

زه په دې اسونو او عسکرو څه وکړم، ته خو خبر يې چې زه غريب سړی يم. له دې اسونو څلور ته واخله او نور د نېك اباد شهزاده ته زما له اړخه ډالۍ کړه، چې د هغه د دوولسو اسونو بدل مې خلاص شي .

تجار چې بيا نېك اباد ته لاړ او شهزاده چې سرو او سپينو زرو بار اسونه وليدل، نو د ولي داد په هکله يې ترې نورې پوښتنې وکړې، تجار ورته وويل :

ولي داد ډېر نېك او ساده انسان دی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهزاده اوس د ډالۍ په بدل کې شل نور اسونه، شل اوښان او شل هاتیان (فیلان) چې ټول په ملغلرو او د سرو زرو په زنګو سمبال وو، هغه ته د ډالۍ په توګه روان کړل. د دې قافلې د ساتنې لپاره یې پنځوس عسکر او پنځوس نوکران هم ورواستول .

کله چې دا قافله د هغه ښار ته ورسېده، نو ماسپښین تېر و، ولي داد د ښو پنډ جوړ کړی و، کله چې د اسونو، اوښانو او د هاتیانو قافله او تجار یې هم ورسره ولیده، نو ځان یې په ښو کې پټ کړ. خو تر کومې به پټېدو، خپلې جونګړې ته راغی او چې خبر شو چې دا هرڅه د هغه وو، په چیغو شو. ویل یې :

زه بوډا سړی یم، نن یم، سبا نه یم، دا هرڅه زما هېڅ په کار نه دي .

تجار هم خواشینی شو، دی پوهېده چې هغه څومره ساده ژوند تېراوه، خو بله چاره نه وه، دننه په جونګړه کې له هغه سره کښېناست او ورته ویې ویل :

بس دا وروستی ځل دی، څه پرې وکړم.

ولي داد ورته وویل :

ښه که وروستی ځل دی، نو دا هرڅه ښایستان ته یوسه او که شهزادګۍ درته نورڅه ډالۍ درکوي، نو ورته ووایه چې زه مړ یم .

تجار ته یې دوه اسونه، دوه اوښان او دوه فیلان مزدوري ورکړه او کله چې دا قافله څو ورځې وروسته له ښاره ووتله، نو ولي داد د خدای شکر وایست .

کله چې د اسونو، اوښانو او د هاتیانو قافله ښایستان ته ورسېده او شهزادګۍ ته وړاندې شوه، نو حیرانه پاتې شوه، بیا یې له پلار سره سلا وکړه. د پاچا هم تلوسه شوه، چې اخر دا ولي داد نومی سړی څه غواړي. ده فکر کاوه، چې کېدی شي د شهزادګۍ سره یې واده غوښته. نو که داسې وي، نو په کار ده چې په خپله یې ووینې.

شهزادګۍ هم په دې باور وه، چې دومره ډېرې ډالۍ څوك هسې نه ورته رالېږي. لنډه دا چې دا وارې دوی تجار ته وویل، چې په خپله به ورسره ځي، خو دوی دا هم نه غوښتل چې ډېر په شان و شوکت ورشي. یوه قافله جوړه شوه.

کله چې دا شاهي قافله د هغه کلي ته نژدې شوه، نو پاچا او شهزادګۍ په بیدیا کې یوځای غوره کړ او هلته یې خپلې خېمې ودرولې. بیا یې تجار ته وویل چې ورشه خپل ملګري ته خبر ورکړه، سبا سهار دې زموږ خېمې ته راشي، چې موږ ورسره ملاقات وکړو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تجار لاړ او ولي داد ته یې دا ټوله کیسه تېره کړه. هغه چې واورېدل نو په ژړا شو. ده نه غوښتل چې له پاچا او شهزادګۍ سره ووینې. خپلو خړو جامو ته یې کتل، ارمان یې کاوه، چې کاشکې په منګي کې یې پیسې نه وې راټولې کړې، اوس به بېغمه وای .

د شپې د سیند پر لورې روان شو، د یوې اوچتې تیږې له پاسه وخوت، چې ځان په اوبو کې لاهو کړي. خو بیا ووېرېده، ځان وژل ورته ګناه ښکارېده، هملته کښېناست او خدای پاك ته یې فریاد پیل کړ، نابېره د ده مخې ته دوه ورې ښاپېرۍ ودرېدې او پوښتنه یې ترې وکړه چې دی ولې ژاړي. هغه ورته د خپلې بدمرغۍ کیسه تېره کړه. ښاپېرو وخندل او ورته ویې ویل :

ته ډېر ساده یې. خو ځکه موږ تا ته یو شی ډالۍ کوو.

د سترګو په رپ کې هغه ولیدل، چې په تن یې ډېرې ښکلې جامې وې. په سر یې ښکلې پټکی تړلی و او په پښو کې یې د سرو زرو په تار ګنډل شوې پڼې وې. ده خپلې جونګړې ته منډې کړې، خو هلته یو ښایسته کور ولاړ و او په کې نوکران ولاړ وو .

په بله ورځ هغه د پاچا او د شهزادګۍ د هرکلي لپاره د هغوی خېمې ته ورغلو او دوی ته یې د مېلمستیا بلنه ورکړه.

په مېلمستیا کې یې پاچا ته خواست وکړ چې شهزاګۍ دې د نېك اباد شهزاده ته واده کړي، پاچا ترې پوښتنه وکړه چې �ته دا شهزاده پېژنې، نوم یې څه دی.�

هغه غلی پاتې شو. نو تجار ورته د نېك اباد د شهزاده نوم وروښود. بیا داسې وشول، چې د نېك اباد شهزاده هم د ولي داد د لیدلو لپاره راغی او لنډه دا چې د هغه په کور کې د دواړو واده جوړ شو .

د دواړو ملکونو خلکو جشن وکړ، پاچا له هغه څخه پوښتنه وکړه چې دی څه غواړي. ولي داد ورته وویل :

زه خپله جونګړه بېرته غواړم، زما لپاره د ورځې څلور انې بس دي. ټولو د ده دا ارمان ومانه او ولي داد پاتې عمر هم په وښو کولو تېر کړ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بیدګلیت- [د شمالي ویلز کیسه]

د بریتانیې د شمالي ویلز سیمه یو وخت خپلواکه وه. دلته یو ډېر اوچت غر د سنوډن په نوم یادېږي، کله چې لاروی د غره پر لوري سیل لپاره ځي، نو په لاره کې په یوه قبر ورپېښېږي، چې د بیدګلیت توري پرې لیکلي دي .

د ویلز په ژبه کې بید د قبر معنی ورکوي او ګلیت پخوانی نوم دی. دا کیسه د دې قبر پر شناختې لیکلې ده .

ډېره موده کېږي، چې په دې سیمه کې لوویلین نومی یو سردار اوسېده. د هغه یو سپی ګلیت نومېده، دا سپی هغه ته د انګلستان پاچا په تحفه کې ورکړی و. په کور کې به دی لکه وری نرم او ارامه اوسېده. خو په ځنګل کې د ښکار پر وخت به یې لکه د پړانګ منډې وهلې. د سردار خپل دا سپی ډېر خوښ و او ټولو خلکو ته به یې په فخر ښکاره کاوه .

یوه ورځ سردار سهار وختي له خپلو ملګرو سره په ښکار ووت، ټول سپي ورسره وو. په یوه ځای کې دوی سویې ولیدلې او ټولو وغوښتل چې خپل سپی ورپسې وځغلوي. سردار شپېلۍ کړه، خو ګلیت هېڅ ښکاره نه شو، دی حیرانه و، چې سپی یې څه شو. پخوا خو چېرې داسې نه وو شوي، ګلیت به له ټولو سپو تر مخه منډې وهلې. اوس دی ورك و .

ورځ په ښکار تېره شوه، سردار ناارامه و، لومړی یې ځان ته تسلي ورکوله، چې په خپله به راپیدا شي، خو ورو ورو یې تلوسه زیاتېده. خپلو ملګرو ته یې عذر وکړ او بېرته خپل کور ته روان شو. خپل کور ته چې رانژدې شو، نو ګلیت یې ولید، چې له لویې دروازې نه بهر پر مځکه ناست و. د سردار زړه یو څه ارامه شو، شپېلۍ یې ورته ووهله او ویې ویل:

ته ډېر شوخ یې، نن ته چېرته وې او ولې اوس د کور مخې ته ناست یې؟

نور کله به ګلیت د خپل بادار په لیدو په ټوپونو شو. خو نن له خپله ځایه ونه خوځېدو. سردار حیرانه، خو ډېر ژر یې دا حیراني په وارخطایۍ بدله شوه.

د ګلیت خوله او پښې په وینو لړلې وې، تر کوره ځای پرځای د وینو نښې وې، ګلیت هم ټپي و.

سردار ته خپل ماشوم زوی ورپه یاد شو، چې سهار یې په زانګو کې ویده پرېښی و. ده د کور له دروازې د زانګو پر لوري منډې کړې، هرې خوا ته وینې وې. زانګو تشه وه او په هغې کې هم په وینو لړلې وړه توشکه د یوې خونړۍ جګړې منظر وروړاندې کاوه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار له غم او قاره لېونی شو. شاته یې وکتل، ګلیت له خپله ځایه راپاڅېدلی او د ده پر لوري ورو ورو راروان و. سردار چې ورته په قار وکتل، نو د ده له خولې یو کمزوری غږ راووتلو. داسې لکه چې څه ویل غواړي، خو سردار خپلې تورې ته لاس کړ او په قار یې وویل :

بدبخته! ته خو لېوه وختلې. دومره موده ما د خپل ماشوم په شانې ساتلی وې او نن تا زما ماشوم وخوړ. سپي خپل سر ټیټ کړ او د خپل بادار په پښو کې کښېناست، بیا یې خوله اسمان ته کړه او له خولې یې داسې غمجن غږ راپورته شو، لکه چې ویل یې:

کاشکې ته زما په ژبه پوهېدای.

خو سردار د اولاد په غم کې دومره لېونی شوی و، چې توره یې راپورته کړه او سپی یې وواژه. هم په دې وخت کې ده د ماشوم ژړا واورېده، سردار بلې کوټې ته ورغلو، نو څه ګوري چې ماشوم یې روغ او ژوندی په کټ کې پروت و. ورسره نژدې یو لېوه مړ پروت و.

سردار پوه شو چې څه شوي وو. ګلیت له لېوه سره جنګېدلی و او د ده ماشوم یې ژغورلی و. د هغه له سترګو اوښکې روانې شوې او په چیغو چیغو یې ژړل، اوس ده د خپل وفادار سپي ماتم کاوه. بیا سردار هم په هغه ځای کې چې ګلیت یې په ناسته لیدلی و، د هغه قبر جوړ کړ. دا کیسه شا و خوا په ټولو ځایونو کې خلکو یو بل ته کوله او د بیدګلیت سیمه دومره مشهوره شوه، چې اوس هم کله په دې لاره ځوك تېرېږي، نو یو واري بیدګلیت ته ارو مرو درېږي.

## ښوروا- [د چك کیسه]

یوه شپه له سیلۍ سره باران هم اورېده، سخت توپان و. خلك په خپلو کورونو کې وو. یوه سپین سرې ښځه ځانله یوازې اوسېده. د هغې د کور دروازه وډبېده. هغې فکر وکړ، چې سیلۍ دروازه ټپل وهي، خو لږه شېبه نه وه تېره، چې ور په زوره زوره وډبېده .

سپین سرې ژر دروازه خلاصه کړه، ویې لیدل چې یو ځوان سړی په لمدو خیشتو جامو کې ولاړ دی، له یخنۍ رېږدي. سپین سرې ښځې ته یې وویل :

زه مسافر یم، که نن شپه دې راته په خپل کور کې ځای راکړ، نو زه به دې دا احسان ټول عمر نه هېروم.

سپین سرې ښځې ورته وویل :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه ده، دننه راشه په نغري کې اور بل دی... خپلې لمدې جامې وچې کړه. خو زه ډوډۍ هم نه لرمه او ستا لپاره کټ هم نه شته. ته مجبوره یې، چې له نغري سره نژدې پر دې کمبله شپه تېره کړې.

سړي ورته وويل :

بس چې سرپناه وي، نور مې هېڅ شی نه دي په کار.

ښځې په نغري کې نورې وچې دړې کېښودې، اور تازه شو. سړی چې تود شو او جامې یې هم وچې شوې. نو د خپل کمیس له جېبه یې د اوسپنې یو مېخ راوایست. دا به یې په خپلو لاسونو اړاوه رااړاوه. ښځې ورته کتل، خو غږ یې نه کاوه.

سړي ښه شېبه له دې مېخ سره لوبې وکړې، بیا یې له ښځې پوښتنه وکړه:

ته خبره یې چې دا مېخ څومره د کار دی .

ښځې له وړې نه تار جوړاوه. په ډېره خشکه لهجه یې ورته وويل :

هو! خبره یمه، مېخ په لرګي کې ټک وهل کېږي.

سړي وخندل او ويې ويل :

ته نه یې خبره... زه له دې مېخ نه ښوروا جوړولای شم. ښځې لږ په قار ورته وويل :

هسې اوتې بوتې مه وایه، دا ناشونې ده.

سړي وويل :

که ما درته ثابته کړه، نو منې به یې.

ښځې ورته وويل:

ښه ده، ثابته یې کړه .

بیا یې د ښوروا پخولو دېګ ورته راوړو .

سړي مېخ د دېګ په تل کې کېښود او اوبه یې په کې واچولې. بیا یې دېګ پر اور کېښود. لږه شېبه چې تېره شوه، نو سړي د دېګ سر لیرې کړ او ښځې ته یې وويل :

که لږه مالګه او تور مرچ راکړې نو ښوروا به تیاره شي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځه پاځېده او د يوې الماری دروازه يې پرانيستله او ويې ويل:

هو! مالګه او مرچ خو په هر کور کې وي.

سړي ته يې د مالګې او د تورو مرچو پوڼۍ ورکړې. ده په دېګ کې ورګډ کړل. يوځو شېبې نورې هم تېرې شوې. سړي بيا د دېګ سر ايسته کړ او ويې ويل:

د پيازو يوه غوټه که وای، نو د ښوروا خوند به سپوا شوی وای.

ښځې ورته بد بد وکتل، خو بيا له ځايه راپاځېده او ويې ويل:

ګورمه که چېرې پياز وي .

يوې بلې الماری ته ولاړه او د هغې دروازه يې پرانيستله. سړي سر اوچت کړ او ويې ليدل چې په دې الماری کې د خوړو توکي ايښي وو.

ښځې د پيازو يوه غوټه راواخيسته او سړي ته يې وويل :

اوس به نو ته چاقو هم غواړې.

سړي وخندل او د ښځې نه يې پياز او چاقو واخيستل. پياز يې ټوټې ټوټې کړ او دېګ ته يې ورلړه کړ. بيا يې په نغري کې اور تازه کړو، يوځو نورې دړې يې کېښودې او ويې ويل:

ښوروا هم هر ډول وي، د مېخ ښوروا ساده وي. خو که په دې کې څو ګازرې او الوګان ورګډ شي، نو خوند يې لا زيات شي. خو خير پروا نه کوي.

اوس له دېګ نه د پيازو د پخېدو خوشبويي پورته شوې وه او ښځې نابېره د لوږې احساس وکړ، د سړي خبرو ته يې پام و. بې له دې چې هغه ته يې څه ويلي وي، د الماری لوري ته لاړه، يو څو ګازرې او دوه الوګان يې ترې راوايستل او سړي ته يې ورکړل. هغه ګازرې او الوګان سپين او ټوټې کړل، په دېګ کې يې ورګډ کړل. لږه شېبه وروسته چې يې د دېګ سر ليرې کړو، نو د ښوروا خوشبويۍ د ښځې سپږمې وتخنولې. له سړي يې وپوښتل:

په څومره وخت کې به دا ښوروا پخېږي؟

سړي په يوې څمڅۍ د دېګ له تل نه مېخ رااوچت کړ او ويې ويل :

د دې مېخ ښورا ډېرو کمو خلکو خوړلې ده، خو که په دې کې د غوښې وړې وړې ټوټې ورګډې شي، نو بيا دا د پاچاهانو خواړه دي. خو زما او ستا په شان خلك دومره طالع نه لري، چې په دې ښوروا کې غوښه ولري.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځې ناڅاپه وويل:

ولې يې نه شو خوړلای، پاچاهان خو هم زموږ په شان انسانان وي.

بيا لاړه او له الماری نه يې د غوښې يوه ټوټه راواخيسته. په چاقو يې ترېنه وړې وړې ټوټې بېلې کړې او سړي ته يې ورکړې. هغه د غوښې سره يوځه اوبه هم په کې ورګډې کړې. اور يې بيا تازه کړ او ويې ويل :

اوس چې موږ داسې ښه د پاچاهانو خواړه لرو، نو بايد چې د پاچاهانو په شان يې وخورو.

ښځې وويل:

بېشکه ولې نه.

د کوټې بل سرته لاړه، هلته کې يو مېزاو دوه څوکۍ ايښې وې. دې له الماری نه يو ښه ښکلی د مېز پوښ راواخيست او پر مېز يې اوار کړ. بيا يې چيني لوښي راوايستل او پر مېز يې کېښودل، قاشوغې يې هم راوايستلې.

سړي دا هرڅه ته کتل او بيا يې وويل:

ښوروا به څه شي کې راوباسم؟

ښځې ورته يوه غټه کاسه د ښوروا لپاره او يوه رکابۍ د غوښې او ترکارۍ لپاره ورکړل. بيا يې يوه غټه ډوډۍ هم راوايستله. ټوټې يې کړه او پر مېز يې کېښوده. سړي وويل:

که ډوډۍ دې راوايستله، نو بايد چې پنېر هم ورسره وي، ځکه چې د مېخ د ښوروا خوړلو نه وروسته د هضم لپاره پنېر ضروري دي.

ښځې پنېر هم راواخيست، دواړو ښوروا، ډوډۍ او پنېر وخوړل. سړي ښه ځان موړ کړی و، ښځې ته يې وويل :

ستا ډېره مننه .

ښځې ورته وويل:

مننه خو ستا په کار ده، چې دومره ښه ښوروا دې راته پخه کړه .

سړي د ښوروا د کاسې په تل کې پروت مېخ راوايست او ويې ويل:

په دې کې زما هېڅ کمال نه شته، دا هرڅه د دې مېخ له برکته دي.

ښځې ورته وويل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس چې تا دومره ښه خواړه راته برابر کړل، نو ته حق لرې چې په کټ ويده شې. زما هسې هم ډېر ساړه کېږي، زه به د نغري سره پر کمبله پرېوځم.

سړي شپه ارام خوب وکړ. سهار ښځې ورته چاي او ډوډۍ ورکړل او بيا يې ورته وويل :

ستا مېخ رښتيا چې عادي مېخ نه دی. سمبال يې وساته، چې څوك يې پټ نه کړي.

سړي ترېنه رخصت واخيست او پر خپله لار روان شو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سمندر اوبه مالګينې ولې وي؟- [د ناروې کيسه]

په يوه کلي کې دوه وروڼه اوسېدل، چې يو په کې ډېر شتمن و او بل غريب او بېوزله. يوه ورځ د غريب ورور سره په کور کې د خوړو لپاره هېڅ پاتې نه شول، نو د خپل شتمن ورور کره لاړ او مرسته يې ترې وغوښته. شتمن ورور ورته وويل چې ستا له حال نه زه خبر يم. دا د يوې ورځې خبره نه ده، سبا به بيا راروان يې او سوال به راته کوې .

غريب ورور ورته وويل:

ته بس همدا نن راسره يوځه لاس وکړه. بيا به دې نه په عذابوم.

شتمن ورور ورته وويل:

سمه ده، زه نن تا ته ښه ډېره غوښه درکوم، دا واخله او د قاتيې (قحطۍ) ښار ته ورشه، خو بيا راته خپل سپېره مخ ښکاره نه کړې.

غريب ورور يې ډېر ساده و. د غوښې نه يې يو پنډ جوړ کړ او د قحطۍ د ښار په لټه شو. ټوله ورځ يې مزل وکړ، په لاره کې به يې له هر چا پوښتنه کوله، چې د قحطۍ ښار په کوم ځاى کې دى. ځينو به ورته لاره سمه کړه، ځينې نور بيا خبر نه وو.

د شپې يوه ځنګل نه تېرېده، چې له ليرې يې رڼا وليده. ده اندازه لګوله چې دا به د قحطۍ ښار وي او که نه؟ په دې کې يې يو بوډا سړى وليد، چې ونې ته يې تبر نيولى و.

له هغه يې وپوښتل، بوډا ورته وويل چې همدا د قحطۍ ښار دى. خو ته ولې هلته تلل غواړې؟

غريب ورته خپله ټوله کيسه تېره کړه. بوډا وويل:

که ته د دې غوښې سره د قحطۍ ښار ته ځې، نوهرڅوك به دا غوښه په ډېرو پيسو درنه غواړي. خو ته ورته وايه چې د غوښې په بدل کې راته مېچنه راکړئ.

غريب د ښار لوري ته روان شو. هلته له رسېدو سره يې يو تن ته د غوښې ټوټه ښکاره کړه. هغه ورته غوښه بيه کړه، بيا بل کس راوړاندې شو، چې د هغه بيه له لومړۍ نه ډېره لوړه وه. ورو ورو د غوښې بيه ډېره لوړه شوه. هر چا پيسې راايستلې وې او يو شورماشور جوړ شو، غريب خپل لاس اوچت کړ او ټولو ته يې وويل :

زه دا غوښه د يوشي په بدل کې خرڅوم .

ټول غلي شول، غريب سړي وويل:

تاسو سره د لاس يوه مېچنه ده، هر څوك كه هغه راته راکړي، غوښه د هغه ده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو تن په کې وویل :

په دې ښار کې هم دغه یوه مېچنه ده، که دا تاته درکړو، نو موږ به څه کوو؟

خو غریب سړی په دې ټینګ شو، چې مېچنه راکړئ او غوښه واخلئ .

خلکو په خپلو منځو کې بحث کاوه، اخر په دې رضا شول، یو سړی په منډه لاړ او د یوې زړې زمانې وره مېچنه یې راوړه، په دې کې به یې کافي (قهوه) میده کوله.

غریب چې دا مېچنه ولیده، نو سخت خپه شو. ده فکر کړی و، چې مېچنه به د سرو زرو وي. خو اوس یې ژبه کړې وه. ټوله غوښه یې دې خلکو ته ورکړه. مېچنه یې ترې واخیستله او بېرته د ځنګله پر لوري روان شو. هلته یې بوډا سړی بیا ولید، په ډېر ګیله من غږ یې ورته وویل:

بابا! تا راسره ښه ټوکه وکړه، د پیسو پرځای مې دا زړه مېچنه واخیسته، په دې به زه څه کوم؟

بوډا ورته وویل:

غوږ رانژدې کړه، چې د دې مېچنې کمال درته وښیم.

غریب سړی د شپې ډېر ناوخته خپل کور ته ورسېدو، نو ښځه یې ډېره په قهر ورته پاڅېده. هغې ورته ټوله ورځ انتظار کاوه او نه پوهېده چې سړی یې چېرته ورك شوی و. په کور کې د خوړو لپاره هېڅ نه وو.

سړي چې زړه مېچنه پر مېز کېښوده، نو ښځه یې نوره هم راوپارېده، په کور کې د څښلو لپاره کافي هم نه وه، خو سړي ورته وویل :

دا مېچنه ډېره د کار مېچنه ده. د مېچنې لاستی یې ونیو او بیا یې وویل:

مېچنې ګرږه ګرږه... ډوډۍ راوباسه، په ترږه... د سړي د دې منتر سره د مېچنې لاستی وخوځېد او ګرمې ګرمې ډوډۍ ترې راووتلې. سړي بیا مېچنې ته امر وکړ:

مېنچې ګرږه ګرږه... پنېر راوباسه، په ترږه...

اوس نو له مېچنې تازه پنېر راووتل.

ښځه او غریب سړی دواړه حیران هم وو او خوشحاله هم. ژر یې ډوډۍ وخوړه، مېچنه یې تر کټ لاندې پټه کړه او ویده شول.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بل سهار دوی له مېچنې کافي، شوده، رنګارنګ مېوې او خواړه، دغه راز نور شیان وغوښتل. په کور کې یې هرڅه برابر کړل، څو ورځې چې تېرې شوې او ډوډۍ ورکړه، ډېره شوه نو خپلو ملګرو ته یې د ښې مېلمستیا بلنه ورکړه. شتمن ورور یې هم راوغوښت. هغه چې د ورور په کور کې هرڅه ښه ډېر ولیدل، نو حیران پاتې شو. ورور نه به یې غلي غوندې پوښتنه وکړه، چې دا هرڅه یې څنګه موندلي وو. خو غریب به ورته موسکی شو.

اخر چې ټول مېلمانه خپلو خپلو کورونو ته لاړل، نو شتمن ورور ورسره خوږې خوږې خبرې پیل کړې. غریب ورور یې ساده و، خبره یې له خولې ووتله، چې دا هرڅه د یوې مېچنې برکت و .

شتمن ورور ورته وویل :

اوس خو ته هرڅه لرې. دا مېچنه ما ته راکړه، زه به درته په بدل کې ډېرې پیسې درکړم.

غریب ورور نژدې دا کار کړی و. خو ښځه یې هوښیاره وه. هغې ورته وویل :

د سرو زرو ډکه یوه بوجۍ که راکړې نو د فصل د رېبلو پر وخت به مېچنه یوسې .

شتمن ورور په دې رضا شو. د سرو زرو د سکو ډکه یوه بوجۍ یې ورته راوړه او څو ورځې وروسته د فصل د لوونو پر وخت یې د ورور له کوره مېچنه هم یووړه.

د شتمن ورور ښې ډېرې مځکې وې او د لوونو په دې وخت کې به ډېرو خلکو پر مځکو کارونه کول. ده غوښتل چې ټولو خلکو ته مېچنه او د دې کمال وروښيي. د غرمې د ډوډۍ پر وخت یې میچنه پر یوه مېز کېښوده او د هغه مېرمنې په چیغه وویل :

مېچنې ګرېه ګرېه.. ښورا راوباسه په ترېه.

ماهیان راوباسه په ترېه.

د هغې له خولې دا ټکي راوتلي وو، چې مېچنه وګرځېدله او ښوروا ترې راوتل پیل شول. بیا ترېنه وریت کړي ماهیان راوتل، خلکو له خپلو کورونو لویې لویې کاسې راځغلولې، چې ماهیان او ښوروا په کې راډك کړي. د ټولو په کورونو کې چې هرڅومره لوښي وو، په ټولو کې ماهیان او ښوروا وو.

یو چا شتمن سړي ته وویل چې بس کړه، دا مېچن دې ودروه. خو شتمن سړي د مېچنې په بندولو نه پوهېده، کله به یې ویل :

بس کړه، بس کړه، مېچن بس کړه.

کله به په چیغو شو چې مېچن ودرېږه په ترېه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله به یې د هغې لاستی تاو کړ. کله به یې ورباندې لاسونه کېښودل. خو مېچنه وه، چې ترېنه د ښوروا او د ماهیانو یو سېلاب روان و. کله چې خلکو د ښوروا په سېلاب کې لامبو وهل پیل کړل. نو شتمن ورور په منډه منډه د خپل غریب ورور کره لاړ او ورته ویې ویل:

د خدای لپاره دا مېچنه دې واخله، زه خو یې هېڅ په بندولو نه پوهېږم. د ورور ښځه یې وروړاندې شوه او ویې ویل :

مېچنه به درنه اخلو، خو په دې شرط چې نور سره زر به راکوې.

غریب ورور یې لاړ او د مېچنې په لاستي یې لاس کېښود، سم له لاسه دا بنده شوه. داسې ښکارېده لکه چې د هغه په لاس کې کوم جادو و.

تر دې پېښې وروسته غریب ورور د سمندر پر غاړه ځان له یو ښایسته کور جوړ کړ او ژوند یې په کې کاوه. د خپل حاجت شیان به یې له مېچنې غوښتل، خو په دومره اندازه چې گوزاره به یې پرې کېده.

یوه ورځ په سمندر کې د تېرېدونکو بېړیو نه د یوې بېړۍ کپتان په خپل دوربین کې په ساحل دا ښکلی وړوکی کور ولیدو، نو په زړه کې یې وگرځېدل، چې دا له نژدې وگوري.

بېړۍ لنگر واچاوه او دی له خپلو څو ملگرو سره په وړوکې کشتۍ کې کښېناست او د غریب سړي هغه ښکلي کور ته ورغی.

غریب سړي ورته ډوډۍ ورکړه. مېچنه پر یوه مېز ایښې وه. کپتان چې دا زړه مېچنه ولیده، نو له هغه یې پوښتنه وکړه. سړي ورته د مېچنې حال ووایه. کپتان چې دا واورېدل، نو سړي ته یې وویل :

دا مېچنه پر ما خرڅه کړه.

غریب سړي نه غوښتل چې داسې وکړي، خواخر د ډېرو دلیلونو او منت زارۍ نه وروسته سړی په دې راضي شو، چې کپتان به ورته ښه ډېر مال او دولت ورکوي. کپتان هم داسې وکړل او مېچنه یې واخیستله. خپلې بېړۍ ته ورغلو او فکر یې کاوه چې څه شی وغواړي. په هغو ورځو کې به مالگه ډېره گرانه وه. ځینو خلکو ته به په معاش کې د مالگې غټې هم ورکول کېدې، چې خلکو به په ډېر احتیاط سره کارولې. خلکو به د سودا په بدل کې مالگه ورکوله.

کپتان فکر وکړ، چې که دی د مالگې تجارت پیل کړي، نو ښې ډېرې پیسې به وگټي. خپلو نوکرانو ته یې امر وکړ، چې په بېړۍ کې خالي کوټې دې پرانیزي او مېچنې ته یې وویل :

مېچنې گرځه، گرځه... مالگه راوباسه په ترځه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېچنه په ګرځېدو شوه او مالګه ترې راوتله. د بېړۍ ټول ګودامونه له مالګې ډك شول. کپتان د خوشحالۍ نه په جامو کې نه ځایېده. کله چې د هغه په حساب مالګه پوره شوه، نو په مېچن يې لاس کېښود، خو مېچنه نه بندېده. کپتان ډېره هڅه وکړه، نورو خلکو وربانديې لاس کېښود، خو ورو- ورو په بېړۍ کې دومره مالګه بار شوه، چې بېړۍ په سمندر کې ډوبه شوه. مېچن په دې وخت کې هم مالګه راويستله .

د ناروې خلك باور لري چې دا مېچنه اوس هم د سمندر په تل کې لګيا ده مالګه باسي، ځکه خو د سمندر اوبه مالګينې وي.

## د کوپرې ونه- [د جنوبي بحرالکاهل د جزې کيسه]

ډېر پخوا د ارام سمندر (بحر الکاهل) د وړو جزيرو نه په يوه کې يوه ښايسته جينۍ اوسېده، چې اينه نومېده.

د دې مور پلار بېوزله وو، خو خپلې لور ته به خوشالېدل. د دوی د جونګړې سره نژدې د خوږو اوبو يوه وياله بهېده، چې هر رنګه واړه ماهيان به په کې پيدا کېدل. د اينه دا ماهيان خوښ وو او هره ورځ به يې په اوبو کې له دوی سره لوبې کولې .

يوه ورځ دا د ويالې پر غاړه ناسته وه. دواړه پښې يې په اوبو کې وې او له ځان سره يې يوه خوږه سندره ويله، په دې وخت کې ناڅاپه يومارماهي د دې پښو ته نژدې شو. جينۍ لومړی خو ووېرېده،خو مارماهي د دې په پښو کې تاو راتاو شو او بېرته لاړ.

اينې به هره ورځ دا مارماهي ليده، چې ترڅو به دې سندره ويله، هلته به ګرځېده او بيا به لاړ. يوه ورځ اينې سندره ختمه کړه، نو مارماهي نابېره د يوه ښکلي ځوان په شکل بدل شو .

اينه وارخطا شوه. خو ځوان ورته وويل :

وېرېږه مه، زما نوم ټونا دی. زه د تازه اوبو د ماهيانو ساتندوی يم .

اينه حيرانه هم وه او خوشحاله هم. بيا داسې وشول چې دا مارماهي به هره ورځ د انسان په صورت شو او ښه ډېر وخت به يې له اينې سره خبرې کولې. د اينې دی ډېر خوښ شو. خو اوس ستونزه دا وه، چې اينه د ماهيانو نړۍ ته نه شوه ورتلای اوټونا تر ډېره وخته د انسان په شکل نه شو پاتې کېدای .

يوه ورځ اينه چې د اوبو ويالې ته لاړه، نو ټونا له وړاندې نه ورته د انسان په وجود هلته ناست و. خو دی ډېر خپه ښکارېده. اينې ترې پوښتنه وکړه، چې ولې دومره خپه يې؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټونا ورته وویل :

زه نور دې ځای ته نه شم راتلای. ما ته په بل ځای کې کار راکړل شوی دی. زه درنه رخصت اخلم.

اينې چې دا واورېدل نو هغه هم ډېره خپه شوه .

ټونا ورته وویل :

زه نه غواړم چې ته په ما پسې خپګان وکړې او ز ه دا غواړم چې ټول عمر دې ستا ښکلي مخ ته وګورم. زما سترګې به تل تا سره وي. خو ددې لپاره به ته يو کار کوې .

اينې ترې پوښتنه وکړه چې څه؟

مارماهي ورته وويل :

سبا به ډېر سخت باران کېږي او په ټولو ويالو کې به سېلاب راځي. خو ته به وېرېږې نه، زه به په دې سېلاب کې ستا کور ته درځم. ته به زما سر قلم کړې او دسمندر پر غاړه په نرمو خاورو کې به يې ښخ کړې. ګوره چې دا ځای درنه هېر نه شي. په دې ځای کې به ته زما انتظار کوې.

يوه ورځ به ته ما ووينې، زما سترګې به هم تا ويني.

هغه دا خبره وکړه، جينۍ يې ښکل کړه او د مارماهي په شکل بېرته په اوبو کې ورك شو. اينې تر ډېره وخته هلته ژړل. بېرته چې کور ته راغله، نو مور و پلار ته يې ټوله کيسه تېره کړه. هغوی ورته تسلي ورکړه .

په بله ورځ اسمان خړ او باران پيل شو.په سمندر کې هم توپان و. ټولې ويالې له اوبو ډکې وې او د باران له اوبو سره هرځای سېلاب راغی. اينې د خپل کور له کړکۍ نه بهر کتل، چې په دې کې يې مارماهی وليد. دې دروازې ته منډې کړې او دواړه وروڼه يې پرانيستل. مارماهي تر درشله راغی او د اينې پر پښو يې خپل سر کېښود.

اينې په ژړا- ژړا د مارماهي سر ښکل کړ. بيا يې يوه چاړه راواخيستله او د هغه سر يې پرې کړ. باران اوس تم شوی و. اينه د سمندر غاړې ته ورغله او په يوې غونډۍ کې يې مځکه نرمه کړه او د مارماهي سر يې په کې ښخ کړ .

اينه به هره ورځ دې غونډۍ ته ورتله او کوم ځای چې يې د مارماهي سر ښخ کړی و، هلته به ناسته وه. کله به يې سندره ويله، کله به په ژړا شوه. کله به ډېره خوشحاله وه، په خوا و شا کليو کې خلك خبر شول، چې اينه لېونۍ شوې وه، څو ورځې چې تېرې شوې، نوپه دې غونډۍ به يې يو بوټې ته کتل، سندرې به يې ويلې. داسې لکه چې مارماهي بيا راژوندی شوی وي. بوټی ورو- ورو لويېده. څو کاله همداسې واورېدل او دا بوټی يوه ونه شوه. د اينې له قد نه هم اوچته ونه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي به سر اوچت کړ او په ونه کې به يې کتل، چې وړې وړې غوټې به يې له تنې راغوړېدلې وې. څو مياشتې چې نورې واوړېدې، نو يوه غوټۍ يې وليده، چې په شنه غونډه مېوه بدله شوه. ورو- ورو دا مېوه هم غټه شوه. شين رنګ يې په نسواري بدل شو او وپښته يې وکړل .

يوه ورځ اينې لاس وړاندې کړ او مېوه يې راوشکوله. د دې په نسواري وېښتو يې لاس واهه او ويې ليدل چې د دې په يوې خوا دوه سترګې جوړې وې، د مېوې سر هم هغسې و، لکه چې د مارماهي سر و او اينې داسې وګڼله، لکه چې ټونا راژوندی شوی وي او ورته ګوري .

هغې ته د ټونا خبره ورپه زړه شوه، چې زما سترګې به تا سره وي او تا ته به ګوري. اينې دا مېوه کور ته راوړه، مور و پلار ته يې ورښکاره کړه. هغوی داسې مېوه چېرې نه وه ليدلې. اينې دې مېوې ته ټونا نوم ورکړ .

د ونې نورې مېوې چې پخې شوې، نو دوی په کې يوه غوره کړه. بيا يې دا ماته کړه، چې وګوري دننه په کې څه وو. دننه د دې تك سپين مغز له اوبو ډك و.

دوی چې دا سپن مغز وخوړ، نو د مارماهي په شان خوند يې کاوه. نور خلك چې خبر شول، نو دوی هم ددې مېوې سرونه يووړل او بوټي يې وکرل.

د دې مېوې پوست دومره کلك و، چې دوی ترې لوښي جوړ کړل، د دې د نسواري وېښتو نه يې پړي يا به يې پوزکي اوبدل. د ونې لرګی دومره کلك و، چې کښتۍ يې ترې جوړې کړې. د مېوې سر به ډېره سپېڅلی ګڼل کېده. کله چې به مسافر د سمندر په سفر روانېدل، نو هر يوکس به د دې مېوې يوه- يوه دانه په سمندر کې اچوله، چې سفر يې بې خطره وي .

دوی داسې فکر کاوه، چې مېوه به د سمندر له اوبو سره نورو ملکونو ته ورسېږي او دوی به يې هم وکري .

ډېرو خلکو چې خپل خپلوان يې ليرې تللي وو، د هغوی لپاره دا مېوه په سمندر کې اچوله، چې ګوندې که دوی وږي وي، نود دې سپين مغز به وخوري. اوس دا مېوه کوپره يا ناريال نومېږي. د جنوبي بحرالکاهل په جزيرو کې اوسېدونکي اوس هم په دې باور دي، چې انسان يوازې د کوپرې په ونه او د دې په مېوې ژوند کولای شي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پائيډ شپېلی غږوونکی-- [د جرمني کیسه]

د جرمني یوه وړه ښاريه هيملين Hamelin نومېږي، د ويزر سيند پرغاړه اباده ده. ډېر پخوا دلته شتمن خلك اوسېدل، ښاريه اباده وه، خو دا شتمن خلك يې ډېر وړسترګي او حريصان وو. هر چا به غوښتل چې ښه ډېر مال وګټي. هره ورځ به د پيسو زياتولو او د راټولولو نوي نوي تدبيرونه نيول کېدل. د دولت د سپما لپاره به يې نوې لارې لټولې، يوه ورځ چا ويل سپي او پيشوګان هم زموږ ډېره شتمني خوري. د دوی په ډوډۍ ډېرې پيسې لګېږي. همدا وو چې خلکو له ښاره سپي او پيشوګان ليرې کړل .

يو څه موده چې تېره شوه، نو په ښار کې موږکان پيدا شول. خلکو به د دوی د ورکولو لپاره ډېرې هڅې کولې، خو چې له يوه ځايه به ورك شول، نو په بل ځای کې به پيدا شوي وو. په کوروتو کې د خوړو شيان پټ ساتل کېدل. خو په دکانونو او ګودامونو کې به بوجۍ سورې وې. په ډېرو خوړو موږکان هم چاغ شوي وو او د دوی وژل به هم سخت کار و .

یوه ورځ خو یوې غټې مږې په زانګو کې د يوه پراته ماشوم د خوړلو هڅه وکړه. د ښار خلك ډېر پرېشان وو. اخر ښاروال يوه غونډه راوبلله، چې د مږو د وژلو سمه لاره پيدا کړي. په غونډه کې ناستو کسانو خپله- خپله رايه ورکوله، چا به ويل د موږکانو زهر دې ورکول شي. خو د دې مخالفت وشو، چې ماشومانو ته به وربانديې تاوان ورسېږي. بل وويل د موږکانو د نيولو لپاره دې لويې لويې لومې (دامونه) جوړې کړای شي. خو د دې لپاره وخت په کار و او د خلکو زغم اوس تمام شوی و .

په دې کې ناڅاپه د غونډې د تالار په دروازه يو ځوان راښکاره شو، چې په لاس کې يې شپېلۍ نيولې وه .

ده په لوړ غږ ټولو ته وويل :

زما نوم پائيډ دی. که تاسو راته د سرو زرو سل سکې راکوئ، نو زه به داټولې مږې له ښاره ورکې کړمه.

په دې خبره ټول غلي شول، ښاروال له ټولو پوښتنه وکړه او له ډېرو خبرو او بحث وروسته ټول په دې رضا شول، چې که دې هلك ټولې موږې له ښاره وايستلې، نو ده ته به سل سکې ورکول کېږي .

هلك له هغه ځايه روان شو او هم په هماغه شېبه يې شپېلۍ خولې ته ونيوله او په غږولو يې پيل وکړ.د دې شپېلۍ غږ يوه عجيبه موسيقي لرله.

دی د ښار په کوڅو کې ورو- ورو روان و او کوم ځای چې به د ده د شپېلۍ غږ ورسېد، له هغه دکان، کور يا ګودام څخه به مږې رابهر شوې او په ده پسې به روانې شوې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښار خلك حيران هم وو او خوشحاله هم، د ټول ښار موږكانو او مږو په شپېلۍ غږوونكي پسې داسې په منډه- منډه ځغاستل، چې ته به وايې هېڅ يې نه كتل. هلك د شپېلۍ په غږولو همدغسې ورو- ورو له ښاره بهر د سمندر غاړې ته ورسېده او هلته ودرېده، بيا دى ورو- ورو د سيند په اوبو كې وردننه شو، موږكانو هم ورپسې سيند ته ورټوپ كړل. هلك په اوبو كې ولاړ و او تر ډېره وخته يې شپېلۍ غږوله، ان تر دې چې د ښار ټولې مږې په اوبو كې لاهو شوې. د ښار خلك هم د سيند غاړې ته رسېدلي وو او ټولو له خوشحالۍ نه لاسونه پړكول .

په هغه شپه د ښار خلكو ډېره موده وروسته په ارام ډوډۍ وخوړه او د شپې يې ښېغمه خوب وكړ.

په بله ورځ شپېلۍ غږوونكى پائيډ ښاروالۍ ته لاړ او له ښاروال نه يې د خپلو سلو سكو غوښتنه وكړه. خو هلته كې ټولو خلكو ورباندې وخندل. ښاروال ورته وويل :

د سرو زرو سل سكې ډېر شى دى. تا چې كوم كار كړى، د دې قيمت يوه سكه كېدى شي. دا واخله او خپله لاره نيسه .

پائيډ چې دا واورېدل نو ډېر خپه شو. دى له هغه ځايه لاړ او د ښارګوټي د مركز په لويې څلورلارې كې ودرېد.

له جېب نه يې خپله شپېلۍ راوايستله او په غږولو يې پيل وكړ. دا ځلې يوه نوې موسيقي خلكو واورېده. د شپېلۍ غږ چې راپورته شو، نو يو څو ماشومانو خپلې لوبې پرېښودې او د پائيډ پر لوري يې منډې كړې. پائيډ شپېلۍ په غږولو ورو- ورو روان شو. د ښارګوټي په كورونو كې ټول ماشومان د شپېلۍ په اورېدلو له كورونو په منډه منډه وتل او نورو سره به مل شول. دا ماشومان ډېر خوشحاله وو، چا خندل، چا چيغې وهلې، چا د شپېلۍ په موسيقۍ نڅا كوله. د ښار خلك وارخطا شول. ميندو او پلرونو هڅې كولې، چې خپل ماشومان راوګرځوي، خو داسې ښكارېده لكه چې ماشومان بهر ته د شپېلۍ له موسيقۍ پرته بل هېڅ غږ نه اوري.

ميندو ژړاګانې او ويرونه كول. پلرونو له يو بل سره مشورې او مصلحت كاوه، ښاروال هم خبر شو، خو هېڅوك نه پوهېدل چې اوس د شپېلۍ غږوونكى پائيډ څرنګه راضي كړي.

دا ځلې پائيډ سيند ته د تللو پرځاى د يوې غونډۍ پر لوري لاړ. هلته د ده د موسيقۍ طرز بدل شو .

په غونډۍ كې يوه لاره جوړه شوه او ټول ماشومان د شپېلۍ غږوونكي پسې په منډه منډه دې لاره كې داخل شول. په دې ماشومانو كې يو هلك په ښپه ګوډ و، دى وروسته پاتې و او ويې ليدل چې د غونډۍ په منځ كې دا لاره په خپله بنده شوه.

كله چې د ښار خلك غونډۍ ته ورسېدل، نو دې ګوډ ماشوم هلته ژړل. ده غوښتل چې له نورو ماشومانو سره مل واى. ده هم غوښتل چې د غونډۍ شا ته يوې ناليدلې دنيا ته ورشي. خو داسې ونه شول .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغه شپه د هیملین په ښار کې ماتم و، میندې او پلرونه د خپلو اولادونو په غم کې وو. ټول خلك پښېمانه وو، چې پائیډ ته یې ولې سل سکې ورنه کړې، هغه مال و دولت چې دوی به راټولاوه، اوس د دوی لپاره بېکاره وو. دوی د خپلې ځانځانۍ او د حرص سزا موندلې وه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ژبه او عقل - [د روس کیسه]

دا کیسه د هغه وخت ده، چې په روسیه کې شاهي نظام موجود و. د روس پاچا ته به يې تزار ويل او دی به د عيسوي مذهب پخوانۍ کليسا کې د اتوار (يکشنبې) په ورځ د عبادت لپاره ورتلو. يوه ورځ دی له کليسا نه بهر ته په شاهي بګۍ کې د خپل محل پر لوري روان و. د لارې په دواړو غاړو تر ليرې مځکه شنه وه او په ځينو کروندګر لګيا وو، په پټيو کې يې کار کاوه. پاچا غوښتل چې په دوی کې له چا سره خبرې وکړي، خپل خدمتګار ته يې وويل :

هغه ګاډيوان ته اشاره وکړه او شاهي بګۍ پرځای ودرېده. زار له بګۍ نه راښکته شو د يوه کروندګر پر لوري يې څو ګامه واخيستل.

کروندګر چې پاچا وليد، نو ژر يې لاسونه وزګار کړل او ډېر په ادب يې پاچا ته سر ټيټ کړ. بيا يې وويل :

د ستر زار په راتلو نه يوازې زما، بلکې زما د پټي، زما د خاورې او زما د کورنۍ درناوی کېږي. هر يو شی د پاچا سلامت په راتلو ښېرازه شو.

پاچا چې دا خبرې واورېدې، نو په حيرانۍ يې ترې پوښتنه وکړه:

ته خو يو معمولي کروندګر يې، خو خبرې لکه د عالمانو کوې، دا خبرې دې له کومه ځايه زده کړې دي؟

کروندګر ورته وويل :

زما لور ډېره هوښياره ده، هغې راته ويلي دي، چې په خبرو کې ښه ښه ټکي کاروه .

پاچا وخندل او ورته ويې ويل :

ښه ستا لور د ژبې استاده ده.

کروندګر ورته وويل :

نه، هغه هسې هوښياره او پوهه ده. د هغې په شان پوهه جينۍ په ټوله روسيه کې نشته .

پاچا ورته وويل :

ښه، نو دا زما نه هم زياته پوهه او هوښياره ده .

کروندګر په خپله خبره کې راګير شو. نه پوهېده چې پاچا ته څه ځواب ووايي. خو پاچا په خپلې بګۍ کې کښېناست ا و بګۍ روانه شوه. کروندګر يوڅه وارخطا شو، خو بيا په خپل کار اخته شو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مازيګر مهال وېي ليدل چې پاچا بيا په بګۍ سپور د کروندګر پټي ته نژدې راغی. يو خدمتګار ورسره ټوکرۍ اوچته کړې وه، چې په کې هګۍ وې. خدمتګار د پاچا له خوا کروندګر ته پيغام ورکړ:

که ستا لور دومره هوښياره ده، نو ورته ووايه چې له دې هګيو دې تر سبا چورګوړي وباسي او که دا کار يې ونه کړ، نو سزا به ورته ورکوي.

کروندګر چې دا واورېدل، نو ډېر خواشينی شو. د هګيو ټوکرۍ يې واخيسته او کور ته راغی. لور ته يې ټوله کيسه تېره کړه .

جينۍ په ټوکرۍ کې له هګيو نه يوه راواخيسته، دا هګۍ اېشېدلې وه، نورې هګۍ هم پخې وې. پوهه شوه چې پاچا ددې دوژلو نيت کړی دی. خو پلار ته يې تسلي ورکړه، چې :

بابا! ته ګروم (غم) مه کوه، زه به د شپې ورباندې فکر وکړم د حل يوه لاره به پيدا شي .

په بله ورځ سهار زار په خپلې بګۍ کې کښېناست او د کروندګر د پټي مخې ته ودرېده. څه ګوري چې يوه ښکلې پېغله په پټي کې اېشېدلې لوبيا کري .

زار چې دا وليدل، نو په لوړ غږ يې ورته وويل :

ستا پلار خو تا د دې ملك تر ټولو هوښياره او پوهه جينۍ ګڼي، زه ګورم چې ته په دې پټي کې لوبيا کرې، خو دا اېشېدلې دي .

له دې به کوم ډول فصل تر لاسه کړې؟

جينۍ په لاس کې نيولې لوبيا په مځکې وشيندله او ويې ويل :

هماغسې لکه چې پاچا سلامت د اېشېدلو هګيو نه چرګوړي راويستل غواړي، له پاچا سره هېڅ ځواب نه و. په خپلې بګۍ کې کښېناست او د محل پر لوري روان شو.

په بله ورځ چې کروندګر او د ده لور راويښ شول، نو د کور په دروازه ورته د پاچا دوه استازي ولاړ وو، دوی سره د ګنډلو د تار يوه لويه غوټه وه او د زار له خوا يې پيغام راوړی و، چې د کروندګر هوښياره لور به تر سبا له دې تارونو نه د دوو بېړيو بادبانونه جوړوي او که په دې کې پاتې راغله، نو پلار او لور دواړه به سايبيريا ته واستول شي .

کروندګر د دې خبرې په اورېدو په ژړا شو او ځان له يې وينښته شوکول، چې هغه کومه بدمرغه شېبه وه، چې ده د خپلې لور د هوښيارۍ ستاينه کړې وه. خو جينۍ د پاچا استازو ته وويل :

لږ صبر وکړئ، زما له خوا هم يو پيغام پاچا ته يوسئ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کور مخې ته یې یوه ونه ولاړه وه، جینۍ له کوره ووتله. له هغې ونې نه یې یوه څانګه رابېله کړه او استازو ته یې ورکړه. بیا یې وویل :

زما پلار ډېر غریب سړی دی. د بادبانونو د اوبدلو لپاره راته څرخه نه شي اخیستلای. که پاچا سلامت مهرباني وکړي او له دې څانګې راته یوه څرخه جوړه کړي، نو زه به ورته سمدلاسه بادبانونه جوړ کړم.

پاچا چې د جینۍ له خوا دا پیغام واورېد، نو په خندا شو. کروندګر پسې یې یوه ګاډۍ واستوله او دی یې خپل محل ته راوبللو. کروندګر چې پاچا ته حاضر شو، نو ده ورته وویل :

ستا لور بېشکه چې ډېره هوښیاره ده، خو که زما دې وروستۍ خبرې ته یې ځواب پیدا نه کړ، نو ستا دعوه به غلطه وي. چې دا تر ټولو هوښیاره ده.

بیا یې د شرابو یو جام واخیست، کروندګر ته یې ورکړ او ویې ویل:

خپلې لور ته ووایه که تر سبا پورې یې د سمندر ټولې اوبه په دې جام وایستلې، نو زه به ورسره واده کوم .

جینۍ چې دا پیغام ترلاسه کړ، نو هغې هم وخندل.

په بله ورځ سهار پر یوه اوښ کښېناسته او د پاچا دربار ته لاړه. یوه څوکۍ یې په لاس کې وه. زار ته یې ډېر په ادب سر ټیټ کړ او ویې ویل :

د زار امر پوره کول زما فرض دی، خو د سمندر د اوبو په راایستلو کې یوه لانجه ده .

پاچا خوشحاله شو او ویې ویل :

ښه نو دا ثابته شوه، چې ته تر ما هوښیاره نه یې .

جینۍ ورته وویل:

لانجه دا ده چې زه خو به درته بحر خالي کړم، خو ستاسو د ملك سیندونه به یې بیا ډك کړي، ما دا څوکۍ له ځان سره راوړې ده، چې که پاچا سلامت په دې څوکۍ ټولو سیندونو ته بند وتړي، نو زه به هم اوس ورته د سمندر ټولې اوبه راوباسم.

زار په دې ځواب لومړی خو ډېر حیران پاتې شو، بیا یې وخندل او ورته یې وویل :

ته رښتیا چې له ما هم هوښیاره یې. خو زه په دې هوښیار یم، چې هوښیار خلك پېژنم او د هغوی قدر هم کوم. دا یې وویل او جینۍ یې له لاسه ونیوله او پر خپل تخت یې کښېنوله .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغسې دا غريبه جينۍ د روس ملکه، يانې زارينه شوه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پاچا کالي - [د ډنمارك کيسه]

يو وخت د زمانې پاچا پر خپل ځان ډېر غاور و. د هغه رنګارنګ کالي (جامې) خوښېدلې. د سلطنت کارونه ترې پاتې وو. ټوله ورځ به يې د هندارې مخې ته تېره کړه. کله به يې يو ډول جامې اغوستې، کله بل ډول.

ځان ته يې ځينې خوشې او بېکاره درباريان راټول کړل او له هغوی به يې پوښتل چې په دې جامو کې څنګه ښکارېدو.

درباريانو به تل د ده د ذوق او د جامې زېبې ستاينه کوله. دوی به په کالو جوړوونکو پسې ګرځېدل چې نوي ډول جامې ورته جوړې کړي. د نورو هېوادونو پاچايان چې به په رسمي سفر راتلل، نو پاچا ته به يې په تحفه کې جامې ورکولې .

د ده په ماڼۍ کې د ده د جامو لپاره پوره پوره کوټې جوړې وې، چې په سلګونو جوړه جامې، بوټان او خولۍ په کې ايښودل کېدې.

يوه ورځ د ده ماڼۍ ته دوه جولاګان (له تارنه رخت اوبدونکي) راغلل. دوی سره يو صندوق و او غوښتل يې چې پاچا ته نوی رخت ښکاره کړي .

د ماڼۍ ساتندويانو غوښتل چې د دوی صندوق تالاشي کړي، خو جولاګانو ورته وويل :

دا رخت يوازې د پاچا د ليدلو لپاره دي .

پاچا ته خبر ورکړل شو او هغه دواړه جولاګان راوبلل. جولاګان چې دربار ته حاضر شول، نو پاچا ترې غوښتنه وکړه، چې د صندوق سر دې خلاص کړي. خو دوی ورته وويل :

پاچا سلامت، دا ټوکر يوازې ستاسو د ليدو لپاره دی.

پاچا امر وکړ، چې يوې بېلې کوټې ته دې جولاګان وروستل شي، چې يوازې دی په خپله په صندوق کې بند ټوکر ووينې. په بله کوټه کې جولاګانو د صندوق سر ليرې کولو نه وړاندې پاچا ته وويل :

د دې ټوکر يوه ځانګړتيا ده.

د پاچا تلوسه په زياتېدو شوه، پوښتنه يې وکړه چې کومه ځانګړتيا؟

يوه جولا ورته وويل :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې ټوکر ځانګړتيا په دې کې ده، چې دا يوازې هوښيارو خلکو ته ښکارېږي، يعنې کوم خلك چې د پوهې او عقل خاوندان دي، يوازې دوی دا ټوکر ليدای شي، بېعقلو او ناپوهو کسانو ته به دا ټوکر هېڅ نه ښکاري .

اوس خو پاچا نور هم په شوق صندوق ته نژدې ودرېد. کله چې د صندوق سر پرانيستل شو. نو پاچا ته هېڅ ښکاره نه شول. خو دواړو جولاګانو په لاسونو يو شی رااوچت کړ، بيا يو په کې داسې لاسونه وښورول، لکه چې تکه پر مېز اواروي. بل يو څه لاسونه وخنډل، داسې لکه چې کومه تکه په هوا کې څنډي. پاچا هك پك ولاړ و. د هغه په فکر دی ډېر هوښيار و، خو په مېز ايښی ټوکر يې نه ليده .

جولاګانو چې ورته وکتل، نو يوه ورته وويل :

پاچا سلامت! ټوکر ته لاس يوسئ، څومره نرم دی .

بل وويل :

رنګونه يې څومره زړه راکښونکي دي.

لومړي وويل :

مورې څو مياشتې دا ټوکر اوبدلی دی .

بيا يې له پاچا نه پوښتنه وکړه :

څنګه عالي جناب! دا ټوکر مو خوښ شو؟

پاچا نه غوښتل چې وښيي دی ټوکر نهويني او جولاګانو ته بېعقل ښکاره شي. يوه ښه شېبه يې مېز ته کتل او سر يې داسې خوځاوه، ته به وايې د خوښې يا د ناخوښې فيصله کوي. بيا يې جولاګانو ته وويل :

زه غواړم چې زما مشر وزير هم دا رخت ووينې او ما ته خپله رايه راکړي .

له کوټې نه بهر يوه پيره دار ته وويل شول چې مشر وزير دې راوبولي. وزير چې راغی نو پاچا ورته وويل:

پر دې مېز دا ټوکر وينئ؟

لومړی خو وزير حيران شو. پاچا ورته وويل :

دا ټوکر يوازې پوهو او هوښيارو خلکو ته ښکارېږي.

وزير ژر وويل :

ښه ښه دا ټوکر... دا خو ډېر ښکلی دی، دا زر زري تارونه يې څومره په هنر له ورېښمو سره ګډ شوي دي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا چې دا واورېدل، نو په زړه کې نور هم مایوس شو، چې د ده مشر وزیر لا تر ده هوښیار دی.

وزیر په کې دا هم زیاته کړه چې داسې ښکلی ټوکر نه دې ډېرې ښکلې جامې جوړې کړای شي، چې پاچا دې په خاصو موقعو اغوندي.

د وزیر تر دې خبرو وروسته پاچا د خپلې کورنۍ غړي وار په وار راغوښتل چې وګوري دوی ته دا خاص ټوکر ښکاري او که نه؟

هغوی ته هم د ټوکر د خاصیت خبره رسېدلې وه او هېچا نه غوښتل چې نورو ته کمعقل او ناپوه ښکاره شي. وار په وار ټولو د ټوکر صفت وکړ، نو پاچا فیصله وکړه، چې له دې ټوکر نه دې جامې جوړې کړي. هغه غوښتل چې د ده شاهي خیاط (درزي) دې ورله لباس تیار کړي، خو جولاګانو ورته وویل چې دا ټوکر دومره نازك دی، چې دوی به یې پخپله ګنډي.

پاچا جولاګانو ته یو لوی تالار او د اوسېدو کوټې ورکړې، چې دوی دې ورته جامې تیارې کړي. جولاګانو په کار لاس پورې کړ. د پاچا د جامو ناپ او پیمایش یې وکړ. پاچا ورته ډېرې پیسې ورکړې، دوی به هره ورځ د یوه شي لپاره تر‌ېنه نورې پیسې غوښتلې. کله به یې د سرو زرو ستنې غوښتې، کله به د سرو زرو سیخونه، چې ټوکر پرې ځوړند کړي .

یوه میاشت تېره شوه. د ملك ټول خلك خبر شول، چې د پاچا لپاره مخصوصې جامې په جوړېدو دی. د پاچا د زېږېدو ورځ رانژدې شوه. نو ده فیصله وکړه، چې د شاهي جشن لپاره به دا ځانګړې جامې اغوندي. دا خبره ډنډوره شوه، چې د پاچا د زېږېدو په ورځ به دی په اس د ښار د لارو کوڅو نه تېرېږي او هوښیار خلك به د پاچا جامې لیدای شي .

د جشن په ورځ دواړو جولاګانو پاچا ته تیارې جامې یووړې، چې دی یې په غاړه کړي. هېچا څه نه لیدل. خو پاچا چې دا جامې اغوستې، نو داسې فکر یې کاوه، چې نورو ته ښکاري. بیا یې خپل تاج پر سر کړو، بوټان یې په پښو کړل او پر اس سپور شو.

د ماڼۍ د لویې دروازې نه د پاچا جلوس راښکاره شو. ورسره په شاهي ګاډیو او بګیو کې د ده د کورنۍ نور غړي ناست وو. بینډ باجې غږېدې، په لارو کوڅو کې ولاړو عامو خلکو کتل چې پاچا هېڅ جامې نه دي اغوستي، خو هېچا له شرم او وېرې غږنه کاوه. هر چا داسې ګڼله چې نورو ته د پاچا جامې ښکاري .

پاچا په اس سپور روان و او فکر یې کاوه، چې زما د ملك خلك څومره پوهه او عقل لري. یوازې زه په کې بېعقل یم، که دوی خبر شي، چې زه دا جامې نه وینم، نو سمدلاسه به مې له تخت څخه لیرې کړي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جلوس د کتلو لپاره يو ماشوم هم ورغلی و او د خلکو په ګڼه ګوڼه کې ده ته چې ځای پيدا نه شو،نو نژدې ونې ته وروخوت او هلته نه يې د شاهي جلوس ننداره کوله. کله چې ده پاچا وليد، نو په چيغه يې وويل :

پاچا خو بربنډ دی .

بيا کټ کټ په خندا شو. ټول خلك خاموش شول. چې په دې کې د هلك غږ بيا راپورته شو :

پاچا سلامت خو بربنډ دی. جامې يې نه دي اغوستي .

په دې وخت کې د خلکو په ګڼه ګوڼه کې په ورو غږ خلکو له يو بل نه پوښتنه کوله، چې پاچا په رښتيا څه نه وو اغوستي .

پاچا د ټول ملت په مخکې خجالت شو. اوس دی پوه شو چې جولاګانو ورسره چل کړی و. سمدستي يې د اس مخ بېرته ماڼۍ ته واړاوه او په چټکۍ يې د خلکو مخې نه ځان ليرې کړ. هلته په رسېدو خبر شو، چې جولاګانو له وخته خپل مال دولت راټول کړي او له هغه ځايه يې پښې سپکې کړې وې .

پاچا نورې جامې واغوستې او امر يې وکړ، چې هغه ماشوم دې ورته حاضر کړای شي. د ماشوم مور و پلار په وېره وو. خو کله چې دوی د پاچا په دربار کې حاضر شول، نو ده ماشوم له ځان سره پر تخت کښېناوه او ټولو ته يې وويل :

زما په مملکت کې تر ټولو هوښيار او د پوهې خاوند دا ماشوم دی، ځکه چې دی رښتيا ويلای شي. نور تاسو ټول بېعقله او ناپوه يئ. ځکه چې په تاسو کې د رښتيا ويلو جرئت نه شته. پاتې شوم زه... نو زه په خپله هم ناپوه يم، چې دوو جولاګانو راله دوکه راکړه .

بيا يې ماشوم ته وويل :

ته چې لوی شې او زه ژوندی وم، نو ته به زما مشر وزير شې. زه باور لرم، چې په هغه وخت کې به هم ته له رښتيا ويلو نه، نه وېرېږې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رولینډ - [د انګلستان کیسه]

ډېر پخوا د انګلستان په شمال کې یو پاچا حکومت کاوه. د ده درې زامن او یوه لور وه، چې رولینډ نومېده .

یوه ورځ څلورو وارو د خپلې ماڼۍ په باغ کې لوبې کولې. شهزادګۍ رولینډ یو پنډوس (توپ) په هوا کې غوزار کړ، نو دا د ماڼۍ د باغ نه وراخوا د کلیسا د دېوال شا ته ورك شو. شهزادګۍ د پنډوس په لټه له باغه ووته او د کلیسا پر لوري یې منډې کړې. په دې پسې درېیو ورونو هم منډې وهلې، خو ترڅو چې دوی کلیسا ته وردننه کېدل، شهزادګۍ له سترګو پناه شوه .

دوی ډېر وخت اخوا دېخوا خپله خور ولټوله، خو پیدا یې نه کړه. اخر یې مور او پلار خبر کړل، شاهي پوځ د کلیسا هر ګوټ ولټاوه، خو داسې ښکارېده چې رولینډ د مځکې پرمخ نه وه .

په ټوله ماڼۍ کې ماتم جوړ شو. پاچا د ملك تر ټولو لوی عالم جادوګر راوبللو، چې په خپل علم معلوم کړي، جادوګر دومره ورته وویل چې رولینډ له پېریانو سره ده او ښایي چې د پېریانو پاچا په تور برج کې بنده کړې وي .

د دې خبرې په اورېدو مشر شهزاده پر اس سپور شو او د شین غر پر لوري روان شو. ډېرې ورځې تېرې شوې، خو شهزاده بېرته راونه ګرځېد، پاچا او ملکه نور هم خواشیني شول. اوس نو دویم شهزاده سفر ته ملا وتړله، عالم جادوګر راوبلل شو او هغه شهزاده ته نصیحت وکړ، چې د پېریانو د پاچا ماڼۍ ته چې ورورسېدې نوهېڅ شی ونه خورې.

دویم شهزاده هم د شین غر پر لوري لاړ، خو بې درکه شو. ملکه له غم نه بېحاله وه. درېیم شهزاده چې په خپلو ورونو پسې د لټې هوډ وکړ، نو پاچا او ملکې دواړو ورته زارۍ وکړې، چې نه دې ځي .

شهزاده ورته ډاډ ورکړ چې د تللو نه وړاندې به دی خپل پوره معلومات کوي او ترڅو چې ډاډه نه وي، نه به ځي .

دی عالم جادوګر ته لاړ او د پېریانو د پاچا په هکله یې معلومات راټول کړل. جادوګر به هره ورځ حساب کاوه، کله به یې په اور کې په رنګارنګ شیانو لوګی جوړاوه. یا به یې پر هنداره خطونه راکښل. اخر یوه ورځ یې شهزاده ته وویل: ستا دواړه ورونه هم د پېریانو له پاچا سره دي .

تر دې وروسته یې یوه توره راواخیسته چې عمل یې ورباندې کړی و. شهزاده ته یې دا توره ورکړه او ویې ویل :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له شین غر سره نژدې چې له هر چا نه د ماڼۍ او د تور برج پوښتنه کوې، دوی به درته لاره ښیي. ځکه چې پېریان دروغ نه وایي، خو د معلوماتو نه وروسته به یې وژنې، که نه تا ته تاوان رسوي .

په بله ورځ سهار وختي شهزاده د مور و پلار نه رخصت واخیست او د شین غر پر لوري روان شو. کله چې غره ته نژدې شو، نو یخ باد پرې ولګېده. دلته د لمر رڼا نه وه، یو میدان ته چې راوتلو نو هلته ډېر اسونه څرېدل .

نژدې ورته یو سرې ولاړ و. شهزاده پوه شو چې دا د پېریانو د پاچا اسونه وو، له سړي نه یې پوښتنه وکړه :

د پاچا ماڼۍ ته کومه لاره تللې ده؟

سړي ورته یوه شېبه وکتل، بیا یې کیڼ لاس ته اشاره وکړه او ویې ویل:

د دې ونو شا ته، لاره یوې غونډۍ ته وتلې ده. په غونډۍ کې دننه ماڼۍ جوړه ده، خو زه نه یم خبر چې دننه څرنګه ځي.

شهزاده د دې خبرې له اورېدو سره ورته وویل:

ډېره مننه .

او د توري په یوه خرپ یې د هغه سر قلم کړ. خو دسړي وجود لوګی لوګی شو او د سترګو په رپ کې بیا هلته هېڅ هم نه وو .

شهزاده د ونو شا ته لاره وموندله او شنې غونډۍ ته ورسېد. دلته پسونه څرېدل. نژدې یوې ونې سره شپونکی هم ناست و. شهزاده ورنژدې شو او ویې ویل :

ته خبر یې چې د پاچا ماڼۍ ته د ورننوتلو لاره کومه یوه ده؟

شپونکي یو څو شېبې ښکته پورته ده ته وکتل او ویې ویل :

د دې غونډۍ نه چاپېره د لمر په مخالف لوري روان شه. کله چې یو څرخ پوره شې نو په لوړ غږ ووایه زه د پیریانو د پاچا ماڼۍ ته تلل غواړم. درې وارې چې دا خبره وکړې، په غره کې به یوه لاره درته خلاصه شي .

شهزاده چې دا واورېدل نو ورته ویې ویل :

ډېر تشکر.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د تورې په یوه وار یې له شپونکي نه سر قلم کړ. همدا وو چې هلته یو لوګی راپورته شو او د شپونکي پر ځای یوه وړوکي پېرۍ د ونو لوري ته منډه کړه .

شهزاده هم هغسې چې شپونکي ورته ویلي وو، په غونډۍ کې لاره پیدا کړه. دی چې وردننه شو، نو یوه لویه کوټه یې ولیده، چې بل سر ته یې یوه دروازه وه. شهزاده په دروازه دننه شو، نو مخاخ پوړۍ جوړې وې، شهزاده په پوړیو ختلو او ویې شمېرل. په دوو سوو پوړیو چې وروختلو، نو یوه برج ته داخل شو.

په دې برج کې هرې خوا ته رڼا خپره وه. په چت ښکلي فانوسونه ځوړند وو او په دېوالونو د ملغلرو او د قیمتي کاڼو ګلان جوړ وو. په یوه ښکلي تخت شهزاده خپله خور رولینډ ولیده، چې سر یې ټیټ و. شهزاده ور غږ کړل. دې چې خپل ورور ولید، نو په ژړا شوه او ورته ویې ویل :

ته ولې راغلی یې؟ که د پېریانو پاچا خبر شو، نو ته به هم زموږ د نورو وروڼو په شان ورك شې .

شهزاده ورته تسلي ورکړه، خو هغه اوس د لوږې احساس کاوه، خور ته یې وویل که څه د خوړو وي، نو دی به یې وخوري چې په وجود کې یې توان پیدا شي .

رولینډ پاڅېده او ورور ته یې یوه کاسه شوده او ډوډۍ راوړل. شهزاده دومره ستړی و، چې ژر یې د شودو کاسه خولې ته ونیوله، خو هم په دې وخت کې هغه ته د عالم جادوګر خبره رایاده شوه، چې هېڅ شی به نه خورې .

د شودو کاسه یې کېښوده او رولینډ ته یې وویل :

زه به تر هغې هېڅ شی خولې ته نه اچوم، چې مې ته له دې پاچا نه یې ازاده کړې .

د هغه په دې وینا یو لوی درز وشو، ورسره لوګی راپورته شو او په کې د پېریانو پاچا راښکاره شو. د هغه له خولې لوګي راوتل او له سترګو یې سرې لمبې راپورته کېدې .

شهزاده خپله توره راوایستله او هغه ته نېغ ودرېده. د هغه په سترګو کې یې سترګې ښخې کړې او ویې ویل :

ته که هرڅه وکړې، زه له تا، نه وېرېږم. زه په خپلو وروڼو او خور پسې راغلی یم او دوی به ارو مرو له ځان سره بیایم.

د پېریانو پاچا څو شېبې ده ته کتل او بیا یې وویل:

ما د مځکې پر سر ستا په شان توریالی او مېړنی ځوان تر اوسه نه دی لیدلی او زه د مېړنو قدر کوم .

بیا یې دوه ګوتې په خپلو کې سره وموښلې او یو بوتل راښکاره شو. بوتل یې شهزاده ته ورکړ، چې د دې اوبه دې پر خپلو وروڼو وشیندي، چې په بله کوټه کې بېهوشه پراته وو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پېريانو پاچا سمدستي د سترګو په رپ کې له هغه ځايه ورك شو. شهزاده او رولينډ دواړو په بله کوټه کې پر بېهوشو شهزادګانو د بوتل اوبه وشيندلې، دوی په هوش کې شول او بيا ټول ورونه له خپلې خور سره د خپل وطن پر لوري روان شول

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خونړۍ مږه - [د جاپان کیسه]

ډېره موده کېږي، چې د جاپان په یوه کلي کې یو غریب کروندګر اوسېده، چې ډېر اولادونه یې لرل. هرکله به چې د هغه زوی یا لور د کار جوګه شول، نو ده به پټو ته واستول، چې ورسره کار وکړي. خو د ده تر ټولو کشرى زوی چې کامي نومېده، له وجوده کمزوری و. نو مور و پلار یې فیصله وکړه، چې دی به بودایي راهب شي.

پلار له ګوتې نه ونیو او د کلي لوی بودایي معبد ته یې تلو، هلته یې مشر راهب ته کښېنولو او خواست یې ورڅخه وکړ، چې د ده زوی ته دې د مذهبي زده کړو موقع ورکړي. راهب کامي په خپلو شاګردانو کې شامل کړ.

کامي به هره ورځ سبق ډېر ژر زده کاوه، ولې یو بد عادت هم په کې و، هر یو کتاب چې به یې لاسته ورتلو، د هغه په حاشیو به یې انځورونه جوړول. یوه ورځ مشر راهب ورته نصیحت وکړ، چې په دې کار کتابونه خرابېږي. کامي له دې وروسته د معبد پر دېوالونو انځورونه جوړول او عجیبه خبره دا وه، چې ده به تل د پیشوګانو انځورونه جوړ کړي وو. کله چې مشر راهب ورته وویل چې د معبد دېوالونه دې نه خرابوي، نو ده به د معبد خوا و شا پر فرش، ستنو، ورو تیږو پیشوګانې کښلې. داسې ایسېده لکه چې د ده لاس به تر هغې خوځېدو، ترڅو چې به یې یوه پیشو نه وه جوړه کړې .

کامي په معبد کې اووه کاله زده کړه وکړه. اخر یوه ورځ مشر راهب دی راوبللو او ورته ویې ویل :

ستا زده کړې اوس پایته رسېدلې دي. تر دې زیات علم به ته په عملي ژوند کې ترلاسه کړې. د افسوس خبره دا ده چې ته به چېرې هم یو ښه راهب جوړ نه شې، خو زه دا ډاډ درکوم، چې ته به ډېر ښه انځورګر شې.

کامي مشر راهب ته د مننې یو څو جملې وویلې او بیا یې ترې پوښتنه وکړه:

زما لپاره د نصیحت خبره کومه یوه ده؟

راهب ورته وویل:

�هرچېرې چې ځې، د شپې د تېرولو لپاره له لویو ځایونو لیرې اوسه، شپه په ورو ځایونو کې تېروه.�

کامي چې له معبده ووت، نو د راهب په خبره پوه نه شو، چې څه مطلب یې و. غوښتل یې چې خپل کور ته ورشي، خو د مور و پلار غریبۍ یې راپه زړه شوه، نو یوه بله لار یې ونیوله. د ده د کلي نه لس میله لیرې "نیکوتو" نومی پخوانی معبد و، چې په ټول جاپان کې یې شهرت لرلو. کامي د دې معبد پر لوري روان و او فکرونه یې کول، چې هلته به د راهبانو خدمت وکړي او ځان ته به څه کار پیدا کړي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې کامي هلته ورسېد، نو د مازيګر وخت و. لمر په ډوبېد و. د معبد لويه دروازه پورې وه او هلته هېڅوك نه ښکارېدل. دی ډېر حيران شو، چې معبد ولې خوشې پروت و. يو ځوان هلك چې له هغه ځايه تېرېدو، ورته يې وويل :

په دې معبد کې يوه ډېره لويه او خونړۍ مږه پيدا شوې ده، د دې له وېرې ټول راهبان ترې تښتېدلي دي. بيا دمږې د وژلو لپاره د نژدې کلي سل ځوانان په معبد کې وګرځېدل، خو مږه يې پيدا نه کړه. خلك وايي چې دا مږه ژوندی انسان خوري .

کامي چې دا خبره واورېده، نو باور يې نه کېده. مږه که هرڅومره لويه شي، خو د پيشو نه به وېرېږي. دې هلك له معبد نه بهر په کتار کې ايښې ډېوې بلې کړې او لاړ.

کامي د معبد په پوړو وخوت او د معبد لوی تالار ته لاړ، پر فرش دوړې پرتې وې او په دېوالونو او چت د جولاګانو جالۍ ځوړندې وې. ده په زړه کې کړل ــ رېبل چې د معبد صفايي له کومه ځايه پيل کړي، چې نژدې ورته څو پردې ښکاره شوې، دا پردې د لرګي په چوکاټونو کې لګېدلې وې او له يوه ځايه بل ځای ته وړل کېدی شوې .

د معبد پر دېوالونو رنګارنګ نقشونه ښکارېدل او انځور جوړوونکو خپل کار نيمګړی پرېښی و او سامانونه يې په معبد کې اوس هم پراته وو. کامي رنګونه او برشونه راواخيستل او پر پردو يې د پيشوګانو انځورونه جوړول پيل کړل. دی په خپل کار کې دومره بوخت و، چې د وخت د تېرېدو ورته هېڅ احساس ونه شو. بهر د ډېوو رڼا او بره په اسمان کې د سپوږمۍ په رڼا کې دی لګيا و، پر ټولو پردو يې هر ډول پيشوګانې جوړې کړې .

نيمه شپه شوه، نو دی د ستومانۍ نه هم هلته پر فرش پرېوت. غوښتل يې چې ويده شي، چې نابېره ورته د مشر راهب خبره ورپه زړه شوه. معبد ډېر لوی و، دی راپاڅېد او د يوه وړوکي ځای په لټه شو. د معبد د لوی تالار په بل سر کې يوه دروازه وه، چې يوې وړوکې کوټې ته خلاصېده. دا د راهبانو د ارام ځای و، کامي هم په دې کوټه کې ځان په يوه ګوټ کې ګونج منج کړ او کرار ويده شو .

يو څو ساعته نه ووتېر شوي، چې کامي په يوه سېږه غږ راپاڅېد. د وړې کوټې له کړکۍ يې وکتل. بهر د معبد خوا و شا ټولې بلې ډېوې مړې وې او د معبد د لوی تالار نه داسې غږونه راتلل، ته به وايې ځنګلي ځناور په خپلو کې په جنګ وو.

کامي ځان دېوال ته نور هم نژدې کړ. خو دومره سخت وېرېده، چې د دروازې د ويتکي نه تالار ته کتل هم ورته ګران و. ساه يې ورو- ورو اخيسته او په تالار کې غږونو ته يې ټول پام اړولی و. سپېرې چيغې او د ځناورو غږونو ټول معبد په مخه اخيستی و. په دې غږونو کې کامي د پيشوګانو غږ هم اورېده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا سمدستي دا غږونه بند شول. کامي تر ډېره وخته په خپل ځای غلی پروت و، ان تر دې چې د لمر وړومبۍ وړانګې د معبد د دې وړې کوټې له وړې کړکۍ نه هم رادننه شوې، نو کامي ورو غوندې راپاڅېد او لوی تالار ته تلونکی ور یې پرانیستلو. په لومړي نظر یې وکتل، چې د پردو څنګ ته یوه لویه مږه چې قد یې د زمري هومره و، مړه پرته وه .

کامي ساه نیولی پر خپل ځای ودرېده، د مږې خوا و شا وینې ډنډ ولاړې وې اود هغې نه د پیشوګانو د پښو خاپې د پردو پر لوري تللې وې.

کامي لږ نور هم پردو ته ورنژدې شو او په خپل لاس جوړو شویو پیشوګانو ته ځیر شو. د ټولو پیشوګانو خولې له وینو سرې وې .

کامي خپله غوټه راواخیسته او په منډه له دې معبده ووت، د هغه مخ د خپل کور پر لوري و.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## انسان او خر-- [د هندوستان کیسه]

ډېره موده کېده چې په یوه کلي کې یو استاد ژوند کاوه. ده به د کلي ماشومانو ته په جومات کې سبق ښودلو. د دې کلي سره نژدې د نورو کلیو بانډو خلکو به هم زامن دې استاد ته رااستول، ټولو خلکو به له ډېره احترامه دې استاد ته مولوي صاحب ویل. د کلي هلکان به ډېر وران وو او ځینو به په کې شوخي کوله، خو مولوي ډېر په صبر ورته درس ورکاوه. داسې به ډېر لږ پېښېدل ، چې مولوي به په قار شو او کله چې به دی په قار شو، نو هلکانو ته به یې بدې ردې ویلې .

همدغسې یوه ورځ وه، هلکانو د تېرې ورځې سبق نه و زده کړی او شوخي یې هم کوله. مولوي صاحب ډېر په قار و، په چیغه یې ورته وویل :

بدبختو، نالایقو...! څومره خواري چې زه درسره کوم، که دا خواري مې له یوه خره سره کړې وای، نو هغه به هم پوه شوی وای... تاسو له خرو بدتر یئ، ولې زه مو نه پرېږدم ...

دا یې وویل او خپله چوکه یې راواخیسته... هلکان په وېره شول. مولوي به ډېر کم چوکه کاروله. خو کله چې به یې کاروله، ډېر سخت وهل به یې کول. کله چې مولوي پر لومړي هلك گوزار وکړ، نو ورسره یې دا هم وویل :

ما ډېرو خرو ته سبق ښودلی دی او دوی مې انسانان کړي دي .

یو هلك یې پر ملا وواهه، پر بل یې چوکه سمه کړه او ویې ویل :

خر چې انسان نه شي، زه یې کله پرېږدم.

په دې وخت کې د یو بل کلي دوبي له جومات سره نژدې روان و. ده د وینځلو شویو جامو پنډ پر سر وړلو، څکه نن یې خر ناروغ و. کله چې مولوي دا خبره کوله، چې ما ډېر خره په انسانانو بدل کړي... نو دوبي پر خپل ځای ودرېده، یوه شېبه یې د مولوي خبرو ته غوږ نیولی و. یوڅه حیران و، یوڅه خوشحاله شو، څکه ده تر ننه داسې خبره نه وه اورېدلې. دوبي چې خپل کور ته ورسېد، نو ښځې ته یې ټوله کیسه وکړه. ښځه یې هم حیرانه وه، د دوی اولادونه نه وو او همدغه ناروغه خر یې لاره، چې د خیرنو او پاکو جامو پنډونه به یې پرې وړل راوړل. دواړو سلا وکړه، چې مولوي ته به خپل خر یوسي، چې انسان یې کړي. دوی سره به په کار کې مرسته هم کوي او د اولاد کمی به یې هم پوره شي .

په بله ورځ دوی خپل خر په مخه کړ او د مولوي کلي ته لاړل، هغه وخت هلکان تللي وو او مولوي ستړی ستومانه یوې ونې ته ډډه لگولې وه،ارام یې کاوه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوبي خپله غاړه تازه کړه او مولوي سترګې پرانیستلې، څه ګوري چې دوبي خپلې مېرمنې او له یوه مرجونړا خره سره ورته مخې ته ولاړ دی. ښځه خاوند دواړو خپل لاسونه ورته ونیول او بیا دوبي وویل :

مولوي صیب! ستاسو علم دې نور هم سپوا شي... زه غریب سړی یم، که دا خر دې راته انسان کړ، نو ټول عمر به درته دعا کوو.

مولوي څو شېبې ورته حیران کتل، چې څه ووایي. دوبي ورته خپله خبره تکرار کړه. نو دی راولاړ شو، دوی ته یې وویل :

تاسو ډېر ساده خلك یئ، هېڅوك خر انسان کولای نه شي،ورځئ په خپله لاره، زه ستړی یم .

دوبي داسې وګڼله چې ګوندې مولوي ورته بانه کوي. ډېر یې په عاجزۍ ورته وویل :

مولوي صیب! که دا خر دې راته انسان کړ، نو زه به له ډېرو کړاوونو څخه خلاص شم.

مولوي ورته وویل :

زما وخت مه ضایع کوئ، دا خبره ناشونې ده .

خو د دوبي ښځه د مولوي پښو ته ولوېده او په ژړا یې وویل :

زه اولاد نه لرم، خاوند مې ټوله ورځ په جامو مینځلو ستړی شي، که دا خر دې راته انسان کړ، نو موږ به ورته د اولاد په سترګه ګورو.

مولوي پوه شو چې دوی نه ځان نه شي خلاصولای... په دې هم پوهېده، چې دوی غریبان دي. نو ورته ویې ویل :

له خر ه څخه انسان جوړول، ډېر ګران کار دی. په دې ډېرې پیسې لګي .

دوبي ورنه پوښتنه وکړه چې څومره... مولوي یوه شېبه غلی و، سترګې یې اسمانته نیولې وې، ګوته یې په شونډو وهله، بیا یې وویل :

څلورسوه روپۍ.

دوبي او ښځه یې وارخطا غوندې شول، خو بیا یې د یو بل په غوږ کې څو خبرې وکړې او مولوي ته یې وویل :

موږ تیار یو... سبا ته به درته څلورسوه روپۍ راوړو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس خو مولوي بد راګیر شو، ده داسې نه ګڼله، چې دوبي به څلورسوه روپۍ ولري. خو په بله ورځ دوبي او د ده مېرمنه ورته د څلورو سوو روپیو او خپل خره سره حاضر شول. دوی د خپل کور هر قیمتي شی خرڅ کړی و او ډېر خوشحال وو، چې خر به یې انسان شي .

مولوي پیسې جېب ته کړې او دوبي ته یې وویل :

خر زما د کور شا ته وتړئ. دوبي او ښځه یې خوشحاله خوشحاله روان شول، خو بیا یې مخ واړاوه او له مولوي یې پوښتنه وکړه :

خر چې انسان کېږي... څومره موده پرې اوړي؟

مولوي ورته وویل :

څلور میاشتې خو نیسي .

دوبي او د ده ښځه چې لاړل، نو مولوي خر د کلي یوه بزګر ته وسپاره.

څلور میاشتې چې واوړېدې، نو دوبي مولوي صاحب ته راغلو ا و ورته ویې ویل :

زما خر به اوس انسان شوی وي، که راته یې وسپارې، نو زه به یې کور ته بوځم... زما مېرمنه هم ورته په انتظار ده .

مولوي ورته وویل :

ستا خر اوس انسان شوی دی، خو دی اوس د حکومت له خوا په یوه ډېر مهم ځای کې کار کوي.

دوبي لا نور خوشحاله شو او ویې ویل :

شابه مولوي صاحب! ژر راته ووایه چې په کوم ځای کې دی... زه به ورپسې په خپله لاړ شم؟

مولوي ورته وویل :

ستا خر د ډهلي د ښار قاضي مقرر شوی دی .

دوبي د دې خبرې په اورېدو دومره خوشحاله شو، چې مولوي یې په غېږه کې ونیولو، بیا یې له هغه پوښتنه وکړه:

زما خر به ما پېژني، څکه اوس خو دی لوی سړی دی؟

مولوي ورته وویل :

په کار ده، چې ودې پېژني، که له ځانه سره د هغه د خوراك توبره یوسې، نو کار به دې اسان شي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوبي دومره خوشحاله و، چې خپل کور ته د تللو پرځای ښار ته لاړ. د کلي يوه سړي ته يې وويل چې زما مېرمنې ته ووايه زه ښار ته ځمه، چې خپل خر راولمه.

د ډهلي د ښار قاضي په محکمه کې ناست و. هلته ډېره ګڼه ګونه وه. په ټېل ماټېل کې دوبي خپل ځان قاضي ته نژدې کړ، د خر د اوربشو توبره يې راپورته کړه او قاضي ته يې ورښکاره کړه .

قاضي په خپل کار کې دومره بوخت و، چې ده ته يې هېڅ پام ونه کړ. دوبي نور صبر نه شو کولای. قاضي د خپلو کاغذونو نه سر راپورته کړ، نو دوبي ورته توبره وخوځوله او موسکی شو. قاضي پوه نه شو چې دی ورته ولې موسېدو. له ده نه يې پوښتنه وکړه :

دا څه کوې او څه غواړې؟

د دوبي لا له وړاندې نه ورته صبر تمام شوی و، ويې ويل :

څه غواړم... ناپوه خره.. ته اوس ما نه پېژنې... او دا توبره هم درنه هېره ده، چې هر وختې به دې په غاړه کې ځوړنده وه...؟

دا يې وويل او توبره يې د قاضي مخ ته ونيوله، چې :

هـن! بوی يې کړه، چې درپه زړه شي، چې ته څه وې... اوس مولوي صيب درنه انسان جوړ کړ، نو هرڅه دې هېر شول .

قاضي اوس د دوبي په خبرو سخت ستومانه شوی و. فکر يې کاوه چې څوك لېونی محکمې ته رادننه شوی دی. خپلو ساتندويانو ته يې اشاره وکړه.. هغوی سم له لاسه دی راونيوه او بهر يې بوتلو، دوبي په تللو کې په زوره زوره لګيا و، چې ستا په خيال ته ډېر لوی سړی شوې. خو ته په اصل کې خر يې، نور هېڅ نه يې .

دوبي چې بېرته کلي ته راورسېدو، نو ښځې ته يې ټول حال ووايه، هغه هم ډېره خپه شوه.. په بله ورځ دواړه مولوي صاحب ته ورغلل، چې موږ خپل خر بېرته خر غواړو. د داسې انسان څه ګټه، چې موږ نه پېژني. د خر په صورت کې يې راسره پېټي خو وړل، مولوي ورته وويل :

ښه ده، سبا راشئ او خپل خر واخلئ .

په بله ورځ مولوي د بزګر نه خر بېرته وغوښت. دوبي ته يې څلورسوه روپۍ بېرته ورکړې، دی خوشحاله خوشحاله خپل کور ته لاړ. خو تر دې وروسته به دوبي او د ده ښځې د خره ډېر خيال ساته، دوی به هر چا ته ويل :

زموږ خر د ډهلي قاضي پاتې شوی دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مغروره شهزادګۍ-- [ناڅرګند هېواد]

یوه ډېره ښکلې شهزادګۍ وه، چې په خپل حسن ډېره غاوره هم وه. د ډېرو ملکونو د ځوانو شهزادګانو له خوا دې ته د واده پيغامونه راتلل، خو د دې به هېڅوك نه خوښېدل. پاچا او ملکه دواړه حيران وو، چې اخر ددوی لور به څه کوي. هغه سرکشه وه او د هېچا خبره يې نه منله .

اخر له وزيرانوسره تر سلا مصحلت وروسته پاچا په خپله ماڼۍ کې يوه مېلمستيا جوړه کړه، په دې مېلمستيا کې ډېر ښکلي شهزادګان، د نوابانو زامن، اميران او شتمن خلك راوغوښتل شول. شهزادګۍ هم له خپلو خورلڼو او خدمتګارانو سره حاضره وه. کله چې ټولو ډوډۍ وخوړله، نو ملکې شهزادګۍ ته وويل :

تا په دې محفل کې ډېر ځوانان وليدل، موږ غواړو چې ته په دوی کې يو تن د خپل ژوند د ملګري په توګه غوره کړې.

شهزادګۍ چې دا واورېدل نو لکه د مچۍ راپاره شوه. د خپلو ډېرو نژدې ملګرو سره يوځای په لوی تالار کې ودرېده او پر يو- يو مېلمه يې ملنډې پيل کړې. د چا پوزه ورته غټه ښکارېده، د چا قد وړوکی، څوك ډېر جګ و، د چا رنګ تور و. هم په دې مېلمنو کې يو شهزاده داسې هم و، چې د هغه ږيره وه. شهزادګۍ د هغه مخې ته ودرېده او ويې ويل :

دې ږېرور ته وګورئ... دی خپل ځان زما وړ بولي، نيم مخ خو يې په ږيره کې پټ دی .

د دې خبرې په اورېدو ټولو وخندل. پاچا او ملکه دواړو پيکه ولاړ وو. نه پوهېدل چې خپله لور څنګه د نورو له سپکاوي څخه راوګرځوي .

ملکې هم په دې وخت کې يوه فيصله وکړه او د پاچا په اجازه يې اعلان وکړ، چې شهزادګۍ په يو داسې سوالګر ته ودوي، چې سبا سهار د خيرات غوښتلو لپاره د شاهي ماڼۍ دروازه وټکوي .

مېلمانه حيران پاتې شول او شهزادګۍ په ژړا خپلې کوټې ته ورغله .

په بله ورځ سهار وختي د ماڼۍ په لويه دروازه يو سوالګر ودرېد. ببر سر، خيرن مخ، شلېدلې جامې او په لاس کې يې يوه باجه نيولې وه، د خيرات غوښتلو لپاره يې باجه وغږوله، نو سمدستي د ماڼۍ پيره دار راووت او دی يې پاچا ته حاضر کړو.

پاچا شهزادګۍ ته امر وکړ، چې دربار ته حاضره شي او بيا د ټولو په وړاندې يې هغه دې ببرسري سوالګر ته په نکاح کړه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهزادګۍ په چيغو- چيغو ژړل او مور ته يې زارۍ کولې، چې پلار يې له دې کاره منع شي. خو مور ورته تسلي ورکړه، چې اوس به ژوند، له دې سوالګر سره تېروې او که لږ صبر وکړې، هرڅه به سم شي .

سوالګر د پاچا مننه وکړه او له ماڼۍ څخه ووتلو، شهزادګۍ هم ورپسې وه او غوښتل يې چې د پلار له کوره ښه په ارام شاهي بګۍ کې لاړه شي، خو سوالګر هېڅ نه غوښتل. هغې تر ډېره وخته په پښو مزل وکړ، دومره چې د خپل پلار د سلطنت نه بهر ووتله .

کله چې ډېره ستړې شوه، نو په يوه ځنګله کې تر يوې ونې لاندې کښېناسته. ځنګل ډېر شين و او شهزادګۍ له سوالګر نه پوښتنه وکړه چې دا کوم ملك دی؟

هغه ورته وويل :

دا ملك د هغه ږيرور شهزاده د پلار دی، چې پرون ستاسو په ماڼۍ کې مېلمه و.

شهزادګۍ يو سوړ اسوېلی وکړ او له ځان سره يې وويل:

ارمان چې هغه سره مې واده شوی وای، نو اوس به داسې په پښو نه وای روانه. همدغسې يې ټوله ورځ مزل وکړ او چې شپه شوه، نو سوالګر په يوځای کې د دمې لپاره کښېناست. د خپل کچکول نه يې وچه ډوډۍ راوايستله، شهزادګۍ ته يې ورکړه. نژدې وياله نه يې ورته اوبه راوړې، خو شهزادګۍ وچه ډوډۍ له ستوني، نه تېرېده. په ژړا شوه او هملته ګونجه مونجه ويده شوه.

په بله ورځ دوی بيا مزل پيل کړ او يوه ښکلي ښار ته وردننه شول. ټول خلك په کې ډېر خوشحاله ګرځېدل، په بازارونو کې ښه ګڼه ګوڼه وه. شهزادګۍ له سوالګر نه پوښتنه وکړه:

دا ملك د چا دی؟

سوالګر ورته وويل :

دا ملك هم د هغه ږيرور شهزاده د پلار دی، چې ستاسو کره مېلمه و.

شهزادګۍ يو سوړ اسوېلی وکړ او له ځان سره يې وويل :

ارمان چې هغه سره مې واده شوی وای، نو اوس دې ښار ته لکه د سوالګرو نه راتللای.

سوالګر د همدې هېواد اوسېدونکی و او د ښار يوې برخې ته يې بوتلله، چې هلته د ده جونګړه وه.

کله چې يې دمه برابره شوه، نو سوالګر ورته وويل :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه وږی یم، ډوډۍ راته پخه کړه .

شهزادګۍ چېرې په ژوند د کور کار نه و کړی. ډېر په خواریو یې اور بل کړ، نیمه کچه او نیمه سوځېدلې ډوډۍ یې پخه کړه. سوالګر دا ډوډۍ خوړله او ورته یې بدې ردې هم ویلې. بیا یې وویل :

ته په تیاره ډوډۍ نه شې خوړلای. سبا سهار وختي به پاڅېږې، زه به درته له بازاره میزرې راوړم، ته به پوزی اوبدې، چې زه یې په بازار کې خرڅ کړم. ترڅو چې ته پوزي اوبدې، زه به ګدایي کوم.

شهزادګۍ چې دا واورېدل،نو بیا په ژړا ژړا ویده شوه .

په بله ورځ سوالګر ورته میزري راوړل، شهزادګۍ ډېره هڅه وکړه، چې د میزرو له تارونو نه څه شی جوړ کړي، خو لاسونه یې وینې شول .

سوالګر چې کور ته راغی، نو میزري هماغسې ایښي وو. دی ډېر ورته په قار شو او ویې ویل:

ته ډېره ټمبله یې، سبا ته به ته په بازار کې لوښي خرڅوې .

شهزادګۍ چې دا واورېدل، نو په ژړا شوه او همدغسې ویده شوه .

په بله ورځ سوالګر دا بازار ته بوتله... یو څو د خارو لوښي یې ورته واخیستل، د بازار په یو تش ځای کې یې کښېنوله چې لوښي خرڅ کړي او ورته ویې ویل چې که دا لوښي نن خرڅ نه شول، نو د ماښام ډوډۍ به ورله نه راوړې .

شهزادګۍ لوښو ته کښېناسته، اسمان ته یې کتل او پر خپل حالت یې ژړل، چې که د هغې د پلار د ملك مسافر دی، ملك ته راغلو او دا یې وپېژندله، نو څه به وایي. خو بیا ورته د سوالګر خبره یاده شوه، چې که لوښي خرڅ نه شول، نو ډوډۍ به نه وي. شهزادګۍ اوس دومره لوږې تېرې کړې وې، چې نور یې د ډوډۍ نه خوړل، توان نه درلود. یو څو کسانو له هغې لوښي بیه کړل او پیسې یې هم ورته ورکړې، خو لوښي به یې ترې نه وړل .

ماښام چې سوالګر راغی، نو ویې لیدل چې ټول لوښي همدغسې ایښي وو، دی ورته ډېر په قار شو او ورته ویې ویل چې که په بله ورځ لوښي خرڅ نه شول، نو د ډوډۍ پر ځای به وهل خوري .

په بله ورځ شهزادګۍ بیا لوښو خرڅولو ته کښېناسته. په دې وخت کې یو ځوان پر اس سپور له بازار نه تېرېده، دی دومره په سرعت روان و، چې د شهزادګۍ لوښي د اس په یوه لغته تالا والا شول. هغې چې دا ولیدل، نو د اس په خاوند پسې یې منډې کړې، خو هغه له سترګو پناه و، شهزادګۍ په ژړا ژړا کور ته راغله.

سوالګر چې کور ته راغی او د شهزادګۍ کیسه یې واورېده، نو سخت په قار شو، ورته ویې ویل :

دا به ضرور ستا خطا وي، لوښي دې ولې د سپاره په لار کې ایښي وو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې وویل :

ستا غوندې کم عقلې لپاره مې بل کار پیدا کړی، د پاچا د ماڼۍ په شاهي پخلنځي کې د یوې خدمتګارې ځای خالي دی. ته به له سبا نه هلته کار کوې.

شهزادګۍ په بله ورځ په شاهي پخلنځي کې د نورو خدمتګارانو په شان په کار اخته شوه. دې به لوښي وینځل، سابه یې پاکول او په کټوې کې به یې څمڅۍ هم وهله.

له سهاره تر ماښامه به یې هر کار کاوه او د شپې لپاره به د پخلنځي مشر پاتې ډوډۍ او اینګولي ورکړل، چې دې به کور ته راوړل. یو څو ورځې چې تېرې شوې، نو د نورو خدمتګارانو نه خبره شوه، چې د پاچا د زوی واده دی .

ټول ښار ښایسته کړای شو، شاهي ماڼۍ ته مېلمانه تلل راتلل، د خوښۍ محفلونه جوړېدل، د واده په ورځ په پخلنځي کې هم ډېر کار و. ټولو خلکو خوشحالۍ کولې، شهزادګۍ له یوې کړکۍ نه بهر کتل او پر خپلې بدنصیبۍ یې ژړل .

تر ډوډۍ وروسته یوه پیاده د شاهي دربار له خوا پخلنځي ته راغی او ټولو خدمتګارانو ته یې امر وکړ، چې د پاچا په خدمت کې دې حاضر شي او انعام دې واخلي .

شهزادګۍ نه غوښتل چې دربار ته لاړه شي، ځکه هغه وېرېده چې هسې نه په مېلمنو کې یې څوك وپېژني، خو بیا یې خپلو زړو جامو او خوار مخ ته په هنداره کې وکتل او دربار ته لاړه .

پاچا د خپل زوی ږیرور شهزاده سره پر تخت ناست و. هر یو خدمتګار به وړاندې شو، شهزاده به ورته له سرو سکو ډکه یوه مخملي کڅوړه په لاس کېښوده. دوی به ورته سر ټیټ کړ او یوې خوا ته به درېدل.

د شهزادګۍ وار چې راغی، نو دا هم وروړاندې شوه، شهزاده یوه شېبه هغې ته ځیر شو، بیا یې د هغې په لاس یوه پیسه کېښوده او ویې ویل :

دا یوه پیسه ستا لپاره بس ده.

په دربار کې حاضرو ټولو خلکو وخندل. شهزادګۍ له شرمه خولې خولې شوه. غوښتل یې چې له هغه ځایه وتښتي، چې ناڅاپه شهزاده له خپله ځایه راپاڅېد او اعلان یې وکړ:

زما واده هم له دې جینۍ سره شوی دی. دا د ګاونډي ملك د پاچا لور ده.

د دې خبرې په اورېدو هر چا له خوشحالۍ لاسونه پړکول. شهزادګۍ حیرانه ولاړه وه، د شهزاده مخ ته چې ځیر شوه، نو ورته څرګنده شوه، چې د دې سوالګر خاوند همدغه ږیرور شهزاده و.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کې د ناستو مېلمنو نه د هغې مور او پلار هم رااوچت شول. شهزادګۍ د مور غېږې ته ورغله. پلار ورته پر سر لاس کېښود او ويې ويل :

ستا لپاره تېرې څو مياشتې يو لوی درس و.

بيا شهزادګۍ د کبر او غرور نه توبه وکړه او په خندا او خوشحالۍ يې پاتې عمر د خپل خاوند په ملك کې تېر کړ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پاچا او سپوږمۍ-- [د کریبین له جزیرو نه]

وايي چې يوځلې د يوه پاچا په زړه کې دا ارمان پيدا شو، چې سپوږمۍ ته لاس ورورې. دشپې به يې سترګې اسمان ته نيولې وې او په دې به يې چورت وهلو، چې څنګه اسمان ته وروخېژي او سپوږمۍ ته ورنژدې شي. ورو- ورو يې دا خبره دومره زړه ته واچوله، چې د حکومت کارونه ترې پاتې شول. کله به يې خوب وليد، چې ده وزرې کړې دي، په اسمان کې الوزي او سپوږمۍ په خپله غېږ کې نيسي او خپلې کوټې ته يې راوړي. خو چې سترګې به يې وغړېدې، نو هېڅ به ورسره نه وو. د هغه وزيرانو او مشاورينو ورته څو- څو وارې ويل چې سپوږمۍ ته لاس وړل، ناشونې ده،خو پاچا د هېچا نه منله .

اخر يې يوه ورځ يې د ملك تر ټولو لوی نجار (ترکاڼ) شاهي دربار ته راوبللواو ورته يې امر وکړ چې د لرګو يوه دومره اوچته مناره جوړه کړي، چې دی ورباندې وخېژي او سپوږمۍ راونيسي. ترکاڼ چې دا واورېدل نو ډېر وارخطا شو، خو د پاچا له قاره وېرېدو، هغه سره يې لوز وکړ، چې کار به ورباندې پيل کړي. پاچا ورته دا هم وويل چې د لرګو دا مناره به د ماڼۍ په باغ کې جوړوي .

ترکاڼ به هره ورځ سهار باغ ته راتلو او د منارې د جوړولو لپاره به يې مځکه کچ کوله. کله به يې پر کاغذ کرښې کښلې او ځان به يې داسې بوخت کړی و، ته به وايې په رښتيا په کار اخته دی .

همدغسې څو مياشتې واورېدې، خو مناره جوړه نه شوه. د پاچا سخته تلوسه وه او اخر يې يوه ورځ ترکاڼ راوباله او ورته وېې ويل:

که په درېيو ورځو کې دې منار جوړ نه کړ، نو سر به دې قلم کړم.

ترکاڼ په دې خبره ډېر خواشينی شو او په باغ کې هاخوا دېخوا په ګرځېدو شو. دوه ورځې چې تېرې شوې، نو پاچا ته ورغلو او ورته وېې ويل :

پاچا سلامت، د منارې د جوړولو لپاره مې پلان جوړ کړی دی، خو د دې منارې لپاره به ډېر لرګي په کار وي. تاسو په ټول ملك کې اعلان وکړئ چې هر کور کې که د لرګي صندوق وي، دا دې باغ ته راوړل شي .

پاچا ترې پوښتنه وکړه، چې په صندوقونو به مناره څنګه جوړوې؟

ترکاڼ ورته وويل :

که دا صندوقونه د يو بل له پاسه کېښودل شي، نو يوه اوچته مناره به جوړه شي او پاچا سلامت به ورباندې په اسانه سپوږمۍ ته وروخېژي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا د دې خبرې په اورېدو ډېر خوشحاله شو او امر يې وکړ چې که د هر چا په کور کې د لرگي صندوق وي، هغه دې د ماڼۍ باغ ته راوړي. د پاچا له خوا ورلېږل شويو سړو به له خلکو صندوقونه اخيستل او ترکاڼ ته به يې سپارل. په دې وخت کې ترکاڼ د صندوق له پاسه د صندوق اېښودلو کار هم پيل کړ.

د ښار وزگار خلك به د باغ خوا و شا گرځېدل او منارې د جوړولو ننداره به يې کوله. ډېر ژر د خلکو له خوا راوړل شوي صندوقونه خلاص شول. پاچا د منارې د معاينې لپاره ورغی، خو د دې په اوچتوالي خوشحاله نه و، امر يې وکړ، چې ونې دې پرې او نوي صندوقونه دې ترې جوړ شي .

د ملك ټول ترکاڼان په کار اخته شول. صندوقونه به جوړېدل او د منارې بل سر ته به يې خېژول. مناره ورځ په ورځ لوړېده او پاچا به ورته خوشحالېده. دشپې به يې خوبونه ليدل، چې دی په مناره ختلی دی او سپوږمۍ يې په لاس کې نيولې ده .

اخر يوه ورځ داسې هم راغله چې دا مناره دومره اوچته شوه، چې بل سر يې نه ښکارېده. لوی ترکاڼ پاچا ته وويل :

زه غواړم چې په دې مناره وخېژم، چې په خپله وگورم مناره له سپوږمۍ نه څومره ليرې ده.

پاچا د دې خبرې په اورېدو په قار شو او ويې ويل :

په دې منارې د ختلو حق يوازې زما دی .

په بله ورځ د ښار ټول خلك د باغ چارچاپېره راټول شول، چې وگوري پاچا څرنگه په مناره خېژي او سپوږمۍ له اسمانه راشکوي .

پاچا ورو- ورو په صندقونو بره ورختلو او ولاړو نندارچيانو خپله خپله رايه ورکوله. چې سپوږمۍمځکې ته راکوزه شي، نو په اسمان به څه پاتې شي. ځينو به دا ويل چې سپوږمۍ به د ماڼۍ په کومه کوټه کې اېښودل کېږي. يو بل چا به ويل چې د سپوږمۍ ځای په باغ کې دی او د دې په راوړلو به ټوله مځکه رڼا شي .

پاچا چې د منارې سر ته وختلو، نو داسې ورته ښکارېده، چې سپوږمۍ ته يو څو گامه ورپاتې دي. بره نه يې په چيغه وويل چې که يو صندوق بل هم راوړل شي، نو دی به سپوږمۍ ته ورسېږي.

لومړی خو ښکته ولاړو خلکو هېڅ نه اورېدل، چې پاچا څه وايي، اخر چې د پاچا ستونی په چيغو چيغو وچ شو، نو يو چا د هغه خبره واورېده. د بل صندوق لټون پيل شو، خو دا يې پيدا نه کړ، يو څو کسان په صندقونو وروختل او په چيغو چيغو يې پاچا ته خبر ورکړ، چې بل يو صندوق هم نه شته .

پاچا ته سپوږمۍ دومره نژدې ښکارېده، چې اوس يې هېڅ نه غوښتل چې بې له سپوږمۍ ورښکته شي. په چيغو چيغو يې بيا وويل :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د منارې لومړی صندوق چې پر مځکه ایښی دی، راودې ایستل شي او ده ته دې بره راوخیژول شي، چې دی پرې وخېژي.

خلکو چې دا واورېدل، نو حیران شول. هر چا لوی ترکاڼ ته سترګې نیولې وې. دی په خپله هم په تشویش کې و، څو کسانو پاچا ته خبر ورکړ، چې دا کار خطر لري. خو پاچا شېبه په شېبه په قارېدل. ان تردې چې ګواښ یې وکړ، چې که د هغه خبره ونه منل شوه او دی راښکته شو، نو په ولاړو خلکو کې به هر څوك ووژني. ترکاڼ له وزیرانو مشوره وغوښته، اخر د مشر وزیر په اجازه د پاچا نوکرانو د منار د لومړي صندوق د راایستلو لپاره متې ونغښتلې. خو د دې نه وړاندې ټول خلك له هغه ځایه وشړل شول، وزیرانو او ترکاڼانو هم ځان له هغه ځایه وایست او چې لومړی صندوق له مځکې لیرې کړای شو، نو مزدورانواو نوکرانو هم پښې سپکې کړې، ټوله مناره په یو لوی درز سره د مځکې پر لوري راټیټه شوه. صندوقونه وو چې مځکې ته راروان وو. مناره دړې وړې شوه.

په بله ورځ خلك د پاچا په لټه کې شول، خو د ماتو صندوقونو په انبار کې یې د هغه مړی هم ونه موندلو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ټامبي-- [د لوېديزې افريقا کيسه]

د افريقا د ځينو قبايلو دود دی، چې کله يو سردار مړ شي، نو د هغه د ځای نيولو لپاره به د دوی مذهبي مشر چې جادوگر به هم و، فال ايستلو.

همدغسې کله چې د يوې قبيلې مشر سردار مړ شو، نو د هغه ديارلسو زامنو کې هر چا غوښتل چې سردار شي .

مذهبي مشر څو ورځې د ستورو د علم او د فال په نيولو خپله فيصله واوروله، چې د سردار تر ټولو کشر زوی "جانولا" به د قبيلې مشر شي. د هغه دوولسو نورو ورونو چې دا واورېدل نو د دې فيصلې پرضد راپاڅېدل. د قبيلې ځينې سپين ږيري چې له دې خبر شول، نو له پخواني دود سره سم يې د سردار کونډې ته مشوره ورکړه، چې د ورونو ترمنځ دې د غشي ويشتلو سيالي اعلان کړي. هرچا چې د نښې منځ وويشت، هغه به سردار وي .

د مړه سردار کونډه گورگو نومېده... هغې د سيالۍ ورځ وټاکله او ټولو زامنو ته يې وويل چې د دې سيالۍ گټونکی به سردار کېږي .

دوولس واړه له دې خبر وو، چې "جانولا" ډېر ښه نښه ويشتونکی دی او دوی به هېڅېرې له هغه دا سيالي ونه گټي. دښپې يې په خپلو کې سلا سره وکړه او "جانولا" يې وتښتاوه .

سهار چې ټول راپاڅېدل نو خبر شول چې د سردار ټول زامن بره غرونوته ختلي دي. د گورگو لپاره يې دا پيغام پرېښی و، چې که د سردار مشر زوی يې د سردار په توگه ونه ټاکلو، نو د "جانولا" سر به ورته راواستوي.

گورگو د غم نه بېحاله وه، د مړه خاوند غم ترې هېر شو او د زامنو په غم کې شوه. نه پوهېده چې څه وکړي. په همدې وخت کې د قبيلې يوه پېغله چې ټامبي نومېده، هغې سره نژدې کښېناسته.

ټامبي د قبيلې د ځوانو جينکو سرسالاره وه. د جانولا سره يې مينه لرله، هغې گورگو ته وويل :

د قبيلې ټول خلك خپه دي، ځکه له کله نه چې سردار مړ شوی دی، زموږ په سيمه کې باران نه دی شوی، که حالات همدغسې وو، نو دلته به سوکړه شي .

گورگو يو سوړ اسوېلی وکړ او ويې ويل :

زه دا هرڅه وينم، خوپه خپلو زامنو مې وس نه رسي. که مشر زوی مې سردار کېږي، نو دا له کشر سره بې انصافي ده.

ټامبي وويل :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د حل لاره لرمه... خو كه ته اجازه راكړې او دعا راته وكړې، نو كامیابه به یمه.

گورگو ترېنه ډېر په ټینگار پوښتنه وكړه چې پلان یې څه و، خو ټامبي نور ورته هېڅ ونه ویل .

گورگو سوړ اسوېلی وكړ او ټامبي ته یې اجازه وركړه.

ټامبي د قبیلې هغه ځوانې نجونې راټولې كړې چې دا به ورسره گرځېده او په ځنگله كې به یې د غشو_ لیندو او د نیزې د ویشتلو لوبې كولې. دوی ټوله ورځ په ځنگله كې تېره كړه. هېڅوك خبر نه وو چې دوی په څه اخته دي. خو گورگو ټولو ته امر كړی و، چې هېڅوك دې په دوی غرض نه لري .

دشپې دوی یوځای ډوډۍ وخوړه او خپلو كورونو ته ورغلې .

د قبیلې ټول خلك په خواږه خوب ویده وو. سپېده چاودې ته لا ډېر وخت پاتې و، چې ټامبي له خپله كوره راووتله، لینده ورسره وه او په لاس كې یې بله شونتۍ نیولې وه. د هغې په رڼا كې یې سترگې لكه د مار ځلېدې .

د هرې جینۍ د كور مخې ته لږه شېبه ودرېده او د خولې شپېلی به یې وواهه. له كوره به د هغې یوه ملگرې د غشو لیندۍ سره راووتله.

كله چې ټولې جنكۍ راټولې شوې، نو د ځنگل هغې برخې ته لاړې، چې ورځ یې پكې تېره كړې وه. هلته د كیلې د پاڼو عجیب و غریب لباسونه چې دوی په خپله جوړ كړي وو، ایښي وو. جینكو ژر ژر دا پاڼې په ځانونو پورې وتړلې، د مخونو لپاره یې هم نقابونه جوړ كړي وو، چې ورباندې د سپینو، ژېړو او سرو رنگونو سره د خیالي ځناور انځورونه جوړ وو. پر چا د مار سترگې او پر چا د كربوړي برېټې جوړې وې. لنډه دا چې كله دې جنكو ځانونه جوړ كړل، نو سمې بلاگانې ښكارېدې .

بره په غره د سردار زامن هم ویده وو، چې ناڅاپه په یوه عجیبه غږ راپاڅېدل. د ښځو د چیغو سره- سره د ډول د غږېدو او د گونگروگانو غږونه هم مله وو. د قیامت شور و، دوی ټولو ژر ژر خپلې غشي لیندۍ راواخیستې او د غږ پر لوري روان شول .

سپېده په چاودېدو وو او په تته رڼا كې دوولسو ورونو ولیدل چې بدمخې بلاگانې د دوی پر لوري رارواني وې. د دوی له خولو عجیبه غږونه پورته كېدل، ځوانان هك پك پرځای ولاړ وو، نابېره په دوی كې یوتن وویل :

دا خو ځنگلي بلاگانې دي، موږ دوی سره نه شو جنگېدلای .

په دې غږ هر یو ورور چې په كومه مخه یې د تېښتې لاره موندله، په منډه شو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو په کې شا ته وکتل، نو دا بلاګانې ورپسې په منډه وې. ده له وارخطايۍ يوې کندې ته ټوپ کړ. د غره په بل لوري د يوې بلې قبيلې خلك اوسېدل. دوی چې غړونه او شور واورېدل، نو له کورونو راووتل. د سردار زامنو دې خلکو ته خواست کاوه چې پناه ورکړي .

بلې خوا ته جنکو يوڅه منډه ووهله، نو ستړې شوې. هملته يې د يوه بل مخونو ته کتل او له خندا شنې وې. ټامبې د "جانولا" په لټه وه، چې په يوځای کې لاس تړلی پروت و. د هغه ځارونکي هم له ځايه تښتېدلي وو .

ټامبې د هغه لاسونه پرانيستل او د نورو جنکو په مرسته يې خپل کور ته راوستلو.

په بله ورځ ګورګو په يوه لوی جشن کې د جانولا د سردارۍ اعلان وکړ او ټامبې ته يې واده کړو. د سردار زامن چې خبر شول، نو بيا له شرمه چېرې هم خپلې قبيلې ته رانه غلل.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## میداس-- [د یونان کیسه]

زرګونه کاله کېږي چې په یونان کې د میداس په نوم یو پاچا حکومت کاوه. د ده خزانه د سرو زرو ډکه وه او سره يې ډېر خوښېدل.

یوه ورځ د خپلې ماڼۍ په باغ کې ناست و، چې نابېره يې یو بوډا سړی مخې ته ودرېده. یونانیانو پخوا په اسطورو او ارواګانو ډېره عقیده لرله او میداس خبر شو، چې دا بوډا سړی سالي ینس نومېده، چې خلکو ته به یې خیر رساوه. میداس د ده په لیدو خوشحاله شو او د ده ښه درنه مېلمستیا يې وکړه. سالي ینس تر لسو ورځو د ده مېلمه و او ډېر ترې خوشحاله شو. کله چې د ده د تګ وخت شو، نو د میداس نه يې پوښتنه وکړه، چې که څه غواړې نو زه به ستا ارمان پوره کړم.

میداس همدغه غوښتل، ورته ویې ویل :

زه غواړم چې ډېر سره زر ولرم. که داسې وشي چې هر شي ته لاس وروړم، هغه دې د سرو زرو شي، نو زه به ډېر خوشحاله واوسم. سالي ینس وخندل او ورته ویې ویل :

ښه فکر وکړه، داسې نه شي چې په خپل ارمان پښېمانه شې .

میداس وویل :

هغه څوک چې دومره سره زر ولري، ولې به پښېمان شي، زما همدغه ارمان دی.

سالي ینس په زوره وخندل او خپله سوټۍ يې راواخیسته او د میداس له سر نه يې درې وارې تاو راتاو کړله او ورته ویې ویل:

ستا ارمان همدا اوس ترسره کېږي.

میداس دومره خوشحاله شو، چې سمدلاسه يې نژدې ایښې څوکۍ ته لاس یووړ. څوکۍ د سرو زرو شوه. بیا يې پر مېز ایښې و لوښو ته وار په وار ګوتې وروړلې او هرڅه په سرو زرو بدلېدل. میداس هومره خوشحاله و، چې هېڅ يې ونه لیدل، چې سالي ینس څه وختي له سترګو پناه شو.

میداس ته دا هرڅه یوه لوبه ښکارېده. په ماڼۍ کې ایښې ډېر شیان يې د سرو زرو کړل. کتابونه، انځورونه، قلم، کرکۍ... بیا داسې وشول، چې دی له ماڼۍ نه بهر د باغ پر لوري لاړو. ګلونو ته يې لاس یووړ، سره ګلاب د سرو زرو شول. د ونوپاڼې شنې پاتې نه شوې. ټول په لمر کې ځلېدل او میداس دې هرڅه ته خوشحال و. تر غرمې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدغسې لګیا و، چې د ډوډۍ وخت شو، نو بهر نه دننه لاړ او په مېز کښېناست، نوکرانو ورته د خوړو ښه ښه شیان راوړل، پاچا ډوډۍ ته لاس کړ، خو ډوډۍ هم د سرو زرو شوه. بیا یې زیتون راواخیستل، خو دا هم د سرو زرو شول، پنیر، غوښه، مېوه هرڅه به په سرو اوښتل. اوس خو دی وارخطا شوو ځکه هېڅ شی یې نه شو خوړلای. د شرابو جام ته یې لاس کړ، خو جام او شراب هم په سرو بدل شول.

میداس ډېر بېزاره شو، نه پوهېده چې څه وکړي. بهر ته د ماڼی باغ ته لاړ او فکرونه یې کول چې ځان به څرنګه مړوي. د سرو زرو شیانو ته ډېر خوشحاله و، خو اوس یې دا خوشحالي ورو- ورو په پرېشانی بدلېده. ده هم دغه چورتونه وهل، چې نابېره د باغ د یوې خوا نه یې ورې لور په ژړا ورته رامنډې کړې. میداس د لور په ژړا خپه شو او پوښتنه یې وکړه چې څه شوي دي. لور ورته وویل:

وګوره، بابا زموږ په باغ کې ټول رنګین ګلان خراب شوي دي. د دوی رنګ چا وړی دی. خوشبویي هم نه لري. د رامبېل سپینې نازکې پاڼې کلکې او ژېړې دي. دا هرڅه چا بدرنګه کړل .

میداس ورته وویل :

دا ګلونه او دا بوټي خو اوس ډېر قیمتي دي. په دې یو ګل ته ځان ته ډېرې ګلدستې اخیستلای شې.

خو شهزادګۍ هم هماغسې ژړل، ویل یې:

زما قیمتي ګل نه دی په کار... زما سپین، سره، کاسني او ګلابي ګلونه په کار دي. زه د ګلونو ورمې غواړمه.

میداس نور د خپلې لور ژړا ته نه شو ټینګېدای. ژر یې ورته پر سر لاس کښېښود چې هغې ته تسلي ورکړي. خو شهزادګۍ د سرو زرو په یو بوت بدله شوه .

پاچا چې د لور دا حال ولید، نو د ډېره غمه یې په سترګو کې اوښکې راغلې. هماغلته کښېناست او په چیغو چیغو په ژړا شو... یوه خبره یې بیا بیا کوله، چې: زما سره زر نه دي پکار.... زه خپله لور غواړمه.

د شاهي ماڼۍ سره نژدې یوه شنه غونډۍ وه او خلکو باور کاوه، چې ټول ارواحان او اسطورې هملته اوسېږي. میداس سمدلاسه دې غونډۍ ته وختلو او سالي ینس ته یې اوازونه کول، چې سترې شو، نو یوې ونې ته یې ډډه ولګوله .

هم دلته وخت سالي ینس ورته مخې ته ودرېده او پوښتنه یې ترې وکړه، چې ولې داسې غمژن یې .

میداس د ډېر غم او ستړیا نه خبرې نه شوې کولای. سالي ینس ورته بیا وویل :

تا سره خو ډېر سره زر دي.. نو ولې ژاړې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



میداس ورته په پښو پرېوتو او ویې ویل :

تا رښتیا ویلي وو، زه پښېمانه یم... زه د دنیا هر یوشی د سرو زرو زغملای شم، خو خپله لور... خپله نازولې لور د سرو زرو د بوت په څېر نه شم لیدلای. زما د هغې خندا، د هغې خبرې یادېږي. زه په خپټه وږی یم. خو هېڅ شی خولې ته نه شم اچولای. زه حریص وم... خو زه اوس پوه شوم چې په ژوند کې سره زر هرڅه نه دي. زه له تا ډېره ښښنه غواړم، خو اوس له ما نه قدرت بېرته واخله، زه د یوه عام انسان په شان ژوند غواړم.

سالي ینس ورته وویل :

ډېره ښه ده، چې تا په خپله سزا وموندله او په خپلو کړو پښېمان یې .

بیا یې ورته د درېدو امر وکړ. میداس د هغه له پښو راپاڅېد. نو سالي ینس د غونډۍ بلې خوا ته بهېدونکي سیند ته اشاره وکړه او ویې ویل :

دا سیند پیکټوس نومېږي. ورشه او د دې په اوبو کې ځان ووینځه. بیا په یوه منګي کې د دې اوبه راواخله او په ټولو هغو شیانو یې وشینده، چې د سرو زرو شوي دي .

میداس په منډه د سیند پر لوري لاړ او د دې اوبو ته یې ټوپ کړل. ځان یې ووینځلو او بیا یې یو منګی راوغوښتلو، هغه یې د سیند له اوبو نه ډك كړ او خپل باغ ته لاړ، دا اوبه یې پر خپلې لور وشیندلې، هغه بېرته ژوندۍ شوه.

نو پاچا ښکل کړه او بیا یې نورې اوبه پر ګلانو او بوټو واچولې، چې هرڅه بېرته خپل اصلي حالت ته وګرځي .

په یونان کې د پیکټوس نومي سیند شګه زرینه ده او خلك باور لري چې په دې کې میداس لمبلي وو، نو ځکه یې رنګ داسې دی.

Download from: ketabton.com

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library